٣

شمیر پوهنه

د ښوونځي لپاره

(ریاضي په درې برخو کې)

دریمه برخه

لیکونکی:
برینکمن (له برینکمن ن ج څخه)
ژباړې: ډاکتر ماخان (میرې) شینواری

شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره

(رياضي په درې برخو کې)



دریمه برخه

لیکونکی: پروفیسربرینکمن(له برینکمن ن ج څخه)

ژباړی: ډاکتر ماخان (میږی) شینواری

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

کتاب پيژندنه

د کتاب نوم: شميرپوهنه دښوونځي لپاره

ليکونکی: پرفيسور برينکمن

ژباړی   :   ډاکتر ماخان،، ميرې،، شينواری

makhanshinwari@gmail.com

د خپريدو لړۍ

خپرندوی: د افغانستان کلتوري ودې ټولته

جرمني

چاپ کال   ۲۰۱۲

چاپ چارې   دانش خپرندويي ټولنې تخنيکي څانګه

WWW.danishpress.com

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیواولو ته وړاندې کړي دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګڼه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګواښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګواښونو په وړاندې به په نره ودریږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیې له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وېښت شمیر پوهنې نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دی، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کته ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

د ژباړې مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لرې. ماته د دوي د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهنې توانمندې ، مګر وروسته پاتې ژبې ويونکي ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمنې، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونډه هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي ډيپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي ډيپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترمانوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي ډيپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسې زما د ملګري اروابناد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډيپلوم انجنير او ډيپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر ځانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپری څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړي.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي ښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسې مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار ۲۰۱۲ ز ک

نیولیک

.

.

.

.

.

.

.

.

الف

د ژباړې سريزه

ګرانو هيوادوالو او د شميرپوهنې مينه والو!

د ا څو کاله د مخه د ځنو شميرپوهنيزو کلمو په لټه کې د برينکمن د ن ج سره مخامخ شوم. دا چې دې ليکنې ښه خوندويونه يا متن درلود او زيات تمرينونه د حل سره، نو ما وبتيله، چې دا به پښتو ته اړوم. دا يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې زده کوونکي ښوونکي او داسې لړ د شميرپوهنې سره بلد ميندې او پلرونه ترې ګټه اخستلى شي. په دې ليکنه کې هر څه خورا ښه روښانه شوي دي او په مختلفو بيلګو سمبال دي د حلونو يا اوبيونو سره، چې لوستنه يې هر د شميرپوهنې مينه وال لپاره د پيرځوينې وړ بولم.

کتتاب په درې برخو کې چاپيږي، چې هره برخه يې يوه خپلواکه او د يوې ځانګړې برخې خونديونه لري. زه په دې باور لرم، چې د شميرپوهنې مينه وال دا کارداسې لړ په غور وګوري، نو زر به ورسره مينه پيدا کړي.

دا کتابونه هم د هغو ۲۵ رياضي کتابونو لړۍ ده، چې ما چاپ ته چمتو کړي دي، خو نه پوهيږم، چې څو دا نور به ترې کله چاب شي. که څه پاتې شو، نو هغه به د دې کتابونو سره ن ج ته پورته کړم.

ګرانو لوستونکو!

دا زموږ د هيواد اړتيا لپاره په پوهنيزه اړخ کې په سره تيره اوبه تويول دي. دا کتابونو، چې کوم چې چاپيږي د زر دانو يا پنځه سوه څخه به نه اوړي، نو د يوه پنځوس ميليونه کمو زيات ولس لپاره زردا نې چې چاپيږي، دا خو اصلاً په شمير کې نه راځي،خو دا به په خروار ګڼو.
په لومړي کتاببرخه کې ځمککچپوهنه يا هندسه ورسره مل ده او په دويمه کتاببرخه کې مې وکتور شميرنه ورسره زياته کړې.

دریمه کتاببرخه مشتق او انتیګرال ته ځانګړې شوې.

ګرانو لوستونکو!

د برینکمن د لیکنو لړۍ د شمیرپوهنې په څانګه کې د ښوونځیو لپاره نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره رازباړلې.

دا احصایه یا ستاتیستک دی او د احتمالوالې شمیرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته یې تاسو ته ژباړه وړاندې کیږي، هم په زیاتو تمرینونو، اود دوی په اوبیونو یا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې لیکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کیږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهیدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوې.

ګرانو هیوادوالو!

داچې ما یوځای یا نوره هم ښه په یوه وار ډېر کار را ونیوه، نو هرومرو به ناټیکاوې زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وې، خو دا به داسې ناټیکاوې نه وي، چې شمیرپوهنیزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې امله له ستاسو څخه زما په ستونځو پوهیدلو له امله زیاته مننه.

په دې هیله ، چې زما په غوښتنو او ستونځو به و پوهیږې په دې لیکنو او ژباړه کې ما ته هیڅ مادې ګټه نه شته. دا دې په ما زموږ د بې وزلې ولس د ډېر مصرف(لګښت) په هکله د یوې کوچنۍ پیرزوېنې په حیث وړاندې وي

مننه:

له هر څه د مخه د دې لکچرونو لیکنو لیکونکو شمیرپوهانو یعنې ستر پروفیسور بریکمن څخه زیاته مننه، چې د لیکنو څخه بهیې زموږ ولس هم ګټه پورته کړې.

دفرنځیالشمیرنه (مشتق یا رابیلیدنه)

ننوتنه او بنسټونه

جګیدنه او تانجنت:

په یوه ټکي کې د تابع د ګراف میل(جګیدنه)

په الوتکوکې د الوتنې دلیک(الوتنلیک) الې (Flight barogramm)جوړې دي، چې تل د الوتنې جګوالی د الوتنې د وخت په واک کې یا د وخت تابعیت کې رسموي او په هر جګوالي کې د هوا فشار هم لیکي. که دا په پښتو واړوو، نو د لیک بکس به ورته ووایو.



په پورته ګراف کې د یوې الوتکې د الوتنې د بیلا بیلو وختونوجګوالی ښوول شوی.

-ایا فکر کوئ، چي په ټکي B کي نسبت و ټکي A ته جګوالی زیات دی؟
-ایا فکر کوئ، چي د E او G په ټکو کې جګوالی منفي دی؟ دلته د E په ټکي کې د ارزښت له مخي جګوالی زیات دی نسبت د G ټکي ته؟

-ایا د یوې کرښي او منحني جګوالی هرچیرته توپیر لري او که نه ؟

لاس ته راوړنه :

۱ - ګورو، چي په یوه منحني کې د ګراف جګوالی هرچیرته برابر نه دی، نو له دې امله باید ټکی په ګوته کړو، چي هلته میل څیړل کیږي.

۲ - په لاندې بېلګه کې به روښانه کړو، چي تنها د یوې (سیده)کرښي میل هرچیرته برابر دی، نو له دې امله دلته د یوې کرښي د میل یا جګوالي څخه غږیږو.

بریښي چي لاندې پېژند یا تعریف هوښیارانه یا عاقلانه دی:

پېژند (تعریف): د یوې تابع ګراف میل (جګوالی) د P په یوه ټکي کې په همغه ټکي د تانجنت د میل د ګراف سره برابر دی	

لیدل کیږي چي دلته یو تانجنت د کرښي تعریف لري، چي د لمستکي(مماس) په چاپیریال کې د امکاناتو سره سم د مماس ټکي ته ښه ور نږدې کیږي.

ددې پېژند یا تعریف له مخې په یوه ټکي کې د یوه ګراف میل(جګیدنه) د یوې کرښي میل دی.

د ګراف د جګیدني ټاکلو لپاره د A اوB په ټکو هر یوه کې یوه کرښه (تانجنت) انځوروو، چي ګراف ته خورا زیاته نږدې کیږي.

د میل یا جګیدني مثلث په مرسته جګیدنه په ښدل یا ساده ډول شمیرل کیدی شي:



د A په ټکي کي جګیدنه :

$$\frac{100\text{ m}}{10\text{ min}} = 10\,\frac{\text{m}}{\text{min}}$$

د B په ټکي کي جګیدنه :

$$\frac{195\text{ m}}{10\text{ min}} = 19{,}5\,\frac{\text{m}}{\text{min}}$$

زمونږ د بیلګي لپاره میل یا جګیدنه په یوه ټاکلي ټکي کي د لحظوي (سملاسي) میل د چټکتیا (سرعت) په معنا دی.

دA په ټکي کي : د الوتني وخت نږدې $12{,}5$ min ، د میل یاجګیدني چټکتیا(سرعت) نږدې $10\,\frac{m}{\text{min}}$ ده

د B په ټکي کي : د الوتني وخت نږدې $23{,}0$ min ، د جګیدني چټکتیا(سرعت) نږدې $19{,}5\,\frac{m}{\text{min}}$ ده.

تانجنت تر اوسه فقط د لیدني له مخي تعریف شوی ، چي د لمستکي چاپیریال ته خورا ډېر نږدې کیږي. له دي امله ممکن وه، چي د ګراف میل د A اوB په ټکو کي هم یواځي په نږدې ډول وټاکل شي، دا په عمل کي د قناعت وړ نه دی یا بسیا نه کوي.

په یوه ټکي کي د تابع دګراف میل (جګیدنه):

معلومه ده ، چي یو ریلګاډی د تمځای څخه له خوزېدو(حرکت)وروسته خپله چټکتیا(سرعت) په ورو ورو (کراره کراره) زیاتوي.وهلي لار(د تمځای څخه لرېوالی) تل زیاتیږي. د تمځای څخه لریوالی د چټکتیا یا سرعت په واک کي ده .



دا عمل د لاندې تابعمساوات له لارې ليکلی شو.

دلته د x وخت د ثانيې او د s لار د متر لپاره ليکو $s = f(x) = 0{,}5x^2$

مخامخ : د تابع ګراف

اوس بايد منځنی ارزښت(منځنی چټکوالی) Averagerat of change د ۳ ــمي او ۷ ــمي ثانيی ترمنځ وشميرل شي.

ددې لپاره اړونده سيکانت انځوروو او د هغې چټکوالی شميرو.

اوس دې د تغير ارزښت (منځنی چټکوالی) د ۳ ــمي او ۴ ــمي ثانيو ترمنځ وشميرل شي.

په دريمه ثانيه کې د ارزښت تغير يا چټکوالی څومره دی؟



د منځنی چټکوالي داسې مخ ته بوزی، چې د تکو P_0 او P_1 ترمنځ واټن تل کوچنی شي، داسې چې تکی P_1 د تکي P_0 په لور وخوزيږي.

د ۳ –مې او ۷-مې دقیقې ترمنځ منځنی تغیرارزښت (جګوالی)دی:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(7) - f(3)}{7-3} = \frac{24{,}5 - 4{,}5}{7-3} = \frac{20}{4} = 5$$

د ۳ –مې او ۴ –مې دقیقې ترمنځ منځنی تغیرارزښت(منځنی جګوالی) دی:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(4) - f(3)}{4-3} = \frac{8 - 4{,}5}{4-3} = \frac{3{,}5}{1} = 3{,}5$$

دریمې دقیقې ته د ورنږدې کیدنې شمیرنه

Intervall $[3;x]$	$[3;4]$	$[3;3{,}1]$	$[3;3{,}01]$	$[3;3{,}001]$
$\Delta x = x - 3$	1	0,1	0,01	0,001
$\Delta y = f(x) - f(3)$	3,5	0,305	0,03005	0,0030005
$\frac{\Delta y}{\Delta x}$	3,5	3,05	3,005	3,0005

پورته شمیرنه په ګوته کوي، چې که ټکی P_1 د ټکي P_0 په لور وخوزیږي یا ورنږدې شي، نو د تغیر ارزښت(جګیدنه) تل زیاته و ارزښت ۳ ته ورنږدې کیږي.

موږ په دې توګه یو ارزښت لاس ته راوړو، چې لحظوي تغیرارزښت (لحظوي جګیدنې) ته تل ورنږدې کیږي.

که موږ فیزیکي لویي (واحدونه یا یوونونه) په خپله بیلګه کې وکاروو، نو د تغیرارزښت (جګوالي) لپاره m/s باور لري . دا د چټکتیا لپاره یوون(واحد) دی

دا په دې مانا دی،چې د لار-وخت دیاګرام چټکتیا (سرعت) په ګوته کوي.

لحضوي یاسترګو رپ تغیرارزښت شمیرلو ته شمیرنیزه تګلار

د $f(x) = 0,5x^2$ لپاره په اینتروال $[3;\Delta x]$ کې منځنی تغیر ارزښت(جګوالی)

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(3+\Delta x) - f(3)}{\Delta x} = \frac{0,5(3+\Delta x)^2 - 0,5\cdot 3^2}{\Delta x} = \frac{0,5\left[9 + 6\Delta x + (\Delta x)^2\right] - 0,5\cdot 9}{\Delta x}$$

$$= \frac{0,5\cdot 9 + 3\Delta x + 0,5(\Delta x)^2 - 0,5\cdot 9}{\Delta x} = \frac{\Delta x(3 + 0,5\Delta x)}{\Delta x} = 3 + 0,5\Delta x$$

دا $3+0,5\Delta x$ د منځنی تغیرارزښت دی

که اوس Δx تل کوچنی شي، موږ وایو که Δx د صفر په لور وهڅیږي یا لاړشي یعني ($\Delta x \to 0$) ،نو د منځنی تغیر ارزښت $3+0,5\Delta x$ د3 په لور ځي یا هڅیږي.

دا نو اوس لحظوي (د سترګو رپ) تغیرارزښت دی د x_0 په ځای کې.

د دې لپاره لیکو : د $\Delta x \to 0$ لپاره باور لري: $3+0,5\Delta x \to 3$

یا $$\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x\to 0}(3+0,5\Delta x) = 3$$

پوښتنې

1 - کیمیاوي تعامل د مختلفی چټکتیا سره صورت نیسي. د بیلګی به توګه که که ځینک د مالګی به تیزابو کی وچول شئ، نو هایدروجن تری ترې راوځي یا رامنح ته کیږیز لاندې جدول د هایدروجن سټ یا مقدار ورکوي، چې د وخت په واک کې دی یا تابع دي.

وخت پهS	2	4	6	8	10	12
د اوبو سټ یا مقدار په ملي لیترml	21	30,5	35,5	40,5	42,5	43

الف- د دې لپاره یو دیاګرام وکاږئ.

ب – د هایدروجن تولید په هکله څه وینا کیداي شئ؟

پ - په لاندې انتروالونو کې د تغیر ارزښت وشمیرئ.
$[\ 2\ ;\ 4\ ]\ ;\ [\ 4\ ;\ 8\ ]\ ;\ [\ 8\ ;\ 12\ ]$

دویم - د $f(x)=\frac{1}{4}x^2-x+1$ ؛ تغیر ارزښت په انتروالونو $[1;1,5];[-4;-2,5];[2;t]$ کې

د $t\ t\neq 2;[3;3+h]$ او $h>0$ سره وشمیرئ.

دریم - تابع $f(x)=\frac{3}{4}x^2-3x$ ؛ ورکړ شوې

الف – د $f(x)$ منځنی تغیرارژښت په انتروال $I=[2;5]$ وشمیري.

ب - د $s(x)$ سیکانت مساوات په $P\ (\ 2\ |\ f(2)\ )$ او $Q\ (\ 5\ |\ f(5)\ )$ ټکو کې وټاکئ.

پ _ د $f(x)$ لحضوي تغیرارزښت د $x=2$ په ځاي کې وشمیرئ.

ت - د $f(x)$ او $s(x)$ګرافونه په وضعیه قیمتسیستم کې وکاږئ

څلورم - یو جسم په ازاده غورځولو کې داسې حرکت کوي، چې په t وخت کې $S(t)=5.t^2$ لار وهي(S په ړتر او t دقیقه).

پنځم – یو تولید له خپل جمتووالي وختت څخه وروسته سړیږي.

تمپراتور(تودوخي) $T(t)=20+70e^{-0,1t}\ ;\ t\geq 0$ (t په دقیقو، $T(t)$ په څلزیوس درجې)

د سړیدو مخته تګ وشمیرئ.

ځیره د تابع $T(t)$ ګراف ښايي.



الف – له کوم حرارت څخه مخ ته ځو؟

ب – فیریني کوم حرارت لري، که یخه شي؟

پ – په کوم وخت کې چټکتیا(سرعت) ، د هغې سره چې فیریني یخیږي ، خورا لویه ده.

ت _ په لومړیو لسو دقیقو کې د منځني تودوخې تغیر وشمیرئ.

مفصل حلونه

دلومړي مفصل حل الف –



ب – د هایدروجن تولید د وخت به واحد کی تل کمیږي پ - تغیر اریښت $\frac{\Delta y}{\Delta x}$

$$[2;4]: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{30,5-21}{4-2} = 4,75$$

$$[4\,;8]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{40,5-30,5}{8-4}=2,5$$

$$[8\,;12]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{43-40,5}{12-9}=0,625$$

I	[2 ; 4]	[4 ; 8]	[8 ; 12]
$\frac{ml}{s}$	4,75	2,5	0,625

دویم – د $f(x)=\frac{1}{4}x^2-x+1$ منځنی تغیر اربښت $\frac{\Delta y}{\Delta x}$:

$$[1;1,5]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(1,5)-f(1)}{1,5-1}=\frac{\frac{1}{16}-\frac{1}{4}}{\frac{1}{2}}=\underline{\underline{-\frac{3}{8}}}$$

$$[-4\,;-2,5]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(-2,5)-f(-4)}{-2,5-(-4)}=\frac{\frac{81}{16}-9}{\frac{3}{2}}=\underline{\underline{-\frac{21}{8}}}$$

$$[2\,;t]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(t)-f(2)}{t-2}=\frac{\frac{1}{4}t^2-t+1-\left(\frac{1}{4}\cdot 2^2-2+1\right)}{t-2}=\frac{\frac{1}{4}t^2-t+1}{t-2}$$

$$=\frac{\frac{1}{4}\left(t^2-4t+4\right)}{t-2}=\frac{\frac{1}{4}(t-2)^2}{t-2}=\underline{\underline{\frac{1}{4}(t-2)\ \text{für}\ t\neq 2}}$$

$$[3\,;3+h]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(3+h)-f(3)}{3+h-3}=\frac{\frac{1}{4}(3+h)^2-(3+h)+1-\left(\frac{1}{4}\cdot 3^2-3+1\right)}{h}$$

$$=\frac{\frac{1}{4}\left(9+6h+h^2\right)-3-h+1-\frac{9}{4}+3-1}{h}=\frac{\frac{1}{2}h+\frac{1}{4}h^2}{h}=\underline{\underline{\frac{1}{2}+\frac{1}{4}h}}$$

دریم : الف_ $f(x)=\frac{3}{4}x^2-3x$ منځنۍ تغیر ارزښت به $[2;5]$ کې دی

$: \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(5)-f(2)}{5-2}$

$$f(5)=\frac{3}{4}\cdot 25-3\cdot 5=3{,}75 \quad f(2)=\frac{3}{4}\cdot 4-3\cdot 2=-3 \quad \Delta x=5-2=3$$

$$\Rightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{3{,}75-(-3)}{3}=\frac{6{,}75}{3}=\underline{\underline{2{,}25}}$$

ب – د s(x) سیکانت مساوات چې لهP او Q ټکو تیریږي، تیک همداسې شمیرل کیږي، لکه کرښه چې له دوه ټکو تیریږي.

P(2;f()) د a) له امله P(2;-3) لاس ته راځئ

Q(5;f(5)) د a) له امله Q(5;3,75) لاس ته راځئ

$s(x)=a_1\cdot x+a_0$ د $: a_1=\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(5)-f(2)}{5-2}=2{,}25$: سره د (aپوښتنبرخه هم وګورئ:

$$\Rightarrow s(x)=2{,}25x+a_0$$

$$P(2|-3): s(2)=-3 \Leftrightarrow 2{,}25\cdot 2+a_0=-3 \Leftrightarrow a_0=-7{,}5$$

$$\Rightarrow s(x)=2{,}25x-7{,}5$$

د تانجنت جګوالی

پ- لحضوي تغیرارزښت د x = 2 په ځاي کې:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{\frac{3}{4}(2+\Delta x)^2-3(2+\Delta x)\underbrace{+3}_{-f(2)}}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{3}{4}\left[4+4\Delta x+(\Delta x)^2\right]-6-3\Delta x+3}{\Delta x}=\frac{3+3\Delta x+\frac{3}{4}(\Delta x)^2-6-3\Delta x+3}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{3}{4}(\Delta x)^2}{\Delta x}=\frac{3}{4}\Delta x$$

منخنی تغئیرارزښت په انتروال $[2;\Delta x]$ کې.

د $\Delta x \to 0$ لپاره دی: $\frac{3}{4}\Delta x \to 0$

د$f(x)$ لحضوي تغيرارزښت د $x = 2$ په ځای کې 0 دی



ت-

ځلورم - لحضوي جټکتيا يا سرعت د لحضوي تغير ارزښت سره په يوه معنا دی.

$$t=1:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{s(1+\Delta x)-s(1)}{\Delta x}=10+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره صدق کوي: $10+5\Delta x \to 10$

$$t = 2:\ \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{s(2+\Delta x)-s(2)}{\Delta x} = 20+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره صدق کوي. $20+5\Delta x \to 20$

$$t = 3:\ \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{s(3+\Delta x)-s(3)}{\Delta x} = 30+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره صدق کوي. $30+5\Delta x \to 30$

پنځم – الف- پیلتودوخي کيدی شي له $90\ {}^0C$ ګراف څخه ولوستل شي.

ب- تابع ارزښت اسيپتوتيکي د ارزښت^0C 20 په لور هڅيږي يا ځي.

پ-د سړيدنې چټکتيا په پيل کې خ ورا لويه وي.

ت- $$[0;10]:\ \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{T(10)-T(0)}{10-0}$$

د $T(10) = 20+70\cdot e^{-0,1\cdot 10} \approx 45,75$ und $T(0) = 20+70\cdot \underbrace{e^{-0,1\cdot 0}}_{1} = 90$ سره

کيږي: $\frac{\Delta y}{\Delta x} \approx \underline{\underline{-4,425}}$

کميزه يا منفي مخنخښه په دې معنا ده، چې تغيرقيمت منفي دی، د فيريني تودوخي کميږي.

کمښت وېش(تفاضلوېش) او مشتق يا رابيليدنه

د غوڅووني(تقاطع) جګوالي څخه د تانجنت جګوالي ته

<table>
<tr>
<td>يو تابع $y = f(x)$ او اړونده ګراف دې ورکړ شوی وي.

كه د تابع جګيدني حالت په پام كې ونيسو ،نو ګورو چې د تابع جګيدنه په نږدې ټولو ټكو كې توپير لري.</td>
<td>
</td>
</tr>
<tr>
<td>يوه ثابته جګېدنه، لكه په كرښيز يا لاينيز تابع $f(x) = a_1x + a_0$ ا كې د
$$a_1 = \frac{\Delta y}{\Delta x} = konstant$$</td>
<td>
</td>
</tr>
<tr>
<td>په زياتو وختونو اړيينه ده ، چې د تغيرحالت(د جګېدني حالت) كې د تابع د تلني حالت و څېړو.

نو له دې امله لحظوی چټكتيا(همغه وختيزه – يا سملاسي) $v(t_0)$ په لار- وخت دياګرام كې وڅېړو.

د مشتقشمېرني په مرسته دا پرابلم حل كېدی شي.

د يوه تابع د جګيدني ټاكنه په يوه د مخه وركړ شوي ځای كې differenzieren د مشتق نيونه بلل كيږي.</td>
<td>

<table>
<tr><td>$t_0 \triangleq$</td><td>په پام كې نيولی ستركو رپ</td></tr>
<tr><td>$s_0 \triangleq$</td><td>تر دې ستركو رپ پورې وهلې لار</td></tr>
</table></td>
</tr>
</table>

يو تابع $y = f(x)$ او د هغه ګراف دې ورکړ شوی. په ټکي $P_0(x_0 | y_0)$ کې ورکړ شوی وي. ددې جګوالی پيداکړی شي.



ددې پرابلم د حل لپاره داسې مخ ته ځو، چې لومړی جګوالی په نږدې توګه (تقريبي) پيدا کوو.

ددې لپاره يو بل ټکی $P_1(x_1 | y_1)$ د P_0. ټکي په نزدې کې ټاکو.

کرښه، چې دواړه ټکي سره تړي ،يعني سيکانت، يو جګوالی ښايي، چې د ټکو P_1 او P_0 ترمنځ د تابع ،،منځنی جګوالی،، په ګوته کوي.

دا د جګواليمثلث له لارې ټاکل کيږي.



$$\tan \alpha_s = a_s = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_1 - y_0}{x_1 - x_0}$$

$\alpha_s \triangleq$	جګېدو کونج
$a_s \triangleq$	جګېدوضريب

که ټکی P_1 د ټکي P_0 په نزدې کې وټاکو يا ځای په ځا ی کړو، نو دا په ټکي P_0 کې د تابع دنوي سيکانت جګوالی دی چې بايد پيدا شي. که دا کار (تلنه) تل مخ ته بوزو، او ټکی P_1 تل و ټکي P_0 ته ورنزدې کړو، نو د پولې حالت په څېر يوه کرښه منځ ته راځي، چې د تابع ګراف په ټکي P_0 کې لمسوي.

د تانجنت جګېدنه په ټکي P_0 کې ټيک د تابع د ګراف جګېدنه په ټکي P_0 کې ښايي.



د تانجنت د جګوالي (میلان -) کونج	α_t =
د تنجنت د جګوالي ضریب	a_t =

داحالت یا تلنلار کیدی شي د ریاضي له لاري د پوله ارزښت جوړولو په څیر افاده شي.

$$\lim_{P_1 \to P_0} \alpha_s = \alpha_t \qquad \lim_{P_1 \to P_0} a_s = a_t$$

کمښتویش(تفاضلوېش) Difference quotient) او مشتق

د سیکانت جګیدنه (منځنی تغیر ارزښت)

$$a_s = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_1 - y_0}{x_1 - x_0} = \frac{f(x_1) - f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Delta x = x_1 - x_0 \Rightarrow x_1 = x_0 + \Delta x$$

د x لپاره د مساوات ښی خوا ځای په ځای کوو

$$a_s = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$$

د تنجنت جګیدني سره د پوله ارزښت (حد) له لاري لرو

$$a_t = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x} = f'(x_0)$$

دا مشتق یا لحظوي – د سترکو رپ تغیر ارزښت دی

یا لنډ
$$a_t = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta y}{\Delta x} = f'(x_0)$$



په ورته توګه د کمښت ویش یا د تفاضل ویش Difference quotient تر څیرني لاندې نیسو:

د یوې کرښې میل یا جګیدنه بې له مشتق نیوني ټاکلکیدی شي.
کرښه $y = f(x) = mx + a$ لرو.
د دې کرښې د جګیدنې فرمول په لاندې ډول دی:

$$m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_1 - y_0}{\Delta x} = \frac{f(x_1) - f(x_0)}{\Delta x} = \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$$

پیژند (تعریف):

دفرنځیالوېش(کمښتوېش)

د x_0 په ځای کې د تابع $f(x)$ مشتق یا رابیلیدنه بلل کیږي

تعریف (پیژند):
د تابع لومړی مشتق یا رابیلیدنه دx_0 په ځای کې دتانجنت جګیدنه ورکوي، چې د تابع ګراف یې په ټکي $P_0(x_0, y_0)$ کې لمسوي او له دې سره غبرګ د تابع د ګراف جګیدنه ده په ټکي $P_0(x_0, y_0)$ کې. دا سړی د تابع جګیدنه هم بولي.

تانجنتجګیدنه په ټکي $P_0(x_0, y_0)$ کې

د x_0 په ځای کې د تابع مشتق او د مشتق تابع

د x_0 په ځای کې د تابع مشتق یعنې څه؟

ددې د روښانه ونې لپاره د لاندې بیلګې څخه کار اخلو

بیلګه:
تابع $y = f(x) = x^2$ دې ورکړ شوې وي.

غوارړو د $x = x_0$ په ځای کې او په ځانګړي توګه د $x_0 = 2$ په ځای کې د هر څه لومړی کمبنتويش(د تفاضل وېش) پيداکوو.

$x = x_0:$ $\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$ $\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{(x_0+\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x}$	$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{x_0^2 + 2x_0\Delta x + (\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x}$ $\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{2x_0\Delta x + (\Delta x)^2}{\Delta x} = 2x_0 + \Delta x$

اوس د ليميټ د لاس ته راوړلو له لارې د مشتق ضريب ته راځو:

$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0}(2x_0 + \Delta x) = 2x_0$$

نو $\underline{\underline{f'(x_0) = 2x_0}}$ لرو او د $x_0 = 2$ لپاره $f'(2) = 2\cdot 2 = 4$ باور لري.

د $x_0 = 2$ په ځای کې د تابع $y = f(x) = x^2$ لومړی مشتق په 4 برابر دی، دا په دې معنی چې تابع د $x_0 = 2$ په ځای کې ميل ياچګوالی 4 لري.(لاندې تکرار شوې)

اوس د ليميټ د لاس ته راوړلو له لارې د مشتق ضريب ته راځو:

$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0}(2x_0 + \Delta x) = 2x_0$$

نو $\underline{\underline{f'(x_0) = 2x_0}}$ لرو او د $x_0 = 2$ لپاره $f'(2) = 2\cdot 2 = 4$ باور لري.

د $x_0 = 2$ په ځای کې د تابع $y = f(x) = x^2$ لومړی مشتق په 4 برابر دی، دا په دې معنی چې تابع د $x_0 = 2$ په ځای کې ميل ياچګوالی 4 لري.

لاس ته راوړنه يې:

پايله يا لاس ته راوړنه يې کيدی شي، د تابع د ګراف له لارې و ازمايل شي، په داسې ډول چې د $P_0(x_0 | y_0) = P_0(2|4)$ په ټکي کې تانجنت انځور کړو او د ميل د مثلث له لارې جګيدنه لاس ته راوړو.

لکه پورته بېلګه کې: $y = f(x) = x^2$ په هر خوښه ځای x_0 کې تابع پيداکوو:

$$y = f(x) = x^2 \Rightarrow f'(x_0) = 2x_0$$

x_0	-2	-1	0	1	2
$f'(x_0)$	-4	-2	0	2	4

لاندې ګراف وګورئ: ګراف يوه کرښه $f'(x) = 2x$ انځوروي، چې د تابع مشتق بلل کيږي(مخامخ ځيره)



پام:
که د يوې تابع مشتق ونيول شي، نو بيرته يوه تابع ترې لاس ته راځي، چې دا د مشتق تابع بللکيږي.



د مشتق تابع:
د تابع ارزښتونه په هر ټکي کې بنسټ تابع انځوروي، له دې امله دا د ميل تابع هم بلل کيږي.

بېلګه:
د $f(x) = x^3$ تابع دې ورکړ شوې دی.
فعاليت: ګران لوستونکي دې د $f(x) = x^3$ تابع او د تابع د مشتق ګراف وروسته له حله رسم کړي.
موږ غواړو په x_0 ټکي کې مشتق پيدا کړو او همداسې د مشتق تابع.

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{(x_0+\Delta x)^3-x_0{}^3}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{x_0{}^3+3x_0^2\Delta x+3x_0(\Delta x)^2+(\Delta x)^3-x_0{}^3}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{3x_0^2\Delta x+3x_0(\Delta x)^2+(\Delta x)^3}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\Delta x(3x_0^2+3x_0\Delta x+(\Delta x^2))}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=3x_0^2+3x_0\Delta x+(\Delta x^2)$$

$$f'(x)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(3x_0^2+3x_0\Delta x+(\Delta x)^2=3x_0^2$$

نو $\underline{\underline{f'(x_0)=3x_0^2}}$ د تابع $f(x)=x^3$ مشتق دی په ځای یا ټکي x_0 کې.

د مشتق تابع داسي ده: $\underline{\underline{f'(x_0)=3x_0^2}}$



د وضعیه کمیاتو - یا پروت ولاړ سیستم کې تابع او د تابع مشتق:
تابع(سوررنګه):
$f(x)=x^3+x^2-4x-1$
د تابع مشتق(شین):
$f'(x)=3x^2+2x-4$ ، چې بیرته د مشتق یا د میل تابع ده.

بیلګه۳:

ورکړ شوې تابع $f(x)=\frac{1}{x}$

غوښتونی: د x_0 په ځای کې د مشتق تابع

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\frac{1}{x_0+\Delta x}-\frac{1}{x_0}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\frac{x_0}{x_0(x_0+\Delta x)}-\frac{(x_0+\Delta x)}{x_0(x_0+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\frac{x_0-(x_0+\Delta x)}{x_0(x_0+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\frac{x_0-x_0-\Delta x}{x_0(x_0+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\frac{-\Delta x}{x_0(x_0+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{-\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot x_0(x_0+\Delta x)}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{-1}{x_0(x_0+\Delta x)}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=-\frac{1}{x_0^2+x_0\cdot\Delta x}$$

$$f'(x_0)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(-\frac{1}{x_0^2+x_0\cdot\Delta x}\right)=-\frac{1}{x_0^2}$$

نو $f'(x_0)=-\frac{1}{x_0^2}$ د x_0 په ځای کې مشتق دی

د مشتق تابع ده: $\underline{f'(x)=-\frac{1}{x^2}}$

بیلګه ۴ : یوه تابع $f(x)=\sqrt{x}$ دې ورکړ شوې وي.

د x_0 په ځای کې د تابع مشتق پیداکړی او د مشتق تابع.

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\left(\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0}\right)\cdot\left(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}\right)}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}\right)}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{x_0+\Delta x-x_0}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}\right)}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot\left(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}\right)}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}}$$

$$f'(x_0)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}}\right)=\frac{1}{\sqrt{x_0}+\sqrt{x_0}}=\frac{1}{2\sqrt{x_0}}$$

نو $f'(x_0)=\frac{1}{2\sqrt{x_0}}$ د x_0 په ځای کې د پورته تابع مشتق دی

او د مشتق تابع $f'(x)=\frac{1}{2\sqrt{x}}$ دی.

د $f(x)=x^q$ ډول توابعو مشتق د $q\in\mathbb{Q}$ سره.

د شمیرنې په بنسټ مو تر اوسه دا لاندې تر لاسه کړي:

تابع	د مشتق تابع	
$f(x)=x$	$f'(x)=1$	$f'(x)=1\cdot x^0$
$f(x)=x^2$	$f'(x)=2\cdot x$	$f'(x)=2\cdot x^1$
$f(x)=x^3$	$f'(x)=3\cdot x^2$	$f'(x)=3\cdot x^2$
$f(x)=\frac{1}{x}=x^{-1}$	$f'(x)=-\frac{1}{x^2}$	$f'(x)=-x^{-2}$
$f(x)=\sqrt{x}=x^{\frac{1}{2}}$	$f'(x)=\frac{1}{2\sqrt{x}}$	$f'=\frac{1}{2}x^{-\frac{1}{2}}$

که دا پورته پنځه قوانین یو د بل سره پرتله شي، نو کومان ترې لاس ته راځي، چې دا لاندې قوانین به باور ولري:

د توان قانون بې له ښووني

لومړی: زاړه ضریبونه د ضریب یا فاکتور په حیث د x کینې لور (په غربي ادبیاتو کې ورته وايي: ترمخ) ته ولیکی

دویم: نوی اکسپوننت هغه زوړ اکسپوننت دی، چې ۱ ترې کم شوی وي.

بیلګه:

$$f(x) = \frac{1}{x^2} = x^{-2} \Rightarrow f'(x) = -2x^{-3} = \underline{\underline{-\frac{2}{x^3}}}$$

موږ اوس د څو بنسټیزو توابعو مشتق شمیرنه تر څیړنې لاندې نیسو.

بیلګه ۱:

د یوې ثابتې مشتق :

موږ دالاندې تابع لرو،چې ارزښت یې یوثابت دی

ثابت $y = f(x) = c = Const$

نو د هر x_0 ځای لپاره لرو:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x) - f(x_0)}{x - x_0} = \frac{f(x_0 + h) - f(x_0)}{h} = \frac{c - c}{h} = 0$$

$$\Rightarrow \left(\frac{dy}{dx}\right)_{x = x_0} = f'(x_0) = 0$$

بیلګه ۲:

یوه $f(x)=x$ خطي(کرښیزه)تابع لرو.

د x_0 په ځای کې غواړو د دې تابع مشتق پیدا کړو او د مشتق تابع هم:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{(x_0+\Delta x)-x_0}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{x_0+\Delta x-x_0}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}}$$

$$\Leftrightarrow \frac{\Delta y}{\Delta x}=1$$

$$\Rightarrow f'(x_0)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}1=\underline{\underline{1}}$$

نو $f'(x_0)=1$ د x_0 په ځای کې د تابع مشتق دی او $f'(x_0)=1$ د مشتق تابع ده یعني یوه ثابته ده.

بیلګه ۳ :

د $y=f(x)= c.u(x)$ ډوله تابع مشتق د c=ثابتې سره.

د یوې تابع مشتق، چې له یوې ساده تابع او یوې ثابتې سره د ضرب له لارې منځ ته راغلی وي، برابر دی د ساده تابع د مشتق سره، چې د(ثابتې=c) سره ضر ب شوی وي. یعني

له $y=f(x)= c.u(x)$ څخه لرو:

$$\Rightarrow f'(x)=c\cdot u'(x)$$

ثبوت:

$$f(x_0) = c\,u(x_0)$$
$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{c \cdot u(x_0 + \Delta x) - c \cdot u(x_0)}{\Delta x}$$
$$\Leftrightarrow f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} c \cdot \frac{u(x_0 + \Delta x) - u(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow f'(x_0) = \underbrace{\lim_{\Delta x \to 0} c}_{c} \cdot \underbrace{\lim_{\Delta x \to 0} \frac{u(x_0 + \Delta x) - u(x_0)}{\Delta x}}_{u'(x_0)}$$
$$\Leftrightarrow f'(x_0) = \underline{\underline{c \cdot u'(x_0)}}$$

بیلګه :

$$f(x) = 3x^4 \quad c = 3 \quad u(x) = x^4 \Rightarrow u'(x) = 4x^3$$
$$f'(x) = c \cdot u'(x) = 3 \cdot 4x^3 = \underline{\underline{12x^3}}$$

پیژند (تعریف):   دفرنځیالوېش

$$\lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x} = f'(x_0) := \frac{dy}{dx}$$

په بیدیا کې ځګوالئ

د تابع ګراف د سرک په څیر په فکر کې راولو، چې په بیدیا کې ځګ او تیټیږي یا کښته پورته ځغلي، نو په ښه توګه یې رسمولئ شو، چې د ګراف خویونه د مشتق سره په اړیکو کې راځي:

په لاندې څیره کې د لغاتونو په ترتیب ژباړه:د بیدیا جوړښت، منفي یا کمیزه ځګیدنه، خورا ټیټ ټکی،زیاتیزه یا مثبته ځګیدنه،د خورا ځګې ځګیدنې ټکی، د غره څوکه، منفي ځګیدنه.

پسې لاندې څیره کې: ځګیدنه

د سرک ښکته يا لاندې لور ته د ځانګړي دياګرام سره د سرک جګيدنه په هر ټکي کې انځور ده، د کومې سره چې يوه دويمه منحني ورکوي.



دياګرامونه په کره توره وګورى او وهڅيږئ، چې د دويمې منحني خويونه د لومړی منحني له خويونو را برسيره کړی.

چيرته چې سرک خورا ټيټ ټکی لري، هلته د جګيدنې ارزښت 0% دی. دا په دې معنا چې که موټر له دې ځايه تيرېږي په افقي ئا پراته ډول ځغلي او په همدې توره که موټر د غره په څوکه هم و ځغلي.

دا ټيک هغه ټکي دي، د کومو په چاپيريال کې چې منفي او مثبته جګيدنه يوبل سره رابندوي يا پولې لري.

د دې په منځ کې يو چيرته يو ټکی شتون لري، چې هلته جګيدنه ماکزيمال يا خورا لويه ده (په دې بيلګه کې 90%) .

همدي ته ورته په دویمه منحني (کږې) کې یو ه خوکه لري، مګر دا په دې بیدیا کې هغه ستره ،،څوکه،، نه ده، مګر که څوک غواړي، نو یوه د ،،جګیدني څوکه،، ده.

اوس دا دواړه کږې یا منحني په ورسره بلده یا معمول ریاضیکي ډول په لاندې شکلونو کې ښایو او سره پرتله کوو:

(دالماني پښتو ژباړه له پورته کښته لور له کیڼ وښي لو رته: د fخورا جګ- یاماکسیمال ټکی، د fخوراټیټټکی، د fاوړون- یا د انعطاف ټکی،د f' خورا جګ ټکی، د f' صفرځای د f' صفرځای)



لومړی منحني د f(x) ګراف دی، دویمه منحني یا کږه د مشتق تابع f'(x) ګراف دی.

دا دواړه ګرافونه بیا هم ټیک وګوری او وهڅیری، چې وپوهیری، چې دا یو د بیل سره په هره برخه کې څنګه یو د بل سره اړیکې لري.

د $f(x)$ ګراف دوه ځانکړي ټکي مو سترګو ته راځي: په یوه کې $f(x)$ مینیمال - یا خورا ټیټ ټکی په بل کې $f(x)$ ماکسیمال - یا خورا جګ ټکی دی. په دې ځایونو کې $f(x)$ صفرځایونه لري. هغه ټکی چې هلته د $f(x)$ ګراف خورا ستوغ دی، هغه، هغه د انعطاف ټکی یا اوړونټکی بلل کیږي. دا چې په دې ټکي کې د $f(x)$ مشتق خورا جګ دی (په دې بیلګه کې0,9)، دا د$f'(x)$ عظمي نقطه (خورا جګ ټکی) ده.

د ازادې سترګې سره د هغه ځای له لاندې منحني څخه ښه څرګندیږي، نسبت و پورته منحني ته.

د ې بیلګې څخه همدا اوس اټکل کولی شو یا ګومان راوړی شو: که یوه تابع $f(x)$ ولرو، نو د دې $f(x)$ تابع په هکله د $f(x)$ له مشتق څخه ارزښناک معلومات په لا س روړی شو.

دا موړته د ماکسیما او مینیما (د خورا جګ او خورا ټیټ ارزښت) په هکله (چې دا دواړه د افراطي ارزښت تر نامه یادیږي) او په دې هکله چې ګراف چېرته خور یا ستوغ دی، پوره کټور معلومات راکوي.

په کواوردینات سیستم (پروت –ولاړ-) کې تابع

او د تابع مشتق

تابع : $f(x) = x^3 + x^2 - 4x - 1$ مشتق: $f'(x) = 3x^2 + 2x - 4$

د یوه تابع مشتق بیرته تابع دی. موږدا د مشتق تابع یا د جګېدنې (میلان) تابع بولو

$f(x) := x^3 + x^2 - 4x - 1 \qquad f'(x) := 3x^2 + 2x - 4$



د دوارو توابعو ګراف په یوه قمیتي وضعیه (پروت ولاړ سیستم) کې و کښل شو.

هلته چې تابع f(x) یو جګ ټکی (H) همداسي ټیټ ټکی (T) لري ګراف د مشتق تابع x -محور کې غوځوي،په دې مانا چې د تابع ارزښت دلته صفر دی.

دا روښانه دی، ځکه چې په H او T کې تابع f(x) پروت یا افقي تانجنت لري، دا دا معنا لري، چې په دې ټکي کې د f(x) جګیدنه صفر ده.

د مشتق تابع f'(x) هلته مینیموم لري، چیرته چې د(f(x جګیدنه د H او T ترمنځ په پام ونیول شي د مطلق قیمت له مخې خورا لویه ده.

پوښتنېII:

لومړی - د f(x)تابع مشتق د x= 2 او x=u په ځایونو کې وشمیرئ

الف - $f(x) = x^2 + 3$ ب - $f(x) = \frac{2}{x}$ پ - $f(x) = \frac{1}{x+1}$ ت - $f(x) = \sqrt{x}$

دویم - مشتق یې وشمیرئ

الف - $f(x) = -2x^4 + 3x^2 - 4x + 2$ ب - $f(x) = 0,5x^4 - x^3 + 2,5x^2 - 8$

پ - $f(x) = \frac{1}{32}x^3 + \frac{3}{2}x - 4$ ت - $s(t) = -\frac{5}{6}t^2 + \frac{2}{3}t + \frac{5}{2}$

ټ - $f(x) = -(x-6)^2(x+1)$ ث- $f(x) = \frac{1}{2}\left(x^2 - 2\right)^2$

دریم - مشتق یې وشمیرئ:

الف – $f(x) = \frac{1}{16}\left(x^3 + x - 1\right)$ ب - $f(x) = x\left(x^2 - \frac{3}{2}x - 4\right)$

پ - $f(x) = ax^4 + bx^2 + c$ ت - $f(x) = ax^3 + bx^2 + cx + d$

ټ - $f(x) = 6x + \frac{5}{x}$ ث - $f(x) = x^3 - 2x^2 + \frac{1}{x}$

څلورم - مشتق یې وشمیرئ:

الف – $f_t(x) = \frac{t}{2}x^4 - 2tx^3 + t^2$ ب - $f_k(x) = \frac{1}{k}x^3 + kx^2 + (k+1)x$

پ - $f_a(x)=\frac{1}{4}x^3+ax^2+\left(a-\frac{1}{2}\right)x-3$ ت - $f_t(x)=\frac{1}{2t}\left(x^2-t\right)^2$

ټ - $f(t)=5t^3-2t+5$ ث – $f(z)=-1,5z^3+2,5z^2+z$

ج - $A(u)=\frac{1}{2}u^2+3u+2u+1$ ح - $A(u)=\frac{1}{2}u\left(u^2+1\right)$

پنځم – د $f(x)$ جګوالی د $x=-3$ په ځای کې وشمیرئ او د $f(x)$ قاطع یا غوڅتکي د x - محورسره وشمیری .

الف – $f(x)=3x^2-5$ ب - $f(x)=4x-\frac{1}{x}$

شپږم - مشتق یې وشمیرئ:

الف – $f(x)=2x^2+3x+1$ ب - $f(x)=-x^2+2x-1$ پ - $f(x)=x+1$

ت - $\frac{1}{2}x^2-\frac{1}{3}x+4$ ټ - $f(x)=5b\,;\,b\in\mathbb{R}\setminus\{0\}$ ث- $f(x)=\frac{3}{4}x^2-\frac{2}{3}x-1$

ج - $f(x)=2x^3+3x^2-4x+2$ ح - $f(x)=-\frac{1}{4}x^3+\frac{2}{3}x^2-\frac{3}{4}x+\frac{1}{2}$

خ - $f(x)=\frac{1}{2}x^2+3x-7$ څ - $f(x)=\frac{3}{4}x^2+5x+8$

مفصل حلونه

لومړی –

الف –

$$f(x)=x^2+3$$

$$x=2:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{(2+\Delta x)^2+3-(2^2+3)}{\Delta x}$$

$$=\frac{4+4\cdot\Delta x+(\Delta x)^2+3-4-3}{\Delta x}=\frac{4\cdot\Delta x+(\Delta x)^2}{\Delta x}=\frac{\cancel{\Delta x}\cdot(4+\Delta x)}{\cancel{\Delta x}}=4+\Delta x$$

$$\Rightarrow f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(4+\Delta x)=\underline{\underline{4}}$$

$$x=u:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(u)}{\Delta x}=\frac{(u+\Delta x)^2+3-(u^2+3)}{\Delta x}$$

$$=\frac{u^2+2u\cdot\Delta x+(\Delta x)^2+3-u^2-3}{\Delta x}=\frac{2u\cdot\Delta x+(\Delta x)^2}{\Delta x}=\frac{\cancel{\Delta x}\cdot(2u+\Delta x)}{\cancel{\Delta x}}=2u+\Delta x$$

$$\Rightarrow f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(2u+\Delta x)=\underline{\underline{2u}}$$

ب –

$$f(x)=\frac{2}{x}$$

$$x=2:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{\frac{2}{2+\Delta x}-\frac{2}{2}}{\Delta x}=\frac{\frac{2}{2+\Delta x}-1}{\Delta x}=\frac{\frac{2}{2+\Delta x}-\frac{1\cdot(2+\Delta x)}{2+\Delta x}}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{2-1\cdot(2+\Delta x)}{2+\Delta x}}{\Delta x}=\frac{\frac{2-2-\Delta x}{2+\Delta x}}{\Delta x}=\frac{\frac{-\Delta x}{2+\Delta x}}{\Delta x}=\frac{\frac{-\Delta x}{2+\Delta x}}{\frac{\Delta x}{1}}=\frac{-1\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}(2+\Delta x)}=\frac{-1}{2+\Delta x}$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{-1}{2+\Delta x}\right)=-\underline{\underline{\frac{1}{2}}}$$

:

:

$$x=u:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{\frac{2}{u+\Delta x}-\frac{2}{u}}{\Delta x}=\frac{\frac{2\cdot u}{u\cdot(u+\Delta x)}-\frac{2\cdot(u+\Delta x)}{u\cdot(u+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{2\cdot u-2\cdot(u+\Delta x)}{u\cdot(u+\Delta x)}}{\Delta x}=\frac{\frac{2\cdot u-2\cdot u-2\cdot\Delta x}{u\cdot(u+\Delta x)}}{\Delta x}=\frac{\frac{-2\cdot\Delta x}{u\cdot(u+\Delta x)}}{\frac{\Delta x}{1}}$$

$$=\frac{-2\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot u\cdot(u+\Delta x)}=\frac{-2}{u\cdot(u+\Delta x)}=\frac{-2}{u^2+u\cdot\Delta x}$$

$$f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{-2}{u^2+u\cdot\Delta x}\right)=-\frac{2}{u^2}$$

پ –

$$f(x)=\frac{1}{x+1}$$

$$x=2:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{\frac{1}{2+\Delta x+1}-\frac{1}{2+1}}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{1}{3+\Delta x}-\frac{1}{3}}{\Delta x}=\frac{\frac{1\cdot 3}{3\cdot(3+\Delta x)}-\frac{1\cdot(3+\Delta x)}{3\cdot(3+\Delta x)}}{\Delta x}$$

$$=\frac{\frac{1\cdot 3-1\cdot(3+\Delta x)}{3\cdot(3+\Delta x)}}{\Delta x}=\frac{\frac{3-3-\Delta x}{3\cdot(3+\Delta x)}}{\Delta x}=\frac{\frac{-\Delta x}{3\cdot(3+\Delta x)}}{\frac{\Delta x}{1}}=\frac{-1\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot 3\cdot(3+\Delta x)}=\frac{-1}{3\cdot(3+\Delta x)}$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{-1}{3(3+\Delta x)}\right)=-\frac{1}{9}$$

$$x=u:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{\frac{1}{u+\Delta x+1}-\frac{1}{u+1}}{\Delta x}$$

$$= \frac{\frac{1\cdot(u+1)}{(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)} - \frac{1\cdot(u+\Delta x+1)}{(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)}}{\Delta x}$$

$$= \frac{\frac{1\cdot(u+1)-1\cdot(u+\Delta x+1)}{(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)}}{\Delta x} = \frac{\frac{u+1-u-\Delta x-1}{(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)}}{\Delta x} = \frac{\frac{-\Delta x}{(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)}}{\frac{\Delta x}{1}}$$

$$= \frac{-1\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot(u+1)\cdot(u+\Delta x+1)} = \frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)}$$

$$f'(u) = \lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x\to 0}\frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)} = \frac{-1}{(u+1)(u+1)} = -\underline{\underline{\frac{1}{(u+1)^2}}}$$

ت-

$$f(x) = \sqrt{x}$$

$$x = 2: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x} = \frac{\sqrt{2+\Delta x}-\sqrt{2}}{\Delta x} = \frac{\left(\sqrt{2+\Delta x}-\sqrt{2}\right)\cdot\left(\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}\right)}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}\right)}$$

$$= \frac{2+\Delta x-2}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}\right)} = \frac{1\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot\left(\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}\right)} = \frac{1}{\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}}$$

$$f'(2) = \lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{1}{\sqrt{2+\Delta x}+\sqrt{2}}\right) = \frac{1}{\sqrt{2}+\sqrt{2}} = \underline{\underline{\frac{1}{2\sqrt{2}}}}$$

$$x = u: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(u+\Delta x)-f(u)}{\Delta x} = \frac{\sqrt{u+\Delta x}-\sqrt{u}}{\Delta x} = \frac{\left(\sqrt{u+\Delta x}-\sqrt{u}\right)\cdot\left(\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}\right)}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}\right)}$$

$$= \frac{u+\Delta x-u}{\Delta x\cdot\left(\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}\right)} = \frac{1\cdot\cancel{\Delta x}}{\cancel{\Delta x}\cdot\left(\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}\right)} = \frac{1}{\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}}$$

$$f'(u) = \lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{1}{\sqrt{u+\Delta x}+\sqrt{u}}\right) = \frac{1}{\sqrt{u}+\sqrt{u}} = \underline{\underline{\frac{1}{2\sqrt{u}}}}$$

دویم – مفصل حلونه

الف – $f(x) = -2x^4 + 3x^2 - 4x + 2 \Rightarrow f'(x) = -8x^3 + 6x - 4$

ب – $f(x) = 0{,}5x^4 - x^3 + 2{,}5x^2 - 8 \Rightarrow f'(x) = 2x^3 - 3x^2 + 5x$

پ – $f(x) = \frac{1}{32}x^3 + \frac{3}{2}x - 4 \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{32}x^2 + \frac{3}{2}$

ت- $s(t) = -\frac{5}{6}t^2 + \frac{2}{3}t + \frac{5}{2} \Rightarrow s'(t) = -\frac{5}{3}t + \frac{2}{3}$

ټ –

$$f(x) = -(x-6)^2(x+1) = -x^3 + 11x^2 - 24x - 36 \Rightarrow f'(x) = -3x^2 + 22x - 24$$

ث- $f(x) = \frac{1}{2}(x^2-2)^2 = \frac{1}{2}x^4 - 2x^2 + 2 \Rightarrow f'(x) = 2x^3 - 4x$

دریم – الف – $f(x) = \frac{1}{16}(x^3 + x - 1) \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{16}x^2 + \frac{1}{16}$

ب – $f(x) = x\left(x^2 - \frac{3}{2}x - 4\right) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 4x \Rightarrow f'(x) = 3x^2 - 3x - 4$

پ – $f(x) = ax^4 + bx^2 + c \Rightarrow f'(x) = 4ax^3 + 2bx$

ت- $f(x) = ax^3 + bx^2 + cx + d \Rightarrow f'(x) = 3ax^2 + 2bx + c$

ث – $f(x) = 6x + \frac{5}{x} = 6x + 5x^{-1} \Rightarrow f'(x) = 6 - 5x^{-2} = 6 - \frac{5}{x^2}$

ج --

$$f(x) = x^3 - 2x^2 + \frac{1}{x} = x^3 - 2x^2 + x^{-1} \Rightarrow f'(x) = 3x^2 - 4x - x^{-2} = 3x^2 - 4x - \frac{1}{x^2}$$

ځلورم – مفصل حلونه

الف -

$$f_t(x) = \frac{t}{2}x^4 - 2tx^3 + t^2 \Rightarrow f_t'(x) = 2tx^3 - 6tx^2$$

ب -

$$f_k(x) = \frac{1}{k}x^3 + kx^2 + (k+1)x \Rightarrow f'_k(x) = \frac{3}{k}x^2 + 2kx + k + 1$$

پ -

$$f_a(x) = \frac{1}{4}x^3 + ax^2 + \left(a - \frac{1}{2}\right)x - 3 \Rightarrow f'_a(x) = \frac{3}{4}x^2 + 2ax + a - \frac{1}{2}$$

ت-

$$f_t(x) = \frac{1}{2t}\left(x^2 - t\right)^2 = \frac{1}{2t}x^4 - x^2 + \frac{1}{2}t \Rightarrow f_t'(x) = \frac{2}{t}x^3 - 2x$$

ټ –

$$f(t) = 5t^3 - 2t + 5 \Rightarrow f'(t) = 15t^2 - 2$$

ث –

$$f(z) = -1,5z^3 + 2,5z^2 + z \Rightarrow f'(z) = -4,5z^2 + 5z + 1$$

ج -

$$A(u) = \frac{1}{2}u^2 + 3u + 2u + 1 \Rightarrow A'(u) = u + 5$$

چ -

$$A(u) = \frac{1}{2}u\left(u^2 + 1\right) = \frac{1}{2}u^3 + \frac{1}{2}u \Rightarrow A'(u) = \frac{3}{2}u^2 + \frac{1}{2}$$

پنځم – مفصل حلونه

الف –

$$f(x)=3x^2-5\Rightarrow f'(x)=6x\Rightarrow f'(-3)=6\cdot(-3)=\underline{\underline{-18}}$$

د $f(x)$ صفرځایونه

$$f(x)=0\Leftrightarrow 3x^2-5=0\Rightarrow x_{1/2}=\pm\sqrt{\frac{5}{3}}\Rightarrow f'\left(\pm\sqrt{\frac{5}{3}}\right)=6\cdot\left(\pm\sqrt{\frac{5}{3}}\right)=\underline{\underline{\pm 6\cdot\sqrt{\frac{5}{3}}}}$$

ب –

$$f(x)=4x-\frac{1}{x}\Rightarrow f'(x)=4+\frac{1}{x^2}\Rightarrow f'(-3)=4+\frac{1}{9}=\underline{\frac{37}{9}}$$

د $f(x)$ صفرځایونه :

$$f(x)=0\Leftrightarrow 4x-\frac{1}{x}=0\Leftrightarrow\frac{4x^2-1}{x}=0\Leftrightarrow x^2=\frac{1}{4}\Rightarrow x_{1/2}=\pm\frac{1}{2}$$
$$\Rightarrow f'\left(\pm\frac{1}{2}\right)=4+\frac{1}{\left(\pm\frac{1}{2}\right)^2}=4+\frac{1}{\frac{1}{4}}=4+4=\underline{\underline{8}}$$

شپږم – مفصل حلونه

الف – $f(x)=2x^2+3x+1\Rightarrow f'(x)=4x+3$

ب – $f(x)=-x^2+2x-1\Rightarrow f'(\ )=-2x+2$

پ – $f(x)=x+1\Rightarrow f'(x)=1$

ت- $f(x)=\frac{1}{2}x^2-\frac{1}{3}x+4\Rightarrow f'(x)=x-\frac{1}{3}$

ټ – $f(x)=5b\,;\,b\in\mathbb{R}\setminus\{0\}\Rightarrow f'(x)=0$

ث ـ $f(x)=\frac{3}{4}x^2-\frac{2}{3}x-1 \Rightarrow f'(x)=\frac{3}{2}x-\frac{2}{3}$

ج ـ $f(x)=2x^3+3x^2-4x+2 \Rightarrow f'(x)=6x^2+6x-4$

چ ـ $f(\ )=-\frac{1}{4}x^3+\frac{2}{3}x^2-\frac{3}{4}x+\frac{1}{2} \Rightarrow f'(x)=-\frac{3}{4}x^2+\frac{4}{3}x-\frac{3}{4}$

ح ـ $f(x)=\frac{1}{2}x^2+3x-7 \Rightarrow f'(x)=x+3$

خ ـ $f(x)=\frac{3}{4}x^2+5x+8 \Rightarrow f'(x)=\frac{3}{2}x+5$

پوښتنې :

مشتق شمیرنه III

اول- مشتق يې ونيسئ

الف - $f(x)=\frac{4}{5}x^2-\frac{3}{4}x+\frac{1}{2}$ ب - $f(x)=-\frac{3}{7}x^2+\frac{4}{9}x+\frac{8}{10}$

پ - $f(x)=x^3-x^2+x+1$ ت - $f(x)=-x^3+x^2-x+7$

ټ - $f(x)=-\frac{3}{4}x^3+2x^2-x+1$ ث - $f(x)=-\frac{2}{3}x^3+\frac{3}{2}x^2+2x+\pi$

ج - $f(x)=4x^3+\pi x^2+bx+c$ چ - $f(x)=ax^3+bx^2+cx+d$

ح - $f(x)=\frac{1}{\sqrt{2}}x^3-\frac{1}{\pi}x^2+\alpha x$ خ - $f(x)=\frac{4}{5}x^3-\frac{3}{4}x^2+4x+7$

دویم - مشتق يې ونیسئ

الف - $f(x)=x^4-2x^2+3x+1$ ب - $f(x)=2x^4+3x^2-2x+2$

پ - $f(x)=\frac{1}{2}x^4+\frac{1}{2}x^2-x+1$ ت - $f(x)=-\frac{1}{4}x^4+\frac{1}{3}x^3-\frac{1}{2}x^2$

ټ - $f(x)=x^5-2x^4+x^2-1$ ث - $f(x)=\frac{3}{4}x^4+\frac{5}{7}x^2+7$

ج - $f(x)=1$ چ - $f(x)=0$

ح - $f(x)=2x^6-4x^4+2x^2$ خ - $f(x)=\frac{3}{4}x^3+\frac{2}{3}x^2-x+4$

دریم – مشتق يې ونیسئ

الف - $f(x)=\frac{4}{3}x^3+\frac{3}{2}x^2+\sqrt{2}\cdot x$ ب - $f(x)=\sqrt{3}\cdot x^3-\sqrt{2}\cdot x^2+1$

پ - $f(x)=\frac{4}{3\pi}x^3+\frac{1}{3}x^2+1$ ت - $f(x)=3,5x^2-1,5x+2$

ټ - $f(x)=0,5x^2-2,5x+1$ ث - $f(x)=3,1x^2+\frac{7}{2}x-7$

ج - $f(x)=1,5x^3-2,5x^2+1$ چ - $f(x)=-2,5x^3+1,5x^2-1$

ح - $f(x)=t\cdot x^3+2x^2-4x$ خ - $f(x)=7,2x^2-8,2x+b$

څ - ځ -

څلورم – مشتق يې ونیسئ

الف - $f(x) = x^{-1}$ ب - $f(x) = \frac{1}{x}$

پ - $f(x) = \frac{2}{3x} + 2$ ت - $f(x) = 2x^{-2} + 3x^{-1} + 2$

ټ - $f(x) = -\frac{1}{2}x^{-2} + 2x^{-1}$ ث - $f(x) = x^{\frac{1}{3}}$

ج - $f(x) = x^{\frac{1}{4}}$ چ - $f(x) = \sqrt{x}$ ح - $f(x) = \frac{1}{\sqrt{x}}$ خ - $f(x) = \sqrt{x^3}$

ځوابونه

مشتق شمیرنه **III**

مفصل حلونه:

لومړی:

الف - $f(x) = \frac{4}{5}x^2 - \frac{3}{4}x + \frac{1}{2} \Rightarrow f'(x) = \frac{8}{5}x - \frac{3}{4}$

ب - $f(x) = -\frac{3}{7}x^2 + \frac{4}{9}x + \frac{8}{10} \Rightarrow f'(x) = -\frac{6}{7}x + \frac{4}{9}$

پ - $f(x) = x^3 - x^2 + x + 1 \Rightarrow f'(x) = 3x^2 - 2x + 1$

ت - $f(x) = -x^3 + x^2 - x + 7 \Rightarrow f'(x) = -3x^2 + 2x - 1$

ټ - $f(x) = -\frac{3}{4}x^3 + 2x^2 - x + 1 \Rightarrow f'(x) = -\frac{9}{4}x^2 + 4x - 1$

ث - $f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + \frac{3}{2}x^2 + 2x + \pi \Rightarrow f'(x) = -2x^2 + 3x + 2$

ج – $f(x) = 4x^3 + \pi x^2 + bx + c \Rightarrow f'(x) = 12x^2 + 2\pi x + b$

چ - $f(x) = ax^3 + bx^2 + cx + d \Rightarrow f'(x) = 3ax^2 + 2bx + c$

ح - $f(x) = \frac{1}{\sqrt{2}}x^3 - \frac{1}{\pi}x^2 + \alpha x \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{\sqrt{2}}x^2 - \frac{2}{\pi}x + \alpha$

خ - $f(x) = \frac{4}{5}x^3 - \frac{3}{4}x^2 + 4x + 7 \Rightarrow f'(x) = \frac{12}{5}x^2 - \frac{3}{2}x + 4$

دویم:

الف - $f(x) = x^4 - 2x^2 + 3x + 1 \Rightarrow f'(x) = 4x^3 - 4x + 3$

ب - $f(x) = 2x^4 + 3x^2 - 2x + 2 \Rightarrow f'(x) = 8x^3 + 6x - 2$

پ - $f(x) = \frac{1}{2}x^4 + \frac{1}{2}x^2 - x + 1 \Rightarrow f'(x) = 2x^3 + x - 1$

ت - $f(x) = -\frac{1}{4}x^4 + \frac{1}{3}x^3 - \frac{1}{2}x^2 \Rightarrow f'(x) = -x^3 + x^2 - x$

ټ - $f(x) = x^5 - 2x^4 + x^2 - 1 \Rightarrow f'(x) = 5x^4 - 8x^3 + 2x$

ث - $f(x) = \frac{3}{4}x^4 + \frac{5}{7}x^2 + 7 \Rightarrow f'(x) = 3x^3 + \frac{10}{7}x$

ج ـ $f(x) = 1 \Rightarrow f'(x) = 0$

چ - $f(x) = 0 \Rightarrow f'(x) = 0$

ح - $f(x) = 2x^6 - 4x^4 + 2x^2 \Rightarrow f'(x) = 12x^5 - 16x^3 + 4x$

خ - $f(x) = \frac{3}{4}x^3 + \frac{2}{3}x^2 - x + 4 \Rightarrow f'(x) = \frac{9}{4}x^2 + \frac{4}{3}x - 1$

دریم:

الف - $f(x) = \frac{4}{3}x^3 + \frac{3}{2}x^2 + \sqrt{2} \cdot x \Rightarrow f'(x) = 4x^2 + 3x + \sqrt{2}$

ب - $f(x) = \sqrt{3} \cdot x^3 - \sqrt{2} \cdot x^2 + 1 \Rightarrow f'(x) = 3\sqrt{3} \cdot x^2 - 2\sqrt{2} \cdot x$

پ - $f(x) = \frac{4}{3\pi}x^3 + \frac{1}{3}x^2 + 1 \Rightarrow f'(x) = \frac{4}{\pi}x^2 + \frac{2}{3}x$

ت - $f(x) = 3{,}5x^2 - 1{,}5x + 2 \Rightarrow f'(x) = 7x - 1{,}5$

ټ - $f(x) = 0{,}5x^2 - 2{,}5x + 1 \Rightarrow f'(x) = x - 2{,}5$

ث - $f(x) = 3{,}1x^2 + \frac{7}{2}x - 7 \Rightarrow f'(x) = 6{,}2x + 3{,}5$

ج ـ $f(x) = 1{,}5x^3 - 2{,}5x^2 + 1 \Rightarrow f'(x) = 4{,}5x^2 - 5x$

چ - $f(x) = -2{,}5x^3 + 1{,}5x^2 - 1 \Rightarrow f'(x) = -7{,}5x^2 + 3x$

ح - $f(x) = t \cdot x^3 + 2x^2 - 4x \Rightarrow f'(x) = 3tx^2 + 4x - 4$

خ - $f(x) = 7,2x^2 - 8,2x + b \Rightarrow f'(x) = 14,4x - 8,2$

څلورم:

الف - $f(x) = x^{-1} \Rightarrow f'(x) = -x^{-2} = -\frac{1}{x^2}$

ب - $f(x) = \frac{1}{x} = x^{-1} \Rightarrow f'(x) = -x^{-2} = -\frac{1}{x^2}$

پ - $f(x) = \frac{2}{3x} + 2 = \frac{2}{3}x^{-1} \Rightarrow f'(x) = -\frac{2}{3}x^{-2} = -\frac{2}{3x^2}$

ت - $f(x) = 2x^{-2} + 3x^{-1} + 2 \Rightarrow f'(x) = -4x^{-3} - 3x^{-2}$

ټ - $f(x) = -\frac{1}{2}x^{-2} + 2x^{-1} \Rightarrow f'(x) = x^{-3} - 2x^{-2}$

ث - $f(x) = x^{\frac{1}{3}} \Rightarrow f'(x) = \frac{1}{3}x^{\frac{1}{3}-1} = \frac{1}{3}x^{-\frac{2}{3}}$

ج – $f(x) = x^{\frac{1}{4}} \Rightarrow f'(x) = \frac{1}{4}x^{\frac{1}{4}-1} = \frac{1}{4}x^{-\frac{3}{4}}$

چ - $f(x) = \sqrt{x} = x^{\frac{1}{2}} \Rightarrow f'(x) = \frac{1}{2}x^{\frac{1}{2}-1} = \frac{1}{2}x^{-\frac{1}{2}}$

ح - $f(x) = \frac{1}{\sqrt{x}} = \frac{1}{x^{\frac{1}{2}}} = x^{-\frac{1}{2}} \Rightarrow f'(x) = -\frac{1}{2}x^{-\frac{1}{2}-1} = -\frac{1}{2}x^{-\frac{3}{2}}$

خ - $f(x)=\sqrt{x^3}=x^{\frac{3}{2}}\Rightarrow f'(x)=\frac{3}{2}x^{\frac{3}{2}-1}=\frac{3}{2}x^{\frac{1}{2}}$

پوښتنې

مشتقشمیرنه IV

لومړی: مشتق یې ونیسئ

الف- $f(x)=4x^2-3x+2$ ب - $f(x)=-2x^2+6x-4$

پ- $f(x)=2x^3-x^2+1$ ت - $f(x)=-7x^3+2x^2-x+1$

ټ - $f(x)=\left(x^2-3\right)^2$ ث - $f(x)=1-x^3$

ج = $f(x)=1-x^4$ چ - $f(x)=2x^2-x^4$

ح - $f(x)=0{,}5x^3+3x^2$ خ = $f(x)=-3x^7+1$

دویم: مشتق یې ونیسئ

الف- $f(x)=a+3bx^2$ ب - $f(x)=3x^7-0{,}5x^3$

پ- $f(x)=0{,}125x^8-30x^4$ ت - $f(x)=0{,}01ax^{12}-0{,}5bx^8$

ټ - $f(x)=3ax^5-0{,}5bx^4$ ث - $f(x)=0{,}25x^8+0{,}5x^{10}$

ج = $f(x)=0{,}25ax^4+0{,}5bx^5$ چ - $f(x)=0{,}5bx^6+0{,}2ax^5$

ح - $f(x)=-0{,}5x^5$ خ = $f(x)=0{,}5x^3+3x^2$

درېيم: مشتق یې ونیسئ

الف- $f(x) = -3x^7 + 2x$ ب - $f(x) = 0,5x^3 + 2x$

پ- $f(x) = 2x^3 - 3x^2$ ت - $f(x) = \frac{1}{8}x^3 - \frac{3}{4}x$

ټ - $f(x) = \frac{1}{6}x^3 - \frac{1}{2}x^2 + 4$ ث - $f(x) = -\frac{1}{4}x^4 + x^2$

ج = $f(x) = \frac{1}{18}x^4 - \frac{4}{9}x^3 + x^2$ چ - $f(x) = \frac{1}{2}x^2 - 2x + 1$

ح - $f(x) = \frac{3}{8}x^3 - \frac{3}{4}x^2$ خ = $f(x) = -\frac{1}{3}x^3 + 3x$

ځلورم:مشتق يي ونیسئ

الف- $f(x) = \frac{1}{8}x^3 - \frac{3}{2}x^2 + \frac{9}{2}x$ ب - $f(x) = -\frac{1}{16}x^4 + x^2$

پ- $f(x) = \frac{1}{16}x^4 - \frac{3}{2}x^2 + 5$ ت - $f(x) = -\frac{1}{12}x^3 + \frac{3}{2}x + 9$

ټ - $f(x) = \frac{1}{16}x^4 - \frac{3}{4}x^2 + x$ ث - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - 3x^2 + \frac{9}{2}x$

ج = $f(x) = \frac{1}{3}x^3 - x + 3$ چ - $f(x) = x^4 - 6x^3 + 12x^2 - 8x$

ح - $f(x) = \frac{1}{12}x^4 - 2x^2$ خ = $f(x) = \frac{1}{4}x^4 + 2x^2 + 5x$

حلونه

مشتقشمیرنهIV

مفصل حلونه:

لومړی:

الف- $f(x)=4x^2-3x+2 \Rightarrow f'(x)=8x-3$

ب - $f(x)=-2x^2+6x-4 \Rightarrow f'(x)=-4x+6$

پ- $f(x)=2x^3-x^2+1 \Rightarrow f'(x)=6x^2-2x$

ت - $f(x)=-7x^3+2x^2-x+1 \Rightarrow f'(x)=-21x^2+4x-1$

ټ - $f(x)=\left(x^2-3\right)^2=x^4-6x^2+9 \Rightarrow f'(x)=4x^3-12x$

ث - $f(x)=1-x^3 \Rightarrow f'(x)=-3x^2$

ج = $f(x)=1-x^4 \Rightarrow f'(x)=-4x^3$

چ - $f(x)=2x^2-x^4 \Rightarrow f'(x)=-4x^3+4x$

ح - $f(x)=0,5x^3+3x^2 \Rightarrow f'(x)=1,5x^2+6x$

خ = $f(x)=-3x^7+1 \Rightarrow f'(x)=-21x^6$

دويم:

الف- $f(x)=a+3bx^2 \Rightarrow f'(x)=6bx$

ب - $f(x)=3x^7-0,5x^3 \Rightarrow f'(x)=21x^6-1,5x^2$

پ- $f(x)=0,125x^8-30x^4 \Rightarrow f'(x)=x^7-120x^3$

ت - $f(x)=0,01ax^{12}-0,5bx^8 \Rightarrow f'(x)=0,12ax^{11}-4bx^7$

ټ - $f(x) = 3ax^5 - 0,5bx^4 \Rightarrow f'(x) = 15ax^4 - 2bx^3$

ث - $f(x) = 0,25x^8 + 0,5x^{10} \Rightarrow f'(x) = 5x^9 + 2x^7$

ج = $f(x) = 0,25ax^4 + 0,5bx^5 \Rightarrow f'(x) = 2,5bx^4 + ax^3$

چ - $f(x) = 0,5bx^6 + 0,2ax^5 \Rightarrow f'(x) = 3bx^5 + ax^4$

ح - $f(x) = -0,5x^5 \Rightarrow f'(x) = -2,5x^4$

خ = $f(x) = 0,5x^3 + 3x^2 \Rightarrow f'(x) = 1,5x^2 + 6x$

دریم:

الف- $f(x) = -3x^7 + 2x \Rightarrow f'(x) = -21x^6 + 2$

ب - $f(x) = 0,5x^3 + 2x \Rightarrow f'(x) = 1,5x^2 + 2$

پ- $f(x) = 2x^3 - 3x^2 \Rightarrow f'(x) = 6x^2 - 6x$

ت - $f(x) = \frac{1}{8}x^3 - \frac{3}{4}x \Rightarrow f'(x) = \frac{3}{8}x^2 - \frac{3}{4}$

ټ - $f(x) = \frac{1}{6}x^3 - \frac{1}{2}x^2 + 4 \Rightarrow f'(x) = \frac{1}{2}x^2 - x$

ث - $f(x) = -\frac{1}{4}x^4 + x^2 \Rightarrow f'(x) = -x^3 + 2x$

ج = $f(x) = \frac{1}{18}x^4 - \frac{4}{9}x^3 + x^2 \Rightarrow f'(x) = \frac{2}{9}x^3 - \frac{4}{3}x^2 + 2x$

چ - $f(x)=\frac{1}{2}x^2-2x+1 \Rightarrow f'(x)=x-2$

ح - $f(x)=\frac{3}{8}x^3-\frac{3}{4}x^2 \Rightarrow f'(x)=\frac{9}{8}x^2-\frac{3}{2}x$

خ = $f(x)=-\frac{1}{3}x^3+3x \Rightarrow f'(x)=-x^2+3$

څلورم: الف- $f(x)=\frac{1}{8}x^3-\frac{3}{2}x^2+\frac{9}{2}x \Rightarrow f'(x)=\frac{3}{8}x^2-3x+\frac{9}{2}$

ب - $f(x)=-\frac{1}{16}x^4+x^2 \Rightarrow f'(x)=-\frac{1}{4}x^3+2x$

پ- / ت - $f(x)=-\frac{1}{12}x^3+\frac{3}{2}x+9 \Rightarrow f'(x)=-\frac{1}{4}x^2+\frac{3}{2}$

ټ - $f(x)=\frac{1}{16}x^4-\frac{3}{4}x^2+x \Rightarrow f'(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{3}{2}x+1$

ث - $f(x)=\frac{1}{2}x^3-3x^2+\frac{9}{2}x \Rightarrow f'(x)=\frac{3}{2}x^2-6x+\frac{9}{2}$

ج = $f(x)=\frac{1}{3}x^3-x+3 \Rightarrow f'(x)=x^2-1$

چ - $f(x)=x^4-6x^3+12x^2-8x \Rightarrow f'(x)=4x^3-18x^2+24x-8$

ح - $f(x)=\frac{1}{12}x^4-2x^2 \Rightarrow f'(x)=\frac{1}{3}x^3-4x$

خ = $f(x)=\frac{1}{4}x^4+2x^2+5x \Rightarrow f'(x)=x^3+4x^2+5$

پوښتنې

مشتقشميرنه VI

لومړی: د لاندې توابعو مشتق ونيسئ:

الف- $f(x)=5x^4-4x^3+3x^2-2x+6$ ب - $f(x)=\left(a^2+x^2\right)\left(a^2-x^2\right)$

پ- $f(x)=-2x^4+3x^2-4x+2$ ت - $f(x)=0,5x^4-x^3+2,5x^2-8$

ټ - $f(x)=\frac{1}{32}x^3+\frac{3}{2}x-4$ ث - $f(x)=-\frac{5}{6}x^2+\frac{2}{3}x+\frac{5}{2}$

دويم: د لاندې توابعو مشفق ونيسئ:

الف- $f(x)=-(x-6)^2(x+1)$ ب - $f(x)=\frac{1}{2}\left(x^2-2\right)^2$

پ- $f(x)=\frac{1}{16}\left(x^3+x-1\right)$ ت - $f(x)=x\left(x^2-\frac{3}{2}x-4\right)$

ټ - $f(x)=ax^4+bx^2+c$ ث - $f(x)=ax^3+bx^2+cx+d$

دريم: د لاندې توابعو مشفق ونيسئ:

الف- $f(x)=\frac{k}{2}x^4-2kx^3+k^2$ ب - $f(x)=\frac{1}{k}x^3+kx^2+(k+1)x$

پ- $f(x)=\frac{1}{4}x^3+ax^2+\left(a-\frac{1}{2}\right)x-3$ ت - $f(x)=\frac{1}{2k}\left(x^2-k\right)^2$

ټ - $f(t)=5t^3-2t+5$ ث - $f(z)=-1,5z^3+2,5z^2+z$

څلورم: د لاندې توابعو مشفق ونيسئ:

الف- $A(u)=\frac{1}{2}u^2+3u+2u+1$ ب - $A(u)=\frac{1}{2}u\left(u^2+1\right)$

پ- $f(x)=2\pi x^5-7x^3+\frac{3}{\pi}$ ت - $f(x)=\frac{x^2+2x+1}{x+1}$

ټ - $f(x)=\frac{x^2-2x+1}{x-1}$ ث - $f(x)=\frac{x^2-1}{x+1}$

ج = $f(x)=\frac{4x^2+12x+9}{2x+3}$ چ - $f(x)=\frac{\left(x^2+4x+4\right)^2}{x+2}$

پنځم: نلاندې تابع ورکړ شوې:

$ı\ f(x)=2x-\frac{1}{4}x^2\ ;\ x\in\mathbb{R}$

الف- د f(x) تابع جګوالی د x_0 په ځای کې وښایی د $\left[-4\,;-1;\,0\,;1{,}5\,;3\right]$ $x_0\in$ سره

ب - تابع f(x) په کوم ټکي کې د 3 جګوالي سره تانجنت لري؟

پ- د f(x) په P (2 | f(2))ټکي باندې د تانجنت مساوات وښایی

ت - د f(x) په P (2 | f(2)) ټکي باندې د نورمال یا عمود مساوات وښایی

ټ - تانجنت او نورمال یا عمود په وضعیهقیمتسیستم کې رسم کړی.

ث – $a(x)=t\cdot f(x)\,;\,t\in\mathbb{R}^*$

د x محور په S_1 او S_2 کې غوځوي(قطع کوي)

د t د کومو ارزښتونو لپاره تانجنت په S_1 او S_2 یو بل سره عمود دي؟

حلونه

مشتقشميرنه VI

نتيجې:

لومړی-

الف -

$f'(x) = 20x^3 - 12x^2 + 6x - 2 \qquad f''(x) = 60x^2 - 24x + 6$
$f'''(x) = 120x - 24$

ب - $f'''(x) = -24x \qquad f''(x) = -12x^2 \qquad f'(x) = -4x^3$

پ- $f'''(x) = -48x \qquad f''(x) = -24x^2 + 6 \qquad f'(x) = -8x^3 + 6x - 4$

ت - $f'''(x) = 12x - 6 \qquad f''(x) = 6x^2 - 6x + 5 \qquad f'(x) = 2x^3 - 3x^2 + 5x$

ټ - $f'''(x) = \frac{3}{16} \qquad f''(x) = \frac{3}{16}x \qquad f'(x) = \frac{3}{32}x^2 + \frac{3}{2}$

ث - $f'''(x) = 0 \qquad f''(x) = -\frac{5}{3} \qquad f'(x) = -\frac{5}{3}x + \frac{2}{3}$

دويم:

الف- $f'''(x) = -6 \qquad f''(x) = -6x + 22 \qquad f'(x) = -3x^2 + 22x - 24$

ب - $f'''(x) = 12x \qquad f''(x) = 6x^2 - 4 \qquad f'(x) = 2x^3 - 4x$

پ- $f'(x)=\frac{3}{16}x^2+\frac{1}{16}\qquad f''(x)=\frac{3}{8}x\qquad f'''(x)=\frac{3}{8}$

ت - $f'(x)=3x^2-3x-4\qquad f''(x)=6x-3\qquad f'''(x)=6$

ټ - $f'(x)=4ax^3+2bx\qquad f''(x)=12ax^2+2b\qquad f'''(x)=24ax$

ث - $f'(x)=3ax^2+2bx+c\qquad f''(x)=6ax+2b\qquad f'''(x)=6a$

دریم:

الف- $f'(x)=2kx^3-6kx^2\qquad f''(x)=6kx^2-12kx\qquad f'''(x)=12kx-12k$

ب - $f'(x)=\frac{3}{k}x^2+2kx+k+1\qquad f''(x)=\frac{6}{k}x+2k\qquad f'''(x)=\frac{6}{k}$

پ- $f'(x)=\frac{3}{4}x^2+2ax+a-\frac{1}{2}\qquad f''(x)=\frac{3}{2}x+2a\qquad f'''(x)=\frac{3}{2}$

ت - $f'(x)=\frac{2}{k}x^3-2x\qquad f''(x)=\frac{6}{k}x^2-2\qquad f'''(x)=\frac{12}{k}x$

ټ - $f'(t)=15t^2-2\qquad f''(t)=30t\qquad f'''(t)=30$

ث - $f'(z)=-4,5z^2+5z+1\qquad f''(z)=-9z+5\qquad f'''(z)=-9$

څلورم:

الف- $A'(u)=u+5\qquad A''(u)=1\qquad A'''(u)=0$

ب - $A'(u)=\frac{3}{2}u^2+\frac{1}{2}\qquad A''(u)=3u\qquad A'''(u)=3$

پ-

$f'(x)=10\pi x^4-21x^2 \qquad f''(x)=40\pi x^3-42x \qquad f'''(x)=120\pi x^2-42$

ت - $f'(x)=1 \qquad f''(x)=0 \qquad f'''(x)=0$

ټ - $f'(x)=1 \qquad f''(x)=0 \qquad f'''(x)=0$

ث - $f'(x)=1 \qquad f''(x)=0 \qquad f'''(x)=0$

ج = $f'(x)=2 \qquad f''(x)=0 \qquad f'''(x)=0$

چ - $f'(x)=3x^2+12x+12 \qquad f''(x)=6x+12 \qquad f'''(x)=6$

پنځم:

الف-

$$f(x)=2x-\frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x)=2-\frac{1}{2}x$$

x	−4	−1	0	1,5	3
f'(x)	4	2,5	2	1,25	0,5

ب - د P(-2;-5) په ټکي کې د f(x) تانجنت جګوالی 3 لري.

پ- په f(x) باندې د تانجنت مساوات په ټکي (P (2 | f(2) کې: t(x) = x + 1

ت - په ټکي (P (2 | f(2) کې په f(x) باندې د عمود مساوات: n(x) = -x + 5

ټ - ث - د $t_{1,2}=\pm\frac{1}{2}$ لپاره تانجنتونه په ټکو S_1 او S_2 کې يو په بل عموددي.

مفصل حل:

لومړی: الف-

$$f(x) = 5x^4 - 4x^3 + 3x^2 - 2x + 6$$
$$f'(x) = 5\cdot 4x^3 - 4\cdot 3x^2 + 3\cdot 2x^1 - 2\cdot 1 + 0 = \underline{\underline{20x^3 - 12x^2 + 6x - 2}}$$
$$f''(x) = 20\cdot 3x^2 - 12\cdot 2x^1 + 6\cdot 1 - 0 = \underline{\underline{60x^2 - 24x + 6}}$$
$$f'''(x) = 60\cdot 2x^1 - 24\cdot 1 + 0 = \underline{\underline{120x - 24}}$$

ب - $f(x) = (a^2 + x^2)(a^2 - x^2)$

اول- حل د صرب له لاري(د بینوم دریمه جمله)

$$f(x) = a^4 - x^4 \Rightarrow f'(x) = \underline{\underline{-4x^3}} \Rightarrow f''(x) = \underline{\underline{-12x^2}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{-24x}}$$

دویم – د ضرب د قانون له مخې حل(مفصل)

$$f(x) = \underbrace{(a^2 + x^2)}_{u}\underbrace{(a^2 - x^2)}_{v} \Rightarrow u' = 2x \quad v' = -2x$$
$$f'(x) = u'v + uv' = 2x\cdot(a^2 - x^2) + (a^2 + x^2)(-2x)$$
$$= 2a^2x - 2x^3 - 2a^2x - 2x^3 = \underline{\underline{-4x^3}}$$
$$f''(x) = \underline{\underline{-12x^2}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{-24x}}$$

پ- $f(x) = -2x^4 + 3x^2 - 4x + 2$

$f'(x) = -8x^3 + 6x - 4 \qquad f''(x) = -24x^2 + 6 \qquad f'''(x) = -48x$

ت - $f(x) = 0,5x^4 - x^3 + 2,5x^2 - 8$

$f'(x) = 2x^3 - 3x^2 + 5x \qquad f''(x) = 6x^2 - 6x + 5 \qquad f'''(x) = 12x - 6$

ټ –

$$f(x)=\frac{1}{32}x^3+\frac{3}{2}x-4$$

$$f'(x)=\frac{1}{32}\cdot 3x^2+\frac{3}{2}\cdot 1-0=\underline{\underline{\frac{3}{32}x^2+\frac{3}{2}}}$$

$$f''(x)=\frac{3}{32}\cdot 2x^1+0=\underline{\underline{\frac{3}{16}}}x \qquad f'''(x)=\frac{3}{16}\cdot 1=\underline{\underline{\frac{3}{16}}}$$

ث –

$$f(x)=-\frac{5}{6}x^2+\frac{2}{3}x+\frac{5}{2}$$

$$f'(x)=-\frac{5}{3}x+\frac{2}{3} \qquad f''(x)=-\frac{5}{3} \qquad f'''(x)=0$$

دويم: الف- $f(x)=-(x-6)^2(x+1)$

- حل د ضربولو له لارې

$$f(x)=-\left(x^2-12x+36\right)(x+1)=-\left[x^3+x^2-12x^2-12x+36x+36\right]$$

$$=-\left[x^3-11x^2+24x+36\right]=-x^3+11x^2-24x-36$$

$$f'(x)=\underline{\underline{-3x^2+22x-24}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{-6x+22}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{-6}}$$

دوي – حل د ځنزيري قانون له مخې.

$$f(x)=-\underbrace{(x-6)^2}_{u}\underbrace{(x+1)}_{v} \qquad u'=2(x-6)\cdot 1=2x-12 \qquad v'=1$$

$$f'(x)=-\left[u'v+uv'\right]=-\left[(2x-12)(x+1)+(x-6)^2\cdot 1\right]=$$

$$-\left[2x^2+2x-12x-12+x^2-12x+36\right]=-\left[3x^2-22x+24\right]=-3x^2+22x-24$$

$$\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{-6x+22}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{-6}}$$

ب -

$$f(x)=\frac{1}{2}\left(x^2-2\right)^2$$

اول – حل د ضربولو له لارې

$$f(x)=\frac{1}{2}\underbrace{\left(x^2-2\right)^2}_{\text{2. bin. Formel}}=\frac{1}{2}\left(x^4-4x^2+4\right)=\frac{1}{2}x^4-2x^2+2$$

$$f'(x)=\underline{\underline{2x^3-4x}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{6x^2-4}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{12x}}$$

یادونه: په پورته کې 2.bin.Formel د دویم بینوم فرمول په معنا دی.

دویم-د ځنزیري قانون سره حل:

$$f'(x)=\frac{1}{2}\left(x^2-2\right)^2=\frac{1}{2}\cdot 2\left(x^2-2\right)\cdot 2x=2x\left(x^2-2\right)=\underline{\underline{2x^3-4x}}$$

$$f''(x)=\underline{\underline{6x^2-4}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{12x}}$$

پ-

$$f(x)=\frac{1}{16}\left(x^3+x-1\right)$$

$$f'(x)=\frac{1}{16}\left(3x^2+1\right)=\underline{\underline{\frac{3}{16}x^2+\frac{1}{16}}}\qquad f''(x)=\underline{\underline{\frac{3}{8}x}}\qquad f'''(x)=\underline{\underline{\frac{3}{8}}}$$

ت –

$$f(x)=x\left(x^2-\frac{3}{2}x-4\right)=x^3-\frac{3}{2}x^2-4x$$

$$f'(x)=\underline{\underline{3x^2-3x-4}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{6x-3}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{6}}$$

د لته به د ضرب قانون استعمال لرې غزېدلی وی.

ټ –

$$f(x) = ax^4 + bx^2 + c$$

$$f'(x) = 4ax^3 + 2bx \qquad f''(x) = 12ax^2 + 2b \qquad f'''(x) = 24ax$$

ث –

$$f(x) = ax^3 + bx^2 + cx + d$$

$$f'(x) = 3ax^2 + 2bx + c \qquad f''(x) = 6ax + 2b \qquad f'''(x) = 6a$$

دريم: الف-

$$f(x) = \frac{k}{2}x^4 - 2kx^3 + k^2$$

$$f'(x) = 2kx^3 - 6kx^2 \qquad f''(x) = 6kx^2 - 12kx \qquad f'''(x) = 12kx - 12k$$

ب –

$$f(x) = \frac{1}{k}x^3 + kx^2 + \underbrace{(k+1)}_{\text{Konstante}}x$$

$$f'(x) = \frac{3}{k}x^2 + 2kx + (k+1)\cdot 1 = \underline{\underline{\frac{3}{k}x^2 + 2kx + \underbrace{k+1}_{\text{Konstante}}}}$$

$$\Rightarrow f''(x) = \underline{\underline{\frac{6}{k}x + 2k}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{\frac{6}{k}}}$$

يادونه: دلته او په لاندې حل کې Konstante د ثابتې په معنا دی.

پ-

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 + ax^2 + \underbrace{\left(a - \frac{1}{2}\right)}_{\text{Konstante}}x - 3$$

$$f'(x)=\frac{3}{4}x^2+2ax+\left(a-\frac{1}{2}\right)\cdot 1=\underline{\underline{\frac{3}{4}x^2+2ax+a-\frac{1}{2}}}$$

$$\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{\frac{3}{2}x+2a}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{\frac{3}{2}}}$$

ت - $f(x)=\frac{1}{2k}\left(x^2-k\right)^2$

اول – د ضرب له لارې حل (د بینوم دویم فرمول)

$$f(x)=\frac{1}{2k}\left(x^2-k\right)^2=\frac{1}{2k}\left(x^4-2kx^2+k^2\right)=\frac{1}{2k}x^4-x^2+\frac{1}{2}k$$

$$f'(x)=\underline{\underline{\frac{2}{k}x^3-2x}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{\frac{6}{k}x^2-2}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{\frac{12}{k}x}}$$

دویم : د ځنزیري قانون له مخې (ساده دی)

$$f'(x)=\frac{1}{2k}\cdot 2\left(x^2-k\right)\cdot 2x=\frac{2}{k}x\left(x^2-k\right)=\underline{\underline{\frac{2}{k}x^3-2x}}$$

$$\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{\frac{6}{k}x^2-2}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{\frac{12}{k}x}}$$

ټ -
$$f(t)=5t^3-2t+5$$
$$f'(t)=15t^2-2 \qquad f''(t)=30t \qquad f'''(t)=30$$

ث –
$$f(z)=-1{,}5z^3+2{,}5z^2+z$$
$$f'(z)=-4{,}5z^2+5z+1 \qquad f''(z)=-9z+5 \qquad f'''(z)=-9$$

څلورم:

الف-

$$A(u)=\frac{1}{2}u^2+3u+2u+1$$
$$A'(u)=u+5 \qquad A''(u)=1 \qquad A'''(u)=0$$

ب –

$$A(u)=\frac{1}{2}u\left(u^2+1\right)=\frac{1}{2}u^3+\frac{1}{2}u$$
$$A'(u)=\underline{\underline{\frac{3}{2}u^2+\frac{1}{2}}}\Rightarrow A''(u)=\underline{\underline{3u}}\Rightarrow A'''(u)=\underline{\underline{3}}$$

د لته به د ضرب قانون لرې غزيدلی وی.

پ-

$$f(x)=2\pi x^5-7x^3+\frac{3}{\pi}$$
$$f'(x)=10\pi x^4-21x^2 \qquad f''(x)=40\pi x^3-42x \qquad f'''(x)=120\pi x^2-42$$

ت -

$$f(x)=\frac{x^2+2x+1}{x+1}$$

اول- د تابع ترم د ترم بنه بدلون له لارې ساده کونه:

-

$$f(x)=\frac{x^2+2x+1}{x+1}=\frac{(x+1)(x+1)}{x+1}=x+1$$
$$f'(x)=\underline{\underline{1}}\Rightarrow f''(x)=\underline{\underline{0}}\Rightarrow f'''(x)=\underline{\underline{0}}$$

دويم – د وېش قانون استعمال (زيات وخت نيسي)

$$f(x)=\frac{x^2+2x+1}{x+1}$$

د $t\ u = x^2 + 2x + 1 \Rightarrow u' = 2x + 2$ سره

او $v = x+1 \Rightarrow y' = 1$ همداسي له $v^2 = (x+1)^2$ څخه لرو:

$$f'(x) = \frac{u'v - uv'}{v^2} = \frac{(2x+2)(x+1) - (x^2+2x+1)\cdot 1}{(x+1)^2} = \frac{2x^2+4x+2-x^2-2x-1}{(x+1)^2}$$

$$= \frac{x^2+2x+1}{(x+1)^2} = \frac{(x+1)^2}{(x+1)^2} = \underline{\underline{1}} \Rightarrow f''(x) = \underline{\underline{0}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{0}}$$

د وېش قانون دي فقط په هغه حالتونو کي اسمعمال شي، که تابعترم په بله لار نه شي ساده کېدی.

ت - $f(x) = \dfrac{x^2-2x+1}{x-1}$

اول – تابعترم د ترم بدلون له لارې ساده کړی

$$f(x) = \frac{x^2-2x+1}{x-1} = \frac{(x-1)(x-1)}{x-1} = x-1$$

$$f'(x) = \underline{\underline{1}} \Rightarrow f''(x) = \underline{\underline{0}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{0}}$$

د وېش قانون باندې صرف دظر کېږي.

ث - $f(x) = \dfrac{x^2-1}{x+1}$

اول – تابعترم د ترم بدلون له لارې ساده کړی

$$f(x) = \frac{x^2-1}{x+1} = \frac{(x+1)(x-1)}{x+1} = x-1$$

$$f'(x) = \underline{\underline{1}} \Rightarrow f''(x) = \underline{\underline{0}} \Rightarrow f'''(x) = \underline{\underline{0}}$$

د ویش قانون باندې صرف نظر کیږي.

ج =
$$f(x)=\frac{4x^2+12x+9}{2x+3}$$

اول – تابعترم د ترم بدلون له لارې ساده کړی

$$f(x)=\frac{4x^2+12x+9}{2x+3}=\frac{(2x+3)(2x+3)}{2x+3}=2x+3$$

$$f'(x)=\underline{2}\Rightarrow f''(x)=\underline{0}\Rightarrow f'''(x)=\underline{0}$$

د وېش له قانون څخه تیرېږو

چ -
$$f(x)=\frac{\left(x^2+4x+4\right)^2}{x+2}$$

اول – تابعترم د ترم بدلون له لارې ساده کړی

$$f(x)=\frac{\left(x^2+4x+4\right)^2}{x+2}=\frac{\left[(x+2)^2\right]^2}{x+2}=\frac{(x+2)^4}{x+2}=(x+2)^3$$

دویم – ځنزیري قانون استعمال کړی:

$$f'(x)=3(x+2)^2\cdot 1=3\left(x^2+4x+4\right)=\underline{\underline{3x^2+12x+12}}$$

$$\Rightarrow f''(x)=6x+12\Rightarrow f'''(x)=6$$

د ویش قانون باندې صرف نظر کیږي.

پنځم:

الف-

$$f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x$$

$$f'(-4) = 2 - \frac{1}{2}\cdot(-4) = 2 + 2 = 4$$

$$f'(-1) = 2 - \frac{1}{2}\cdot(-1) = 2 + \frac{1}{2} = 2,5$$

$$f'(0) = 2 - \frac{1}{2}\cdot 0 = 2$$

$$f'(1,5) = 2 - \frac{1}{2}\cdot 1,5 = 2 - 0,75 = 1,25$$

$$f'(3) = 2 - \frac{1}{2}\cdot 3 = 2 - 1,5 = 0,5$$

x	−4	−1	0	1,5	3
f'(x)	4	2,5	2	1,25	0,5

ب - $f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x$

د تانجنت جګیدنه به x0 کې ارزښت 3 لري.

$$f'(x_0) = 3 \Leftrightarrow 2 - \frac{1}{2}x_0 = 3 \Leftrightarrow x_0 = -2$$

$$f(x_0) = f(-2) = 2\cdot(-2) - \frac{1}{4}(-2)^2 = -5$$

د $P(-2|-5)$ په ټکي کې په f(x) باندې تانجنت ارزښت 3 لري.

پ- $f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x \quad P(2|f(2))$

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

د x0 = 2 سره لرو:

$$t(x) = f'(2)(x-2) + f(2)$$

$$f(2) = 2\cdot 2 - \frac{1}{4}\cdot(2)^2 = 4 - 1 = 3 \qquad f'(2) = 2 - \frac{1}{2}\cdot 2 = 2 - 1 = 1$$

$$\Rightarrow t(x) = 1(x-2) + 3 = x - 2 + 3 = \underline{\underline{x+1}}$$

ت –

$$f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x \quad P(2|f(2))$$

$$n(x) = -\frac{1}{f'(x_0)}(x - x_0) + f(x_0)$$

د $x0 = 2$ سره لرو:

$$n(x) = -\frac{1}{f'(2)}(x - 2) + f(2)$$

$$f(2) = 2 \cdot 2 - \frac{1}{4} \cdot (2)^2 = 4 - 1 = 3 \qquad f'(2) = 2 - \frac{1}{2} \cdot 2 = 2 - 1 = 1$$

$$\Rightarrow n(x) = -\frac{1}{1}(x - 2) + 3 = -x + 2 + 3 = \underline{\underline{-x + 5}}$$

پ –



ث - $g(x) = t \cdot f(x) = 2tx - \frac{1}{4}tx^2$

د $g(x)$ صفرځایونه:

$$g(x) = 0 \Leftrightarrow 2tx - \frac{1}{4}tx^2 = 0 \Leftrightarrow x\left(2t - \frac{1}{4}tx\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0 \Rightarrow S_1(0|0)$$

$$2t - \frac{1}{4}tx = 0 \,|\, -2t \Leftrightarrow -\frac{1}{4}tx = -2t \,|:\left(-\frac{1}{4}t\right) \Leftrightarrow x_2 = 8 \Rightarrow S_2(8|0)$$

د S1 او S2 عمودوالی په دې معنا دی چې:

---

g‘(0) د S1(0,0) په تکي کې د t1(x) تانجنت جګوالی دی. د تانجنت t2(x) جګوالی په تکي S2(8,0) کې دې هغه t1(x) ته عمود وي. د دې لپاره باید صدق وکړي:

g’(8)=-1/g’(0) د عمودوالي لپاره شرايط (1)

$$g'(x) = 2t - \frac{1}{2}tx \Rightarrow g'(8) = 2t - \frac{1}{2}t \cdot 8 = 2t - 4t = -2t$$

همداسې $g'(0) = 2t$

په (1) کې ځای په ځای کړی

$$-2t = -\frac{1}{2t} \,|\cdot 2t \Leftrightarrow -4t^2 = -1 \,|:(-4) \Leftrightarrow t^2 = \frac{1}{4} \Leftrightarrow \underline{\underline{t_{1/2} = \pm\frac{1}{2}}}$$

د t=1/2 لپاره صدق کوي.



د t=-1/2 لپاره صدق کوي:



III.3.1د مشتق شميرني قوانين

قضيه (د جمعي يا زياتون قاعده):
که يو تابع $f(x)$ د دوه توابعو $u(x)$ او $v(x)$ د جمعي څخه جوړ وي، نو مشتق يې هم د هر تابع د مشتق د جمعي څخه جوړ دی، يعني:

$$f(x) = u(x) + v(x)$$
$$\Rightarrow f'(x) = u'(x) + v'(x)$$

ښوونه:

$$f(x_0) = u(x_0) + v(x_0)$$
$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{[u(x_0+\Delta x) - u(x_0)] + [v(x_0+\Delta x)] - v(x_0)}{\Delta x}$$
$$\Leftrightarrow f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{[u(x_0+\Delta x) - u(x_0)]}{\Delta x} + \frac{[v(x_0+\Delta x)] - v(x_0)}{\Delta x}$$
$$\Leftrightarrow f'(x_0) = \underbrace{\lim_{\Delta x \to 0}\left[\frac{u(x_0+\Delta x) - u(x_0)}{\Delta x}\right]}_{u'(x_0)} + \underbrace{\lim_{\Delta x \to 0}\left[\frac{v(x_0+\Delta x) - v(x_0)}{\Delta x}\right]}_{v'(x_0)}$$
$$\Leftrightarrow f'(x) = \underline{\underline{u'(x_0) + v'(x_0)}}$$

بیلګه:

د دې ورکړ $f(x)=5x^2+3x$, $u(x)=5x^2$, $v(x)=3x$ توابعو شتق وشمیرئ.

ښوونه:

$$f(x)=5x^2+3x \quad u(x)=5x^2 \quad v(x)=3x$$
$$\Rightarrow u'(x)=10x \qquad v'(x)=3$$
$$f'(x)=u'(x)+v'(x)=\underline{\underline{10x+3}}$$

د جمعي قاعده تولزه کونه: که چیرې f_1،f_2،...... ،f_n توابع او k_1،k_2،....، k_n ثابت عددونه وي نو لرو(بې له ښوونې):

$$[k_1 f_1(x)+k_2 f_2(x)+.....+k_n f_n(x)]'$$
$$=k_1 f_1'(x)+k_2 f_2'(x)+.....+k_n f_n'(x)$$

قضیه (د ضرب قاعده):

که $f(x)$ او $g(x)$ دوه توابع وي، نو ښایو:

$$(f(x)\cdot g(x)' = f(x)'\cdot g(x)\cdot g(x)'$$

ښوونه: $\dfrac{f(x)g(x)-f(x_0)g(x_0)}{x-x_0}$

د مناسب فورم- یا بڼه بدلون یعنې په صورت کې د $-f(x_0)g(x)+f(x_0)g(x)$ ورزیاتولو څخه دا لاندې لرو:

$$\frac{f(x)g(x)-f(x_0)g(x_0)}{x-x_0}=\frac{f(x)g(x)-f(x_0)g(x)+f(x_0)g(x)-f(x_0)g(x_0)}{x-x_0}$$
$$=\frac{(f(x)-f(x_0))g(x)+f(x_0)(g(x)-g(x_0))}{x-x_0}$$
$$=\frac{f(x)-f(x_0)}{x-x_0}\cdot g(x)+f(x_0)\cdot\frac{g(x)-g(x_0)}{x-x_0}$$

له پورته څخه لاس راځي یعنې د دواړو لورو لیمیت نیسو یا پوله ټاکو:

$$\lim_{x\to x_0}\frac{f(x)g(x)-f(x_0)g(x_0)}{x-x_0}$$
$$=\lim_{x\to x_0}\frac{f(x)-f(x_0)}{x-x_0}\cdot\lim_{x\to x_0}g(x)+f(x_0)\cdot\lim_{x\to x_0}\frac{g(x)-g(x_0)}{x-x_0}$$
$$=f'(x_0)g(x_0)+f(x_0)g'(x_0)$$

بیلګه:

$$f(x)=x^2\cdot x^3\quad u(x)=x^2\quad v(x)=x^3$$
$$\Rightarrow u'(x)=2x\quad v'(x)=3x^2$$
$$f'(x)=u'(x)\cdot v(x)+u(x)\cdot v'(x)=2x\cdot x^3+x^2\cdot 3x^2=2x^4+3x^4=\underline{\underline{5x^4}}$$

بیلګه:

که $g(x)=x^2-1$ او $h(x)=\sqrt{x}$ ولرو، نو د $f(x)=g(x)h(x)$ مشتق غواړو پیدا کړو.

ښوونه:

په لاندې توګه مخ ته ځو:

$$f(x)=(x^2-1)\sqrt{x},\ f'(x)=2x\sqrt{x}+(x^2-1)\frac{1}{2\sqrt{x}}=\frac{5}{2}x\sqrt{x}-\frac{1}{2\sqrt{x}}$$

قضیه (د وېش قانون):

f او g دې دوه توابع وي. غواړو وښایو:

$$\left[\frac{f(x)}{g(x)}\right]'=\frac{f'(x)g(x)-f(x)g'(x)}{[g(x)]^2}$$

ثبوت: کولای شو، چې دا قضیه له دوه لارو یا طریقو وښایو(ثبوت کړو).

لومړۍ لار:

لومړۍ لار یا طریقه یې په لاندې کې ښایو او دویمه لار دې ګران زده کوونکي وښایي:

$$\left[\frac{f(x)}{g(x)}\right]'=\lim_{h\to 0}\frac{\frac{f(x+h)}{g(x+h)}-\frac{f(x)}{g(x)}}{h}\quad,\quad g(x)\neq 0$$

$$=\lim_{h\to0}\frac{f(x+h)g(x)-f(x)g(x+h)}{g(x+h)g(x)h}$$

$$=\lim_{h\to0}\left[\frac{1}{g(x+h)g(x)}\frac{f(x+h)g(x)-f(x)g(x+h)}{h}\right]$$

غواړو $f(x)\cdot g(x)-f(x)\cdot g(x)$ صورت ته ور زيات کړو، نو لرو:

$$=\lim_{h\to0}\frac{1}{g(x+h)g(x)}\cdot\frac{f(x+h)g(x)-f(x)g(x)+f(x)g(x)-f(x)g(x+h)}{h}$$

$$=\frac{1}{g(x)g(x)}[\lim_{h\to0}g(x)\frac{f(x+h)-f(x)}{h}-\lim_{h\to0}f(x)\frac{g(x+h)-g(x)}{h}]$$

$$=\frac{1}{[g(x)]^2}\left[g(x)\lim_{h\to0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}-f(x)\lim_{h\to0}\frac{g(x+h)-g(x)}{h}\right]$$

$$=\frac{1}{[g(x)]^2}\left[g(x).f'(x)-f(x).g'(x)\right]=\frac{f'(x)g(x)-f(x)g'(x)}{[g(x)]^2}$$

يعني لرو:

$$\left[\frac{f(x)}{g(x)}\right]^{/}=\frac{f'(x)\,g(x)-f(x)g'(x)}{[g(x)]^2}$$

دويمه لار:

د $\frac{1}{g(x)}$: مشتق غواړو پيدا کړو او ښايوچي دی:

$$(f(x))'=\lim_{h\to0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}\quad(\frac{1}{g(x)})'=-\frac{g'(x)}{g^2(x)}\qquad(*)$$

که $f(x)=\frac{1}{g(x)}$ کيږدو نو لرو:

$$(f(x))'=\lim_{h\to0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}$$

$$= \lim_{h\to 0} \frac{\frac{1}{g(x+h)} - \frac{1}{g(x)}}{h}$$

$$= \lim_{h\to 0} \frac{g(x)-g(x+h)}{g(x+h)g(x).h}$$

$$= \frac{\lim_{h\to 0} \frac{g(x+h)-g(x)}{h}}{-\lim_{h\to 0} g(x+h)g(x)} = -\frac{g'(x)}{[g(x)]^2}$$

که دا $\frac{f(x)}{g(x)} = f(x)\frac{1}{g(x)}$ وپش ولرو او وغواړو چې مشتق یې پیدا کړو،نو له پورته ښوونې ، د (*) اړیکې او د ضرب قاعدې له مخې لرو:

$$[\frac{f(x)}{g(x)}]' = [f(x)\frac{1}{g(x)}]'$$

$$= f(x)(\frac{1}{g(x)})' + \frac{1}{g(x)} f'(x)$$

$$= f(x)(\frac{g'(x)}{(g(x))^2}) + \frac{1}{g(x)} f'(x)$$

$$= \frac{-f(x)g'(x)}{[g(x)]^2} + \frac{f'(x)}{g(x)}$$

$$= \frac{f'(x)g(x) - f(x)g'(x)}{[g(x)]^2}$$

یا په لنډه توګه دا لاندې:

$$f(x) = \frac{u(x)}{v(x)}$$

$$\Rightarrow f'(x) = \frac{u'(x)\cdot v(x) - u(x)\cdot v'(x)}{[v(x)]^2}$$

بیلګه:

$$f(x) = \frac{x}{x+2} \quad u(x) = x \quad v(x) = x+2$$

$$\Rightarrow u'(x) = 1 \quad v'(x) = 1 \quad [v(x)]^2 = (x+2)^2$$

$$f'(x) = \frac{u'(x)\cdot v(x) - u(x)\cdot v'(x)}{[v(x)]^2} = \frac{1\cdot(x+2) - x\cdot 1}{(x+2)^2} = \frac{x+2-x}{(x+2)^2} = \underline{\underline{\frac{2}{(x+2)^2}}}$$

$$f(x) = \frac{2x^2+x^3}{x^4} \quad u(x) = 2x^2+x^3 \quad v(x) = x^4$$

$$\Rightarrow u'(x) = 4x+3x^2 \quad v'(x) = 4x^3 \quad [v(x)]^2 = x^8$$

$$f'(x) = \frac{u'(x)\cdot v(x) - u(x)\cdot v'(x)}{[v(x)]^2} = \frac{(4x+3x^2)\cdot x^4 - (2x^2+x^3)\cdot 4x^3}{x^8}$$

$$= \frac{4x^5+3x^6-8x^5-4x^6}{x^8} = \frac{-x^6-4x^5}{x^8} = \frac{-x^5(x+4)}{x^8} = \underline{\underline{-\frac{x+4}{x^3}}}$$

بيلګه:

د $f(x) = \frac{x^2}{x^2-4}$ تابع (د $x^2-4 \neq 0$ سره) مشتق غواړو پيدا کړو.

حل: که چيرې $g(x) = x^2$ او $h(x) = x^2 - 4$

وضع شي نو لرو:
$$g'(x) = 2x$$
$$h'(x) = 2x$$

او د ويش قانون له مخي لرو:

$$f'(x) = \left[\frac{g(x)}{h(x)}\right]' = \frac{g'(x)h(x) - g(x)h'(x)}{[h(x)]^2}$$

$$= \frac{2x(x^2-4) - x^2.2x}{[x^2-4]^2}$$

$$= \frac{-8x}{[x^2-4]^2}$$

تولګه:

کمبنتوپش: (د سيکانت جګيدنه يا منځنى تغير ارزښت)	$\dfrac{\Delta y}{\Delta x} = \dfrac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$
دفرنشلوپش (د تانجنت جګيدنه يا لحضوي تغير ارزښت)	$f'(x) = \lim\limits_{\Delta x \to 0} \dfrac{\Delta y}{\Delta x} = \lim\limits_{\Delta x \to 0} \dfrac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$
د ثابتي يا تل همغي قانون	$f(x) = c \cdot u(x)$ د c =ثابت تي سره $\Rightarrow f'(x) = c \cdot u'(x)$ يا لند: $\boxed{f' = c \cdot u'}$
د جمعي- يا زياتون قانون	$f(x) = u(x) + v(x)$ $\Rightarrow f'(x) = u'(x) + v'(x)$ يا لند: $\boxed{f' = u' + v'}$
د ضرب – يا ځل قانون	$f(x) = u(x) \cdot v(x)$ $\Rightarrow f'(x) = u'(x) \cdot v(x) + u(x) \cdot v'(x)$ يا په لنده بڼه: $\boxed{f' = u' \cdot v + u \cdot v'}$
د ويش قانون زنځيري قانون:	$f(x) = \dfrac{u(x)}{v(x)}$ $\Rightarrow f'(x) = \dfrac{u'(x) \cdot v(x) - u(x) \cdot v'(x)}{[v(x)]^2}$ يا په لنده بڼه: $\boxed{f' = \dfrac{u' \cdot v - u \cdot v'}{v^2}}$ $f(x) = f[z(x)]$ $\Rightarrow f'(x) = \underbrace{f'(z)}_{\text{äußere Ableitung}} \cdot \underbrace{z'(x)}_{\text{innere Ableitung}}$ د باندنى مشتق دننى مشتق

دنورو پسي توابعو مشتق:

مشتق تابعمساوات	تابع مساوات
$f'(x) = e^x$	$f(x) = e^x$
$f'(x) = \cos(x)$	$f(x) = \sin(x)$
$f'(x) = -\sin(x)$	$f(x) = \cos(x)$
$f'(x) = \frac{1}{x}$	$f(x) = \ln(x)$

بیلګه:

$f(x) = x \cdot e^x$ د ضرب قانون: $u' \cdot v + u \cdot v'$ د $u = x ; u' = 1; v = e^x ; v' = e^x$

$f'(x) = 1 \cdot e^x + x \cdot e^x = \underline{\underline{(x+1)e^x}}$ سره.

ثابتي دقانون: $f(x) = 3\ln x$ $f'(x) = 3 \cdot \frac{1}{x} = \frac{3}{x}$

$f(x) = x^2 \cdot \ln x$ دضرب قانون: $u' \cdot v + u \cdot v'$ د

$u = x^2 ; u' = 2x ; v = \ln x ; v' = \frac{1}{x}$ سره

$$f'(x) = 2x \cdot \ln x + x^2 \cdot \frac{1}{x} = 2x\ln x + x = \underline{\underline{(2\ln x + 1)x}}$$

$f(x) = e^{\frac{1}{2}x}$ زنځیری قانون: $f'(x) = f'(z) \cdot z'$

$$z = \frac{1}{2}x \Rightarrow z' = \frac{1}{2} \quad f(z) = e^z \Rightarrow f'(z) = e^z \quad \Rightarrow \quad f'(x) = e^{\frac{1}{2}x} \cdot \frac{1}{2} = \underline{\underline{\frac{1}{2}e^{\frac{1}{2}x}}}$$

$f(x) = 3\cos(x) - 2\sin(x)$ د جمعي قانونو: $v(x) = -2\sin(x)$ $u(x) = 3\cos(x)$

$$\Rightarrow u'(x) = -3\sin(x) \quad v'(x) = -2\cos(x)$$

$$f'(x) = u'(x) + v'(x) = \underline{\underline{-3\sin(x) - 2\cos(x)}}$$

3.III : د مشتقشمیرنې قوانین

پوښتنې

مشتقشمیرنه ۷

لومړی: مشتق یې ونیسئ:

الف- $f(x) = -\frac{1}{8}x^3 + \frac{1}{4}x^2 + \frac{5}{2}x$ ب - $f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + x^2$

پ- $f(x) = -\frac{1}{4}x^4 - \frac{1}{2}x^3 + 3x^2$ ت - $f(x) = 6x^2 - \frac{2}{3}x^4$

ټ - $f(x) = \frac{1}{4}x^4 - \frac{1}{2}x^3$ ث - $f(x) = \frac{2}{3}x^3 - 2x + 3$

ج = $f(x) = \frac{3}{8}x^3 - \frac{3}{2}x$ چ - $f(x) = x^3 - 3x^2 - x + 3$

ح - $f(x) = -\frac{1}{3}x^3 + x^2 - x - 5$ خ = $f(x) = \frac{1}{48}x^4 - \frac{1}{2}x^2$

دویم: د لاندې توابعو مشتق ونیسئ د دې لپاره تاسو ته معلوم مشتققواعد وکاروئ او قاعده چې کاروئ و لیکئ

الف- $f(x) = 4x^3$ ب - $f(x) = 3e^x$ پ- $f(x) = 5\ln x$

ت - $f(x) = x^2 + x$ ټ - $f(x) = 2x^3 - 3x^2$ ث - $f(x) = 4x^5 - 2\ln x + 3e^x$

ج = $f(x) = x \cdot e^x$ چ - $f(x) = x^2 \cdot \ln x$ ح - $f(x) = x^3 \cdot (x^2 - 1)$

دریم: د لاندې توابعو مشتق ونیسئ د دې لپاره تاسو ته معلوم مشتققواعد وکاروئ او قاعده چې کاروئ و لیکئ

الف- $f(x) = \frac{x+1}{x}$ ب - $f(x) = \frac{x}{x+1}$ پ- $f(x) = \frac{(x+1) \cdot e^x}{x}$

ت - $f(x) = (x+1)^2$ ټ - $f(x) = (x^2+1)^2$ ث - $f(x) = e^{\frac{1}{2}x}$

ج = $f(x) = 2ax^3 - 4bx$ چ - $f(x) = e^{ax}$ ح - $f(x) = e^{-(x-2)}$

څلورم: د لاندی توابعو مشفقونه پیدا کړئ:

الف- $f(x) = 3x^3 - 2x^2 + x - 7$ ب - $f(x) = x^2 \cdot e^x \cdot \sqrt{x}$

پ- $f(x) = \frac{x^2 \cdot \sqrt{x} \cdot \sqrt{x^3}}{x^3}$ ت - $f(x) = \frac{2x-1}{x+2}$

ټ - $f(x) = (a^2 + x)^2$ ث - $f(x) = (2x^3 - 3)^2$

پنځم:د لاندی توابعو مشفقونه پیدا کړئ:

الف- $f(x) = \left(x + e^x\right) \cdot \ln x$ ب - $f(x) = \ln(x^2 - 1)$

پ- $f(x) = (x+1) \cdot e^{(x+1)}$ ت - $f(x) = a\ln x - be^x - 3x^2$

ټ - $f(x)=\frac{(x+1)^2}{(x-1)^2}$ ث ــ $f(x)=\sqrt{\frac{3+x}{3-x}}$

شپږم: د لاندې توابعو دریواره مشتق ونئسئ

الف- $f(x)=3x+4$ ب - $f(x)=2x-4+x^3-5x+4x^3$

پ- $f(x)=3x^3+2x^2+x+1$ ت - $f(x)=(2x+1)^3$

ټ - $f(x)=x-x^4+3+x$ ث - $f(x)=1-2x-3x-4x+x^4$

ج = $f(x)=a+b+c^2-x-ax-bx-cx^3-c^3x$ چ ــ $f(x)=4x^3-2x^2+5x-2$

مفصل حلونه

مشتقشمیرنه **۷**

یادونه: په لاندې کې (Sr) د جمعي قانون (Pr) د ضرب قانون، Kettenregelځنزیري قانون (Kr) د ثابتي قانون (Qr) د وېش قانون په معنا دي

لورمړی:

الف- $f(x)=-\frac{1}{8}x^3+\frac{1}{4}x^2+\frac{5}{2}x \Rightarrow f'(x)=-\frac{3}{8}x^2+\frac{1}{2}x+\frac{5}{2}$

ب - $f(x)=-\frac{2}{3}x^3+x^2 \Rightarrow f'(x)=-2x^2+2x$

پ- $f(x)=-\frac{1}{4}x^4-\frac{1}{2}x^3+3x^2 \Rightarrow f'(x)=-x^3-\frac{3}{2}x^2+6x$

ت - $f(x)=6x^2-\frac{2}{3}x^4 \Rightarrow f'(x)=-\frac{8}{3}x^3+12x$

ټ - $f(x)=\frac{1}{4}x^4-\frac{1}{2}x^3 \Rightarrow f'(x)=x^3-\frac{3}{2}x^2$

ث - $f(x)=\frac{2}{3}x^3-2x+3 \Rightarrow f'(x)=2x^2-2$

ج = $f(x)=\frac{3}{8}x^3-\frac{3}{2}x \Rightarrow f'(x)=\frac{9}{8}x^2-\frac{3}{2}$

چ - $f(x)=x^3-3x^2-x+3 \Rightarrow f'(x)=3x^2-6x-1$

ح - $f(x)=-\frac{1}{3}x^3+x^2-x-5 \Rightarrow f'(x)=-x^2+2x-1$

خ = $f(x)=\frac{1}{48}x^4-\frac{1}{2}x^2 \Rightarrow f'(x)=\frac{1}{12}x^3-x$

دويم:

الف- $f(x)=4x^3$ د ثابتي قانون $(Kr)\quad f'(x)=4\cdot(x^3)'=4\cdot 3x^2=\underline{\underline{12x^2}}$

ب - $f(x)=3\cdot e^x \quad (Kr) \quad f'(x)=3\cdot(e^x)'=\underline{\underline{3e^x}}$

پ- $f(x)=3\cdot \ln(x) \quad (Kr) \quad f'(x)=3\cdot[\ln(x)]'=3\cdot\frac{1}{x}=\underline{\underline{\frac{3}{x}}}$

ت - $f(x)=x^2+x$ د جمعي قانون: $f'(x)=\underline{\underline{2x+1}}$

.

ت - $f(x) = 2x^3 - 3x^2 \quad (Sr/Kr) \quad f'(x) = 2\cdot 3x^2 - 3\cdot 2x = \underline{\underline{6x^2 - 6x}}$

ث - $f(x) = 4x^5 - 2\cdot \ln(x) + 3\cdot e^x$

$(Sr/Kr) \quad f'(x) = 4\cdot 5x^4 - 2\cdot \frac{1}{x} + 3\cdot e^x = \underline{\underline{20x^4 - \frac{2}{x} + 3e^x}}$

ج = $f(x) = x\cdot e^x$ د $u'\cdot v + u\cdot v'$ ضرب قانو د $u = x;\ u' = 1;\ v = e^x;\ v' = e^x$:
سره

$f'(x) = 1\cdot e^x + x\cdot e^x = \underline{\underline{(x+1)\,e^x}}$

چ - $f(x)= x^2.\ln x$ (Pr د ضرب قانون) $u'v+uv'$ د $u=x^2;\ u'=2x; v=\ln x; v'=1/x$
سره.

$f(x) = x^2\cdot \ln(x) \quad (Pr): \ u'\cdot v + u\cdot v' \ \text{mit}\ u = x^2;\ u' = 2x;\ v = \ln(x);\ v' = \frac{1}{x}$

$f'(x) = 2x\cdot \ln(x) + x^2\cdot \frac{1}{x} = 2x\cdot \ln(x) + x = \underline{\underline{(2\ln x + 1)\,x}}$

ح - $f(x) = x^3\cdot (x^2 - 1) \quad (Pr/Sr): \ u'\cdot v + u\cdot v'$

د $u = x^3;\ u' = 3x^2;\ v = x^2 - 1;\ v' = 2x$ سره

$f'(x) = 3x^2\cdot (x^2-1) + x^3\cdot 2x = 3x^4 - 3x^2 + 2x^4 = \underline{\underline{5x^4 - 3x^2}}$

دریم: الف-د لاندې پینتو:

$f(x) = \frac{x+1}{x}$ د وېش قانون: $\frac{u'\cdot v - u\cdot v'}{v^2}$

د $u = x+1;\ u' = 1;\ v = x;\ v' = 1;\ v^2 = x^2$ سره

$$f'(x)=\frac{1\cdot x-(x+1)\cdot 1}{x^2}=\frac{x-x-1}{x^2}=-\frac{1}{x^2}$$

ب –

$$f(x)=\frac{x}{x+1}\quad (Qr/Sr):\ \frac{u'\cdot v-u\cdot v'}{v^2}$$

$$\text{mit } u=x;\ u'=1;\ v=x+1;\ v'=1;\ v^2=(x+1)^2$$

$$f'(x)=\frac{1\cdot(x+1)-x\cdot 1}{(x+1)^2}=\frac{x+1-1}{(x+1)^2}=\frac{1}{(x+1)^2}$$

پ- د... سره

$$f(x)=\frac{(x+1)e^x}{x}\quad (Qr/Pr/Sr):\ \frac{u'\cdot v-u\cdot v'}{v^2}$$

$$\text{mit } u=(x+1)e^x;\ u'=e^x+(x+1)e^x;\ v=x;\ v'=1;\ v^2=x^2$$

$$f'(x)=\frac{\left[e^x+(x+1)e^x\right]\cdot x-(x+1)e^x\cdot 1}{x^2}$$

$$=\frac{xe^x+x^2e^x+xe^x-xe^x-e^x}{x^2}=\frac{(x^2+x-1)e^x}{x^2}$$

ت –

$f(x)=(x+1)^2$ ځنزيري قانو: $f'(x)=f'(z)\cdot z'$

$$z=x+1\Rightarrow z'=1\quad f(z)=z^2\Rightarrow f'(z)=2z$$

$$f'(x)=2(x+1)\cdot 1=2(x+1)$$

ټ – $f(x)=(x^2+1)^2$

ځنزيري قانون: $f'(x) = f'(z).z'$

$$z = x^2 + 1 \Rightarrow z' = 2x \quad f(z) = z^2 \Rightarrow f'(z) = 2z$$
$$f'(x) = 2(x^2+1)\cdot 2x = 4x(x^2+1) = \underline{\underline{4x^3 + 4x}}$$

ث - $f(x) = e^{\frac{1}{2}x}$ ځنزيري قانون $f'(x) = f'(z)\cdot z'$

$$z = \frac{1}{2}x \Rightarrow z' = \frac{1}{2} \quad f(z) = e^z \Rightarrow f'(z) = e^z \quad \Rightarrow \quad f'(x) = e^{\frac{1}{2}x}\cdot\frac{1}{2} = \underline{\underline{\frac{1}{2}e^{\frac{1}{2}x}}}$$

ج = $f(x) = 2ax^3 - 4bx \quad (Sr/Kr) \quad \Rightarrow f(x) = 2\cdot 3ax^2 - 4b = \underline{\underline{6ax^2 - 4b}}$

چ - $f(x) = e^{ax}$ ځنزيري قانون: $f'(x) = f'(z).z'$

$$z = ax \Rightarrow z' = a \quad f(z) = e^z \Rightarrow f'(z) = e^z \quad \Rightarrow \quad f'(x) = e^{ax}\cdot a = \underline{\underline{ae^{ax}}}$$

ح -

$f(x) = e^{-(x-2)}$ ځنزيري قانون: $f'(x) = f'(z).z'$

$$z = -(x-2) = -x + 2 \Rightarrow z' = -1 \quad f(z) = e^z \Rightarrow f'(z) = e^z$$
$$\Rightarrow \quad f'(x) = e^{-(x-2)}\cdot(-1) = \underline{\underline{-e^{-(x-2)}}}$$

ځلورم:

الف- $f(x) = 3x^3 - 2x^2 + x - 7 \Rightarrow f'(x) = \underline{\underline{9x^2 - 4x + 1}}$

ب - $f(x) = x^2\cdot e^x\cdot\sqrt{x} = x^2\cdot x^{\frac{1}{2}}\cdot e^x = \underbrace{x^{\frac{5}{2}}}_{u}\cdot\underbrace{e^x}_{v} \Rightarrow f'(x) = u'v + uv'$

د $u = x^{\frac{5}{2}} \Rightarrow u' = \frac{5}{2}x^{\frac{3}{2}}$ او $v = e^x \Rightarrow v' = e^x$ سره لرو:

$$f'(x) = \frac{5}{2}x^{\frac{3}{2}} \cdot e^x + x^{\frac{5}{2}} \cdot e^x = \underline{\underline{\left(\frac{5}{2}x^{\frac{3}{2}} + x^{\frac{5}{2}}\right)e^x}}$$

پ-
$$f(x) = \frac{x^2 \cdot \sqrt{x} \cdot \sqrt{x^3}}{x^3} = \frac{x^2 \cdot x^{\frac{1}{2}} \cdot x^{\frac{3}{2}}}{x^3} = \frac{x^{\frac{4}{2}+\frac{1}{2}+\frac{3}{2}}}{x^3} = \frac{x^{\frac{8}{2}}}{x^3} = \frac{x^4}{x^3} = x \Rightarrow f'(x) = \underline{\underline{1}}$$

ت -
$$f(x) = \frac{2x-1}{x+2} \Rightarrow f'(x) = \frac{u'v - uv'}{v^2}$$

د $u = 2x - 1 \Rightarrow u' = 2$ او $v = x + 2 \Rightarrow v' = 1$ او $v^2 = (x+2)^2$ سره لرو:

$$\Rightarrow f'(x) = \frac{2 \cdot (x+2) - (2x-1) \cdot 1}{(x+2)^2} = \frac{2x + 4 - 2x + 1}{(x+2)^2} = \underline{\underline{\frac{5}{(x+2)^2}}}$$

ټ -
$$f(x) = (a^2 + x)^2 \Rightarrow f'(x) = 2(a^2 + x) \cdot 1 = \underline{\underline{2(a^2 + x)}}$$

ث –

$$f(x) = (2x^3 - 3)^2 \Rightarrow f'(x) = 2(2x^3 - 3) \cdot 6x^2 = 12x^2(2x^3 - 3) = \underline{\underline{24x^5 - 36x^2}}$$

پنځم:

الف-

$$f(x) = \underbrace{(x + e^x)}_{u} \cdot \underbrace{\ln(x)}_{v} \Rightarrow f'(x) = u'v + uv'$$

د $u = x + e^x \Rightarrow u' = 1 + e^x$ او $v = \ln(x) \Rightarrow v' = \frac{1}{x}$ سره كيږي يا لرو:

$$f'(x) = (1+e^x)\cdot\ln(x) + (x+e^x)\cdot\frac{1}{x} = \underline{\underline{\ln x + \ln x\cdot e^x + 1 + \frac{e^x}{x}}}$$

ب –

$f(x) = \ln(x^2-1)$ زنځيري قانون $f'(x) = f'(z)\cdot z'$

$$z = x^2 - 1 \Rightarrow z' = 2x \quad f(z) = \ln(z) \Rightarrow f'(z) = \frac{1}{z}$$

$$\Rightarrow f'(x) = \frac{1}{x^2-1}\cdot 2x = \underline{\underline{\frac{2x}{x^2-1}}}$$

پ- $f(x) = (x+1)\cdot e^{(x+1)} \Rightarrow f'(x) = u'v + uv'$

د $u = (x+1) \Rightarrow u' = 1$ او $v = e^{(x+1)} \Rightarrow v' = e^{(x+1)}$ سره

$$f'(x) = 1\cdot e^{(x+1)} + (x+1)e^{(x+1)} = [1+(x+1)]e^{(x+1)} = \underline{\underline{(x+2)e^{(x+1)}}}$$

ت - $f(x) = a\cdot\ln(x) - b\cdot e^x - 3\cdot x^2 \Rightarrow f'(x) = \underline{\underline{\frac{a}{x} - be^x - 6x}}$

ټ – $f(x) = \frac{(x+1)^2}{(x-1)^2} \Rightarrow f'(x) = \frac{u'v - uv'}{v^2}$

د $u = (x+1)^2 \Rightarrow u' = 2(x+1)$ او $v = (x-1)^2 \Rightarrow v' = 2(x-1)$ او

$v^2 = (x-1)^4$ د سره لرو:

$$f'(x)=\frac{2(x+1)\cdot(x-1)^2-(x+1)^2\cdot 2(x-1)}{(x-1)^4}$$
$$=\frac{(x-1)\left[2(x+1)(x-1)-2(x+1)^2\right]}{(x-1)^4}=\frac{2(x+1)(x-1)-2(x+1)^2}{(x-1)^3}$$
$$=\frac{2\left(x^2-1\right)-2(x+1)^2}{(x-1)^3}=\frac{2x^2-2-2x^2-4x-2}{(x-1)^3}=\frac{-4x-4}{(x-1)^3}=-\frac{4(x+1)}{(x-1)^3}$$

ث ــ

$$f(x)=\sqrt{\frac{3+x}{3-x}}=\left(\frac{3+x}{3-x}\right)^{\frac{1}{2}}\Rightarrow f'(x)=\frac{1}{2}\left(\frac{3+x}{3-x}\right)^{-\frac{1}{2}}\cdot\left(\frac{3+x}{3-x}\right)'$$

د ځنزيري قانون له مخې منځشميرنه:

$$\left(\frac{3+x}{3-x}\right)'=\frac{u'v-uv'}{v^2}\quad u=3+x\Rightarrow u'=1;\ v=3-x\Rightarrow v'=-1;\ v^2=(3-x)^2$$
$$\left(\frac{3+x}{3-x}\right)'=\frac{1\cdot(3-x)-(3+x)\cdot(-1)}{(3-x)^2}=\frac{3-x+3+x}{(3-x)^2}=\frac{6}{(3-x)^2}$$

$$f'(x)=\frac{1}{2}\left(\frac{3-x}{3+x}\right)^{\frac{1}{2}}\cdot\frac{6}{(3-x)^2}=\frac{3(3-x)^{\frac{1}{2}}}{(3+x)^{\frac{1}{2}}\cdot(3-x)^2}=\frac{3(3-x)^{-\frac{3}{2}}}{(3+x)^{\frac{1}{2}}}$$
$$=\frac{3}{(3-x)^{\frac{3}{2}}(3+x)^{\frac{1}{2}}}=\frac{3}{(3-x)(3-x)^{\frac{1}{2}}(3+x)^{\frac{1}{2}}}$$
$$=\frac{3}{(3-x)\left[(3-x)(3+x)\right]^{\frac{1}{2}}}=\frac{3}{(3-x)\left(9-x^2\right)^{\frac{1}{2}}}$$

شپږم:

الف- $f(x)=3x+4 \Rightarrow f'(x)=3 \qquad f''(x)=0 \qquad f'''(x)=0$

ب - $f(x)=2x-4+x^3-5x+4x^3=5x^3-3x-4$
$\Rightarrow f'(x)=15x^2-3 \qquad f''(x)=30x \qquad f'''(x)=30$

پ- $f(x)=3x^3+2x^2+x+1$
$\Rightarrow f'(x)=9x^2+4x+1 \qquad f''(x)=18x+4 \qquad f'''(x)=18$

ت -
$$f(x)=(2x+1)^3$$
$$\Rightarrow f'(x)=3(2x+1)^2\cdot 2=6\left(4x^2+4x+1\right)=24x^2+24x+6$$
$$f''(x)=48x+24 \quad f'''(x)=48$$

ټ - $f(x)=x-x^4+3+x=-x^4+2x+3$
$\Rightarrow f'(x)=-4x^3+2 \qquad f''(x)=-12x^2 \qquad f'''(x)=-24x$

ث –

$$f(x)=1-2x-3x-4x+x^4=x^4-9x+1$$
$$\Rightarrow f'(x)=4x^3-9 \qquad f''(x)=12x^2 \qquad f'''(x)=24x$$

ج- ثابت يا تل همغه=konstant

$$f(x)=\underbrace{a+b+c^2}_{\text{Konstante}}-x-ax-bx-cx^3-c^3x$$
$$f'(x)=-1-a-b-3cx^2-c^3=-3cx^2-\underbrace{a-b-c^3-1}_{\text{Konstante}}$$
$$f''(x)=-6cx \qquad f'''(x)=-6c$$

چ -

$$f(x) = 4x^3 - 2x^2 + 5x - 2$$
$$\Rightarrow f'(x) = 12x^2 - 4x + 5 \qquad f''(x) = 24x - 4 \qquad f'''(x) = 24$$

د جګو درجو مشتق

د لومړي مشتق پرته د لوړو درجو مشتق کونه هم شته، چې د ورپسې مشتق له لارې لاسته راځي
د $f'(x)$ بیا مشتق نیوني سره د $f''(x)$ مشتق تابع لاس ته راځي، چې د دویم مشتقتابع په نامه یادیږي.

بیلګه:

$$f(x) = x^3 + x^2 + x + 1 \Rightarrow f'(x) = 3x^2 + 2x + 1 \Rightarrow \underline{\underline{f''(x) = 6x + 2}}$$

د $f''(x)$ بیا مشتق نیونه و دریم مشتق ته اوداسې نور

$$f(x) = x^3 + x^2 + x + 1 \Rightarrow f'(x) = 3x^2 + 2x + 1 \Rightarrow f''(x) = 6x + 2 \Rightarrow \underline{\underline{f'''(x) = 6}}$$

د $f(x) = \frac{x^3}{3}$ تابع دې ۴ واره مشتق ونیول شي

$$f(x) = \frac{x^3}{3} \Rightarrow f'(x) = \frac{3x^2}{3} = x^2 \Rightarrow f''(x) = 2x \Rightarrow f'''(x) = 2 \Rightarrow f''''(x) = 0$$

د تابع ګراف :

د یوه تابع انځورونه د اړونده مشتق تابع سره

$$f(x)=\frac{x^3}{3}\Rightarrow f'(x)=x^2$$



$$f(x)=\frac{x^3}{3}$$



$$f''(x)=2x\Rightarrow f'''(x)=2\Rightarrow f''''(x)=0$$



$$f'(x)=x^2\Rightarrow f''(x)=2x$$



د ټولو توابعو ګراف په یوه پروت ولاړ سیستم کې(دا ګراف د لاندې بیلګې پسې دی)

بیلګې: اول :	$f(x)=4x^3-2x^2+x-2$ $f'(x)=12x^2-4x+1$ $f''(x)=24x-4$ $f'''(x)=24$



دویم:

$$f(x) = \frac{3}{4}x^3 - 12x^2 + \frac{1}{4}x$$

$$f'(x) = \frac{9}{4}x^2 - 24x + \frac{1}{4}$$

$$f''(x) = \frac{9}{2}x - 24$$

$$f'''(x) = \frac{9}{2}$$

ټولګه:

د $f(x)$ لومړی مشتق د$f(x)$ مشتق تابع $f'(x) = \frac{df(x)}{dx}$ ده :

د$f(x)$ دويم مشتق د $f'(x)$ مشتق تابع $f''(x) = \frac{d^2f(x)}{dx^2}$ دی:

د $f(x)$دريم مشتق د $f''(x)$ مشتق تابع $f'''(x) = \frac{d^3f(x)}{dx^3}$ دی:

په ځانګړي ډول: يو په خوښه وياند – يا راشنل تابع$f(x)$ په خوښه د مشتق قابليت لري.

تانجنت او عمود

د تانجنت جګيدنه

بيلګه:

تابع $f(x) = \frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 1$ لرو.

د تانجنت ميل: د يوه تابع د ګراف ميل په ټکي $P(x_0 \mid f(x_0))$ کې همغه معنی لري، لکه په دې ټکي د تانجنت ميل.

موږ $f(x)$ تابع او د تابع مشتق ټيک په پام کې نيسو.

موږ $f(x) = \frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 1$ مربع تابع لرو

د تابع مشتق $f'(x) = \frac{1}{2}x + \frac{1}{2}$

ارزښتجدول:

x	−5	−4	−3	−2	−1	0	1	2	3	4	5
f(x)	4,75	3	1,75	1	0,75	1	1,75	3	4,75	7	9,75
f '(x)	−2	−1,5	−1	−0,5	0	0,5	1	1,5	2	2,5	3

د $f(x)$ ارزښتجدول څخه لوستلی شو چې د پورته مربع تابع ککرټکی دی: $S(-1,\ 0.75)$
د $x=-1$ ارزښت لپاره $f'(-1)=0$ د ميل تابع ارزښت دی:
دا دا معنی لري، چې په ککرټکي کې د $f'(x)$ ميل صفر دی.
تانجنت په s کې هم دا معنی لري، چې صفر دی، دا هلته پروت(افقي) ځغلي؛ يعني د $x-$ محور سره غبرګ ځغلي.

ګرافونه:

$$f(x) := \frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 1 \qquad f'(x) := \frac{1}{2}x + \frac{1}{2}$$



بيلګه:
$f(x)=2x^3+7x^2+x-7$ تابع لرو:

تانجنت دې پيداکړی شي، چې د $f(x)$ ګراف د $P(-2,\ f(-2))$ په ټکي کې لمسوي،

$$f(x) = 2x^3 + 7x^2 + x - 7 \Rightarrow f'(x) = 6x^2 + 14x + 1 \quad P(-2 \mid f(2)) \Rightarrow x_0 = -2$$
$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$
$$f'(x_0) f'(-2) = 24 - 28 + 1 = -3$$
$$f(x_0) = f(-2) = -16 + 28 - 2 - 7 = 3$$
$$\Rightarrow t(x) = -3(x+2) + 3 = -3x - 6 + 3 = \underline{\underline{-3x - 3}}$$

پایله:

د $f(x)$ تابع ګراف کې تانجنت او عمود په $P(x_0, f(x_0))$ ټکي کې لاندې بڼه لري.

د تانجنت مساوات

$$t(x) = \underbrace{f'(x_0)}_{\text{جګیدنه}}(x - x_0) + f(x_0)$$

د عمود مساوات

$$n(x) = -\underbrace{\frac{1}{f'(x_0)}}_{\text{جګیدنه}}(x - x_0) + f(x_0)\ ; \quad f'(x_0) \neq 0$$

د تانجنت او عمود عمومي فرمولونه:

پیل: تانجنت دې د $f(x)$ ګراف د $P(x_0, f(x_0))$ په ټکي کې لمس کړي. عمود (نورمال) دې د $f(x)$ ګراف د په $P(x_0, f(x_0))$ ټکي کې عمود یا ولاړ غوڅ کړي.

د تانجنت مساوات: $t(x) = m_t \cdot x + b_t$:

د $m_t = f'(x_0)$ سره لیکو:
$$t(x) = f'(x_0) \cdot x + b_t \qquad (1)$$

دا چې $P(x_0), f(x_0))$ تانجنت یو ټکی دی، نو لاس ته راځي:

$$t(x_0) = f(x_0) \Leftrightarrow f'(x_0) \cdot x + b_t = f(x_0)$$
$$\Leftrightarrow b_t = f(x_0) - f'(x_0) \cdot x_0$$

په (1) کې ږدو، نو لر:

$$t(x) = f'(x_0) \cdot x + f(x_0) - f'(x_0) \cdot x_0 = f'(x_0) \cdot x_0 + f(x_0)$$
$$= f'(x_0) \cdot (x - x_0) + f(x_0)$$

عمود (نورمال):

د منحني سره په همغه ټکي کې چې تانجنت په پروت دی، عمود ځغلي.

د عمود میل:

$$m_n = -\frac{1}{m_t} = -\frac{1}{f'(x_0)}$$

$$\Rightarrow n(x) = -\frac{1}{f'(x_0)} \cdot (x - x_0) + f(x_0)$$

بیلګه:

د $f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2$ تابع لرو.

د تابع تانجنت او عمود(نورمال) پیدا کړئ:

حل:په لاندې توګه د تابع مشتق نیسو او ګراف یې(څېره لاندې کښل شوې) کاږو:

x	-4	-1	0	1.5	3
$f'(x)$	4	2.5	2	1.25	0.5

لرو: $f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x$

د تانجنت میل په ټکي x_0 کې د میل ارزښت 3 لري.

$$f'(x_0) = 3 \Leftrightarrow 2 - \frac{1}{2}x_0 = 3 \Leftrightarrow x_0 = -2$$

$$f(x) = f(-2) = 2 \cdot (-2) - \frac{1}{4}(-2)^2 = -5$$

د $P(-2,-5)$ په ټکي کې تانجنت په $f(x)$ باندې ارزښت 3 لري.

$$f(x) = 2x - \frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x) = 2 - \frac{1}{2}x \qquad ,P(2, f(2))$$

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

د $x_0 = 2$ په ځای کې دا لاندې لرو:

$$t(x) = f'(2)(x-2) + f(2)$$

$$f(2) = 2 \cdot 2 - \frac{1}{4} \cdot (2)^2 = 4 - 1 = 3 \qquad f'(2) - \frac{1}{2} \cdot 2 = 2 - 1 = 1$$

$$\Rightarrow t(x) = 1(x-2) + 3 = x - 2 + 3 = \underline{\underline{x+1}}$$

د نورمال يا عمود پيدا کونه:

$$f(x)=2x-\frac{1}{4}x^2 \Rightarrow f'(x)=2-\frac{1}{2}x \ , \quad P(2|f(2))$$

$$n(x)=-\frac{1}{f'(x_0)}(x-x_0)+f(x_0)$$

د $x_0=2$ سره لاندې راکوي:

$$n(x)=\frac{1}{f'(2)}(x-2)+f(2)$$

$$f(2)=2\cdot 2-\frac{1}{4}\cdot(2)^2=4-1=3 \qquad f'(2)-\frac{1}{2}\cdot 2=2-1=1$$

$$\Rightarrow n(x)=-\frac{1}{1}(x-2)+3=-x+2+3=\underline{\underline{-x+5}}$$



د يوې تابع د استعمال بيلګه د تانجنت له پاره :

له ځمکې څخه د وښو په توپۍ يوه زينه ايښول کيږي. دا زينه په درې متره جګوالي توپۍ لمسوي.



د وښو توپې دې د يوه کيښکودي پارابول ځيره ولري، چې بنسټ يې ۴ متره سرور دی او ۴ متره جګوالی لري. غواړو په دې يوه زينه کيږدو، چې د وښو توپې سره تانجنت جوړ کړي.

په کومه زاويه(کونج)بايد دا زينه کيښنول شي؟

د وښو توپې له بيخ څخه دي په کوم لريوالي په څمکه دا زينه کيښنول شي؟



موږ د y محور داسې کاږو،چې د پارابول له ککرې(څوکې) څخه تيرېږي.

پارابول دا لاندې د تابع مساوات لري:

$$f(x) = a_2x^2 + 4$$

$$f(2) = 0 \Leftrightarrow 4a_2 + 4 = 0 \Leftrightarrow a_2 = -1$$

$$\Rightarrow f(x) = -x^2 + 4$$

موږ د x_0 لپاره ارزښت ټاکو:

$$f(x_0) = 3 \Leftrightarrow -x_0^2 + 4 = 3$$

$$\Leftrightarrow x_0^2 = 1 \Leftrightarrow x_{01/2} = \pm 1$$

شميرنه :

د نورو شميرنو لپاره ارزښت 1- = x_0 کاروو. زينه توپې په $P_0(-1,3)$ ټکي کې لمسوي.موږ په $P_0(-1,3)$ ټکي کې د تانجنت مساوات ټاکو:

.

$$f(x) = -x^2 + 4 \quad P_0(-1|3) \Rightarrow \bar{x}_0 = -1;\ \bar{f}(x_0) = 3$$
$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

د $f'(x) = -2x$ سره لاس ته راځي

$$f'(x_0) = f'(-1) = -2 \cdot (-1) = 2$$

$$\Rightarrow t(x) = 2[x - (-1)] + 3 = \underline{\underline{2x + 5}}$$

جوړه زاویه: $\tan\alpha = 2 \Leftrightarrow \underline{\underline{\alpha \approx 63{,}4^0}}$

د زینې او د وښو توپی تر منځ واټن د **f(x)** د صفرځای او د تانجنت**t(x)** د صفرځای ترمنځ واټن دی.

صفرځایونه:

لرو:

$$f(x) = -x^2 + 4 = 0 \Leftrightarrow x^2 = 4 \Rightarrow x_{1/2} = \pm 2$$
$$t(x) = 2x + 5 = 0 \Leftrightarrow x = -2{,}5$$

د x ارزښتونو 2,5- او 2- ترمنځ واټن 0,5 دی.

زینه د وښو د توپی له پښو څخه باید نیم متر لرې کېښول شي.

ددې پوښتنې څخه مو زده کړل، چې د تانجنت مساوات څنګه ټاکل کیږي، چې یو ګراف په تعریف شوي ځای کې لمسوي.

په تولید کې د مشتق استعمال

فعالیت : یوه فابریکه x تولید کوي. په دې تولید د لګښت کیږي، چې دا د تولید په واک کې دی، چې موږ ورته د لګښت تابع وایو او په K(x) سره ښایو.

ځنګه کولی شو، چې د زیات تولید لپاره لګښت را ټیټ کړو؟

د لګښت تابع K(x) د تولید سټ(ډېرۍ) او ټول لګښت تر منځ تړاو انځوروي.

که تولید د Δx شاو خوا کې زیات شي، نو لګښت هم د ΔK په شاو خوا کې زیاتیږي.

کمښتویش (تقسیم تفاضل) $\frac{\Delta K}{\Delta x}$ د منځني لګښت زیاتوالی ښايي، د یوه Δx تولید تغیر سره(منځنی تغیر ارزښت)

د x_0 ځای کې لحضوي تغیر ارزښت د مشتق لګښت بلل کیږي. دا د پوله ارزښت $\lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta K}{\Delta x}$ سره ټاکل کیږي، داپه دې معني، چې د لګښت د تابعK مشتق.

پیژند : د لګښتتابع **K(x)** مشتق د مشتق ارزښت**K'(x)** په نامه یادوو یا یې پوله لګشت**K'(x)** هم بولو.

بیلګه: د لګښت تابع $K(x) = x^3 - 9x^2 + 40x + 94$ دې ورکړ شوې وي.

الف: مشتق ارزښت وټاکئ، یو ارزښت جدول د **K(x)** او **K'(x)** لپاره وکاږئاو په پروتولاړ سیستم یا کواوردیناتسیستم کې یې ګراف وکاږئ.

پوله ارزښت د **I = [0 ; 6]** لپاره په ۱ پل(قدو) پراخوالي سره.

ب : د ډېر کم لګښتزاتوالی و ټاکئ:



لاندې تابع لرو:

$$K(x) = x^3 - 9x^2 + 40x + 94$$

مشتق ارزښت

$$K'(x) = 3x^2 - 18x + 40$$

ارزښت جدول

x	0	1	2	3	4	5	6
K(x)	94	126	146	160	174	194	226
K'(x)	40	25	16	13	16	25	40

خورا کم د لګښتزیاتوالی(لګښتجګېدنه) د پارابول **K'(x)** په ککره(څوکه) کې پروت دی ، یعني هلته چې تانجنت **K'(x)** پروت یا افقي دی

$$K'(x) = 3x^2 - 18x + 40 \Rightarrow K''(x) = 6x - 18$$

د تانجنت د پروتوالي یا افقیت لپاره :

$$K''(x) = 0 \Leftrightarrow 6x - 18 = 0 \Rightarrow \underline{\underline{x = 3}}$$

همدا نتیجه موږ د **K'(x)** لپاره جدول څخه هم لوستلی شوه.

نتیجه په دي معنا ده: کوچنی نرخجګوالی د یوه **x = 3** مقدار څخه لاس ته راوړو، دا هلته **13 GE / ME** دی.

د ي، مربع کارتون(د کلک کاغذ څخه جوړ)څخه ، چې ۲۶ سانتيمتره د اړخ اوږدوالی لري يو بکس جوړوو بې له سرپوښ، چې د x جګوالی لري. الف: د يوه تابع ترم وټاکی، چې د بکس حجم(ډکی) V د x په واکوالي يا تابعيت کي ښايي. ب – ګراف وکاږی او په نږدي توګه يي ماکسيما(خورا جګ) حجم و ټاکی.	

- د يوه روغتون د نرختابع(مصرف تابع)$K(x)$ د ناروغانو ګڼه (تعداد) x او د ټول مصرف ترمنځ اړيکي انځوروي، داسي چې $x = 1$ د 100 ناروغانو معنی او $y = 1$ دی معنی چې 1000 € / Tag. يوزر يورو په ورځ (1000 € / Tag.) .

$$K(x) = x^3 - 9x^2 + 40x + 94$$



الف : د مصرف تابع په خپله کتابچه کي وليکی.
ب : د لګښت تابع مشتق د مشتق لګښت (-مصرف) يا دحدمصرف په نامه ياديږي. تاسو د لګښت زياتيدنه د ناروغانو په واکوالي يا تابعيت کي تشريح کړی. (د $K(x)$ جګيدونه).
$K'(x)$ وټاکی او ګراف يي په وضعيه سيستم (پروت- ولاړ-سيستم) کي انځور کړی

پ : د ناروغانو د کوم تعداد سره د لګښت زياتوال خورا کم دئ؟ دا قيمتونه وشميرئ.

د الجبري توابعو مشتق

د الجبري او نورو توابعو پيژندونه: 1- يو بنسټيز تابع الجبري بلل کيږي، که د ترتيب قانون يې د مساواتو له لارې ورکړ شوی وي،په هغو کې چې په ترمونو کې د مساواتو د متحولو سره فقط الجبري عمليی(جمع،تفريق، ضرب، تقسيم(چې مخرج يې صفر نه وي)توانکونه او جذرنيونه(د توان-اوريښې اکسپوننتونه مثبت او تام عددي دي) کارول شوي وي. 2- ناالجبري توابع ترانسځندنت بلل کيږي، لکه اکسپوننشل-ولوګاريمی- او د زاويو توابع. 3- يو الجبري تابع راشنل بللکيږ ي، که د ترتيب قانون يې د يو مساوات سره ورکړ شوی وي، په کوم کې چې ناپای ډيرې راشنل د شمېر عمليی ((جمع،تفريق، ضرب، تقسيم(چې مخرج يې صفر نه وي)توانکونه او جذرنيونه(د توان-اوريښې اکسپوننتونه مثبت او تام عددي دي)) کارول شوي وي.

بيلګه:
د $f(x)=\sqrt{x}$ تابع ورکړ شوې په x_0 کې د تابع مشتق پيدا کړئ او د مشتق تابع په ګوته کړئ.

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{(\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0})(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0})}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{x_0+\Delta x-x_0}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\Delta x}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}}}$$

$$f'(x_0)\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}}\right)=\frac{1}{\sqrt{x_0}+\sqrt{x_0}}=\frac{1}{2\sqrt{x_0}}$$

نو د x_0 په ځای کې $f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x_0}}$ د تابع $f(x)=\sqrt{x}$ مشتق دی.

د تیرو درسونو پر بنسټ $f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x}}$ د مشتق تابع ده.

د $f(x)=x^q \;;\; q\in Q$ ډوله توابعو مشتق:

د شمیرنې له مخې لاندې لاس ته را وړنې لرو:

تابع	د مشتق تابع	
$f(x)=x$	$f'(x)=1$	$f'(x)=1\cdot x^0$
$f(x)=x^2$	$f'(x)=2\cdot x$	$f'(x)=2\cdot x^1$
$f(x)=x^3$	$f'(x)=3\cdot x^2$	$f'(x)=3\cdot x^2$
$f(x)=\dfrac{1}{x}=x^{-1}$	$f'(x)=-\dfrac{1}{x^2}$	$f'(x)=-1.x^{-2}$
$f(x)=\sqrt{x}=x\dfrac{1}{2}$	$f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x}}$	$f'(x)=\dfrac{1}{2}.x^{-\frac{1}{2}}$

که دا پورته پنځه مشتقونه یو د بل سره پرتله کړو، نو اټکل کیږي، چې لاندې جوړښتقانون باور لري:

د توان (پوتنځ) قانون بې له ښوونې: 1- مختني اکسپوننت د متحولې x تر مخ د فاکتور په څېر لیکل کیږي. 2- نوی اکسپوننت همغه پخوانی اکسپوننت دی، چې په یو کم شوی.	د $f(x)=x^q \;\Rightarrow f'(x)=q\cdot x^{q-1}$ $q\in Q$ سره

بیلګه: د $f(x)=\frac{1}{x^2}$ مشتق پیدا کړئ.

ښوونه:

$$f(x)=\frac{1}{x^2}=x^{-2} \quad \Rightarrow f'(x)=-2x^{-3}=-\underline{\underline{\frac{2}{x^3}}}$$

بیلګه:

د $f(x)=3x^4$ تابع مشتق پیدا کړئ.

ښوونه:

$$f(x)=3x^4 \qquad c=3 \qquad u(x)=x^4 \Rightarrow u'(x)=4x^3$$

$$f'(x)=c\cdot u'(x)=3\cdot 4x^3=\underline{\underline{12x^3}}$$

بیلګه:

غواړو د $f(x)$ تابع مشتق د $x=2$ په ځای کې ونیسو:

$$f(x)=x^2+3$$

$$x=2: \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=4+\Delta x$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(4+\Delta x)=\underline{\underline{4}}$$

$$x=u: \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=2u+\Delta x$$

$$f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(2u+\Delta x)=\underline{\underline{2u}}$$

بیلګه:

د تا بع $f(x)=\frac{1}{x+1}$ مشتق د $x=2$ په ځای کې پیداکړئ.

ښوونه:

$$f(x)=\frac{1}{x+1}$$

$$x=2:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{1}{3(3+\Delta x)}$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{-1}{3(3+\Delta x)}\right)=-\frac{1}{9}$$

$$x=u:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)}$$

$$f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}=\frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)}=-\frac{1}{(u+1)^2}$$

بیلګه 2:

(توان(Potence) مشتق، چې طبیعي جګ عدد یا اکسپوننت لري:

موږ د $1, 2, 3,...$, $y(f(x)=x^n$ تابع لرو او غواړو مشتق یې پیداکړو:

ښوونه: موږ په لاندې توګه مخ ته ځو.

د بینوم جملې په بنسټ په هر x_0 ځای کې دا لاندې باورلري.

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+h)-f(x_0)}{h}=\frac{(x_0+h)^n-x_0^n}{}$$

$$=\frac{\binom{n}{0}x_0^n+\binom{n}{1}x_0^{n-1}h+\binom{n}{2}x_0^{n-2}h^2+...+\binom{n}{n}h^n-x_0^n}{h}$$

$$=\frac{1}{h}\left(x_0^n+nx_0^{n-2}h+\frac{n(n-1)}{2}x_0^{n-2}h^2+...+h^n-x_0^n\right)$$

$$=nx_0^{n-1}+\frac{n(n-1)}{2}x_0^{n-2}h+...+h^{n-1}$$

د $h\to 0$ لپاره تابع $y=x^n$ د x_0 په هرځای کې، د لاندې مشتق سره، د مشتق قابلیت لري:

$$(dy/dx)_{x=x_0} = f'(x) = nx^{n-1}$$

ددې پورته بېلګې بل ډول ښوونه دې د پوښتنې په څېر وي.

د زنځیري توابعو مشتق

د u تابع کېدی شي د v تابع سره وتړل شي، که د د باندني تابع(ځنځیروني قاعده)، پېژند ورشو (دتعریف ساحه) $D(u)$ د دنني تابع د $W(v)$ سره ګډ توکي یا عناصر ولري.

ددې لپاره لیکو: $u^\circ v(x) = u(v(x))$، که د f تابع د $y = f(x) = u(z)$ سره او $z = v(x)$ وي.

اوس د $x = x_0$ ځای کې د $y = f(g(x))$ تړلي یا ځنځیري تابع مشتقوړوالی څېرو:

$$f(x) = f[g(x)]$$
$$\Rightarrow f'(x) = f'(g) \quad . \quad g'(x)$$

دننۍ مشتق د باندنۍ مشتق(دادې ورپورته شي)

ددې لپاره نیسو چې:

1- د $g(x)$ دننۍ تابع د $x = x_0$ په ځای کې مشتقوړ ده. دانو بیا باید د x_0 په یوه معلوم تعریف شوي چاپیریال کی متمادي(نه پریکیدونکی) وي.

موږ لرو : $g(x+h) -> g(x_0)$ د $h -> 0$ لپاره.

همداسې $g(x_0 + h) = g(x_0) + k$ داسې، چې $k -> 0$ د $h -> 0$ لپاره.

2- که د $y = f(z)$ دباندنی تابع په $z = z_0 g(x_0)$ کې د مشتق قابلیت ولري.

د $y = f(g(x))$ کمبنتویش کیدی شي په لاندې ډول ورکړ شي او بڼه(فورم) يې هم بدله شي :

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(g(x_0+h)) - f(g(x_0))}{h} = \frac{f(g(x_0+h)) - f(g(x_0))}{g(x_0+h) - g(x_0)}$$

$$= \frac{f(z_0+k) - f(z_0)}{k} . \frac{g(x_0+h) - g(x_0)}{h}$$

که $h -> 0$ لاړه شي (همداسې $k -> 0$ خواته ځي) نو دا اړیکی مشتق ته ځي:

$$\left(\frac{dy}{dx}\right)_{x=x_0} = \left(\frac{d(g(x))}{dx}\right)_{x=x_o} = \left(\frac{df(z)}{dz}\right)_{z=z_o=g(x_0)} . \left(\frac{dg(x)}{dx}\right)_{x=x_0} \quad ;........(*)$$

$$\left(\frac{dy}{dx}\right)_{x=x_0} = \left(\frac{d(g(x))}{dx}\right)_{x=x_o} = \left(\frac{df(z)}{dz}\right)_{z=z_o=g(x_0)} . \left(\frac{dg(x)}{dx}\right)_{x=x_0}$$

که چیرې د ځای په ځای(فیکس) ځای $x = x_0$ لپار بیرته x نیسو، نو کیدی شي چې $(*)$ فرمول په لاندې لنډ ډول ورکړشي او د $y = (z)$, $z = g(x)$ لپاره باور ولري:

$$\frac{dy}{dx} = \frac{\frac{dy}{dz}}{\frac{dx}{dz}} = \frac{dy}{dz} . \frac{dz}{dx};.....................................(**)$$

په پام کې دې وي، چې $\frac{dy}{dx}$ د $z = g(x)$ په ځای کې باید ترتیب(تنظیم) شي.

دا $(*)$ فرمول ځنځیري قاعده(لار،قانون) بلل کیږي او د پورته نیونو یا فرضیو سره باوري دی. دا په ساده ډول په یاد لرلی شو، ځکه چې ښی خوا د کیڼې خوا سره د فورمال dzزیاتیدلو له لارې منځ ته راغلي.

د پورته ښوونې لاس ته راوړنه دا لاندې جمله ده:

جمله :
زنځیري قاعده

لرو : $f(z)=f(g(x))$ ، نود $z=g(x)$ تابع په x او د $y=f(z)$ تابع په $z=g(x)$ کې د مشتق قابليت لري يا مشتقوړ دی، نوترلی ورکړ شوی د $y=f(g(x))$ تابع هم په x کې د مشتق قابليت لري او دا باوري کيږي.

$$\frac{dy}{dx}=\frac{\frac{dy}{dz}}{\frac{dx}{dz}}=\frac{\frac{df}{dg}}{\frac{dx}{dg}}==f\,'(g(x)).g\,'(x)$$

لنډ: $$(fog)'(x)=f(g(x))'$$

بېلګه:

د $f(x)=(x^2+2)^2$ مشتق ونيسئ.

$$f(x)=\left(x^2+2\right)^2$$

Substitution بدلون $+2 \quad f(z)=z^2 \Rightarrow f\,'(z)=2z \quad z\,'(x)=2x$

$$f\,'(x)=f\,'(z)\cdot z\,'(x)=2z\cdot 2x=2\left(x^2+2\right)\cdot 2x=\underline{\underline{4x^3+8x}}$$

د مشتق استعمال په طبيعي علومو

په رياضياتو کې زيات وخت توابع راوړل کيږي، چې د يوې متحولې(اووبنتونې) x په واک کې وي.

په طبيعي پوهنو کې زيات وخت توابع څيړو، چې د وخت په واک کې وي وي.

لکه په شکل کې د يوه توپ د غورځولو وهلې لار (دا وروسته روښانه کيږي)



فعالیت:

ګران زده کوونکي دې د فزیک د درسونو له مخې د چټکتیا او بیړې تعریفونه ور کړي او د لار، وخت، چټکتیا او بیړې فرمولونه دې ولیکي.

بیلګه:

د یوه په برابرډوله بیړه (تعجیل) غورځول شوي شي لپاره د پیل چټکتیا (لومړنی سرعت) $v_0=4\frac{m}{s}$ او $a=1{,}8\frac{m}{s^2}$ بیړې(تعجیل) سره د لار-وخت- قانون په لاندې ډول دی:

$$\boxed{s(t)=\frac{1}{2}at^2+v_0t}$$



حل: د پورته ورکړشوي د v_0 ارزښت لپاره باور لري: $S(t) = 0{,}9t^2+4t$

(t په (ثانیه) ، s(t) په m (متر))

منځنی چټکتیا (سرعت) $\frac{\Delta s}{\Delta t}$ ده)

لحظوی(سملاسي) چټکتیا په لاندې ډول

$$\lim_{\Delta t\to 0}\frac{\Delta s}{\Delta t}=\frac{ds}{dt}=v$$

ده: $\underline{\underline{v = s'(t) = 1{,}8t+4}}$

په v-t - دياګرام کې يوه کرښه لاس ته راځي، دا په دې معنی چې چټکتيا په برابر $\frac{\Delta v}{\Delta t}$ ډول زياتيږي. دا دلته ثابته جګيږنه $a = 1,8\ \frac{m}{s^2}$ ده او بيړه(تعجيل) ده.



د بيړې يا تعجيل لپاره دا لاندې مساوات صدق کوي:

$$v'(t) = \lim_{\Delta t \to 0} \frac{\Delta v}{\Delta t} = a$$



پام : د يوه برابرډوله په بيړه (تعجيلي) خوزښت لپاره لاندې باور لري:

$$\left| s(t) = \frac{1}{2}at^2 + v_0 t \right| \qquad \boxed{v(t) = s'(t) = at + v_0} \qquad \boxed{a(t) = v'(t) = a}$$

د يوې چټکتيا (سرعت) v لپاره د وخت پسې د لار مشتق لپاره $v(t)=s'(t)$ لرو. د $s'(t)$ لپاره داسې $v(t) = s'(t).$ هم ليکو.

فعاليت:۱) د يوه خوزنده تن يا جسم د لار-وخت-دياګرام ورکړ شوی.

الف: دا خوزښت تشريح کړی.

ب : دې پورې اړونده د چټکتيا – وخت – ديا ګرام وکاږی.



---

۲) یوه تیره د پیل چټکتیا $v_0 = 7\frac{m}{s}$ سره عمودي (ولاړه)پورته غورځول کیږي.

د لار-وخت-قانون دی: $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $g = 10\frac{m}{s^2}$ (را ټولي (ګردي شوې)سره.

الف) د کوم وخت وروسته د تیرې چټکتیا (سرعت) صفر دی؟

ب) خورا جګ د میل جګوالی وشمیرئ.



۳) تابع د یوه خوزښت د لار-وخت-دیاګرام ښايي.

الف) د ورځني ژوند څخه یوه بیلګه ورکړئ، د هغې لپاره چې دا تلنه ټیک وي.

د منحني تلنه د $t > 3$ لپاره فزیکي څه مفهوم لري؟

ب) د خوزښت لپاره د لار-وخت-دیاګرام په لاندې ډول دی.

$$s(t) = \frac{1}{2} a \cdot t^2 + v_0 \cdot t$$

a او v_0 وټاکئ

پ) د اړونده بیرې – وخت-دیاګرم وکاږئ او دا تشریح کړئ.

یوه منفي چټکتیا (سرعت) څه معنا لري؟

۴) یوتن(جسم) په پورته ازاده غورځونه کې داسې حرکت کوي ،چې دt وخت کې $S(t)= 5.t^2$ لار وهي.

په وختونو $t=1;2;3$ کې لحظوي چټکتیا(سرعت) وښایئ.

۴ – حل:

لحضوي جټکتیا د سملاسي تغیرارزښت سره په دې لاندې معنا دی:

$$t = 1: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{s(1+\Delta x)-s(1)}{\Delta x} = 10+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره باور لري: $10+5\Delta x \to 10$

$$t = 2: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{s(2+\Delta x)-s(2)}{\Delta x} = 20+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره باور لري:: $20+5\Delta x \to 20$

$\Delta x \to 0$

$$t = 3: \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{s(3+\Delta x)-s(3)}{\Delta x} = 30+5\Delta x \Rightarrow$$

د $\Delta x \to 0$ لپاره باور لري $30+5\Delta x \to 30$

تمرین : لاندې د $f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2 \,;\, x > 0$ تابع ګراف او په ورنږدي توګه د فوټبال میدان کې د توپ الوتنې منحني(کږه) ښايي، چې لاندې څېره لري.



لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

الف:توپ کوم خورا جګ(ماکسیمال) جګوالی لري او د وهلتکي(شوټ شوي ټکي) څخه کوم واټن لري؟

ب : د توپ وهلتکي (شوټ شوي ټکي)څخه توپ څومره لرې بیرته ځمکې ته راځي؟

پ : د لوبې د دفاع دېوال د توپ وهنې ځای څخه ۹ متره لرې او ۲ متره جګ دی. ایا توپ له دې څخه جګ الوزي؟

ت : توپ د تور لاین(د x محور) څخه په ۲ متره جګوالي الوزي. له ګول څخه په کوم لرېوالي دا ازاده شوټ وهل شوی دی؟

تانجنت او نورمال.

تمرینونه**III** :

د **f(x)** ګراف تانجنت په ټکي **P(x_0 | f(x_0)).** کې:

1 - $f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2$

2 - $f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2$

3 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = -1$

4 - $f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1$

5 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1$

6 - $f(x) = x^3 - x^2 - 5x - 2 \qquad x_0 = -\frac{3}{2}$

7 - $f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3$

8 - $f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1$

9 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0$

10 - $f(x) = \frac{1}{3}x^3 - \frac{1}{3}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 1$

حلونه

تمرینونه مشتقشمېرنه III

نتیجې او مفصل حلونه

نتیجې:

لومړی:

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2 \Rightarrow P_0(2|2) \qquad t(x) = -3x + 8$$

دویم:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2 \Rightarrow$$

$$\Rightarrow P_0\left(2 \,\middle|\, \frac{11}{4} = 2{,}75\right) \qquad t(x) = -\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}$$

دریم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = -1 \Rightarrow P_0(-1|\,7) \qquad t(x) = -\frac{3}{2}x + \frac{11}{2}$$

څلورم:

$$f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1|\,2) \qquad t(x) = 9x - 7$$

پنځم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \,\middle|\, \frac{1}{2} = 0{,}5\right) \qquad t(x) = -2x + \frac{5}{2}$$

شپږم:

$$f(x) = x^3 - x^2 - 5x - 2 \quad x_0 = -\frac{3}{2} \Rightarrow P_0\left(-\frac{3}{2} \,\middle|\, -\frac{1}{8}\right) \quad t(x) = \frac{19}{4}x + 7$$

اوم:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3 \Rightarrow P_0(3\,|-1) \qquad t(x) = -\frac{1}{4}x - \frac{1}{4}$$

اتم:

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \,\middle|\, -\frac{9}{2}\right) \qquad t(x) = -6x + \frac{3}{2}$$

نهم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \Rightarrow P_0(0\,|\,4) \qquad t(x) = -4x + 4$$

لسم:

$$f(x) = \frac{1}{3}x^3 - \frac{1}{3}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1|\,0) \qquad t(x) = -\frac{11}{3}x + \frac{11}{3}$$

مفصل حلونه1

لومړی:

شمیرنه:

$$f(x)=x^3-6x^2+9x \qquad x_0=2 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=3x^2-12x+9 \Rightarrow f'(x_0)=f'(2)=12-24+9=-3$$

$$f(x_0)=f(2)=8-24+18=2 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(2|2)}}$$

$$t(x)=-3(x-2)+2=-3x+6+2=\underline{\underline{-3x+8}}$$

ګرافونه

$$f(x)=x^3-6x^2+9x \qquad x_0=2 \Rightarrow P_0(2|2) \qquad t(x)=-3x+8$$



دويم: شميرنه:

$$f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{9}{4}x^2+\frac{15}{4}x+\frac{9}{4} \qquad x_0=2 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=\frac{3}{4}x^2-\frac{9}{2}x+\frac{15}{4} \Rightarrow f'(x_0)=f'(2)=\frac{3}{4}\cdot 4-\frac{9}{2}\cdot 2+\frac{15}{4}=\frac{12}{4}-\frac{36}{4}+\frac{15}{4}=-\frac{9}{4}$$

$$f(x_0) = f(2) = \frac{1}{4}\cdot 8 - \frac{9}{4}\cdot 4 + \frac{15}{4}\cdot 2 + \frac{9}{4} = \frac{8}{4} - \frac{36}{4} + \frac{30}{4} + \frac{9}{4} = \frac{11}{4} \Rightarrow$$

$$\Rightarrow P_0\left(2 \,\middle|\, \frac{11}{4} = 2{,}75\right)$$

$$t(x) = -\frac{9}{4}(x-2) + \frac{11}{4} = -\frac{9}{4}x + \frac{18}{4} + \frac{11}{4} = \underline{\underline{-\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}}}$$

ګرافونه

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2 \Rightarrow$$

$$\Rightarrow P_0\left(2 \,\middle|\, \frac{11}{4} = 2{,}75\right) \qquad t(x) = -\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}$$



دریم: شمیرنه:

$$f(x)=\frac{1}{2}x^3-\frac{1}{2}x^2-4x+4 \qquad x_0=-1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=\frac{3}{2}x^2-x-4 \Rightarrow f'(x_0)=f'(-1)=\frac{3}{2}+1-4=\frac{3}{2}+\frac{2}{2}-\frac{8}{2}=-\frac{3}{2}$$

$$f(x_0)=f(-1)=\frac{1}{2}\cdot(-1)-\frac{1}{2}\cdot 1-4\cdot(-1)+4=-\frac{1}{2}-\frac{1}{2}+\frac{8}{2}+\frac{8}{2}=7 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(-1|7)}}$$

$$t(x)=-\frac{3}{2}(x+1)+7=-\frac{3}{2}x-\frac{3}{2}+\frac{14}{2}=\underline{\underline{-\frac{3}{2}x+\frac{11}{2}}}$$

گرافونه

$$f(x)=\frac{1}{2}x^3-\frac{1}{2}x^2-4x+4 \qquad x_0=-1 \Rightarrow P_0(-1|7) \qquad t(x)=-\frac{3}{2}x+\frac{11}{2}$$



خلورم: شمیرنه:

$$f(x)=x^3+3x^2-2 \qquad x_0=1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=3x^2+6x \Rightarrow f'(x_0)=f'(1)=3+6=9$$

$$f(x_0)=f(1)=1^3+3\cdot 1^2-2=1+3-2=2 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(1|2)}}$$

$$t(x)=9(x-1)+2=9x-9+2=\underline{\underline{9x-7}}$$

ګراف

$$f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1|2) \qquad t(x) = 9x - 7$$



پنځم: شمیرنه:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = \frac{3}{2}x^2 - x - \frac{5}{2} \Rightarrow f'(x_0) = f'(1) = \frac{3}{2} - 1 - \frac{5}{2} = -2$$

$$f(x_0) = f(1) = \frac{1}{2} - \frac{1}{2} - \frac{5}{2} + 3 = -\frac{5}{2} + \frac{6}{2} = \frac{1}{2} \Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(1 \middle| \frac{1}{2}\right)}}$$

$$t(x) = -2(x - 1) + \frac{1}{2} = -2x + 2 + \frac{1}{2} = \underline{\underline{-2x + \frac{5}{2}}}$$

ګراف

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \middle| \frac{1}{2} = 0,5\right) \qquad t(x) = -2x + \frac{5}{2}$$



شپږم: شمیرنه:

$$f(x)=x^3-x^2-5x-2 \quad x_0=-\frac{3}{2} \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=3x^2-2x-5 \Rightarrow f'(x_0)=f'\left(-\frac{3}{2}\right)=3\cdot\frac{9}{4}-2\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)-5=\frac{27}{4}+\frac{12}{4}-\frac{20}{4}=\frac{19}{4}$$

$$f(x_0)=f\left(-\frac{3}{2}\right)=-\frac{27}{8}-\frac{9}{4}+\frac{15}{2}-2=-\frac{27}{8}-\frac{18}{8}+\frac{60}{8}-\frac{16}{8}=-\frac{1}{8}\Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(-\frac{3}{2}\,\middle|\,-\frac{1}{8}\right)}}$$

$$t(x)=\frac{19}{4}\left(x+\frac{3}{2}\right)-\frac{1}{8}=\frac{19}{4}x+\frac{57}{8}-\frac{1}{8}=\frac{19}{4}x+\frac{56}{8}=\underline{\underline{\frac{19}{4}x+7}}$$

ګراف

$$f(x)=x^3-x^2-5x-2 \quad x_0=-\frac{3}{2}\Rightarrow P_0\left(-\frac{3}{2}\,\middle|\,-\frac{1}{8}\right) \quad t(x)=\frac{19}{4}x+7$$

:



اووم: شمیرنه:

$$f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{5}{4}x^2+\frac{1}{2}x+2 \qquad x_0=3 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=\frac{3}{4}x^2-\frac{5}{2}x+\frac{1}{2} \Rightarrow f'(x_0)=f'(3)=\frac{27}{4}-\frac{15}{2}+\frac{1}{2}=\frac{27}{4}-\frac{30}{4}+\frac{2}{4}=-\frac{1}{4}$$

$$f(x_0)=f(3)=\frac{27}{4}-\frac{45}{4}+\frac{3}{2}+2=\frac{27}{4}-\frac{45}{4}+\frac{6}{4}+\frac{8}{4}=-\frac{4}{4}=-1 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(3\,|-1)}}$$

$$t(x)=-\frac{1}{4}(x-3)-1=-\frac{1}{4}x+\frac{3}{4}-1=-\frac{1}{4}x+\frac{3}{4}-\frac{4}{4}=\underline{\underline{-\frac{1}{4}x-\frac{1}{4}}}$$

گراف

$$f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{5}{4}x^2+\frac{1}{2}x+2 \qquad x_0=3 \Rightarrow P_0(3\,|-1) \qquad t(x)=-\frac{1}{4}x-\frac{1}{4}$$



اتم: شمیرنه:

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = 3x^2 - 3x - 6 \Rightarrow f'(x_0) = f'(1) = 3 - 3 - 6 = -6$$

$$f(x_0) = f(1) = 1 - \frac{3}{2} - 6 + 2 = \frac{2}{2} - \frac{3}{2} - \frac{12}{2} + \frac{4}{2} = -\frac{9}{2} \Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(1 \,\middle|\, -\frac{9}{2}\right)}}$$

$$t(x) = -6(x - 1) - \frac{9}{2} = -6x + 6 - \frac{9}{2} = -6x + \frac{12}{2} - \frac{9}{2} = \underline{\underline{-6x + \frac{3}{2}}}$$

ګراف

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \,\middle|\, -\frac{9}{2} = -4,5\right) \qquad t(x) = -6x + \frac{3}{2}$$



نهم: شمیرنه:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = \frac{3}{2}x^2 - x - 4 \Rightarrow f'(x_0) = f'(0) = -4$$

$$f(x_0) = f(0) = 4 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(0|-4)}}$$

$$t(x) = -4(x - 0) + 4 = \underline{\underline{-4x + 4}}$$

ګراف

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \Rightarrow P_0(0|4) \qquad t(x) = -4x + 4$$



لسم: شمیرنه:

$$f(x)=\frac{1}{3}x^3-\frac{1}{3}x^2-4x+4 \qquad x_0=1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=x^2-\frac{2}{3}x-4 \Rightarrow f'(x_0)=f'(1)=1-\frac{2}{3}-4=\frac{3}{3}-\frac{2}{3}-\frac{12}{3}=-\frac{11}{3}$$

$$f(x_0)=f(1)=\frac{1}{3}-\frac{1}{3}-4+4=\frac{1}{3}-\frac{1}{3}-\frac{12}{3}+\frac{12}{3}=0 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(1|0)}}$$

$$t(x)=-\frac{11}{3}(x-1)+0=\underline{\underline{-\frac{11}{3}x+\frac{11}{3}}}$$

ګرافونه:

$$f(x)=\frac{1}{3}x^3-\frac{1}{3}x^2-4x+4 \qquad x_0=1 \Rightarrow P_0(1|0) \qquad t(x)=-\frac{11}{3}x+\frac{11}{3}$$

.
.



مشتقشمیرنه VII

لومړی: ورکړشوی تابع: $f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x \,;\, x \in \mathbb{R}$ ا

الف- f(x) په کوم ځای کې جګېدنه 2 لري؟

ب- د f(x) جګېدنه په x = 1,5 ځای کی 0,25- ده.

د همدې جګېدنې سره بې له شمېرنې بل ځای ورکړی.

د خپل ګومان په هکله دلیل راوړی

پ - f(x) په کومو تکو کې پروت یا افقي تانجنت لري؟ مساوات یې ورکړی.

ت - په سرچینه کې په $f(x)$ باندې تانجنت وټاکئ

ټ - په $f(x)$ باندې تانجنت د $P (u \mid f(u))$. په ټکي کې وټاکئ

ث - کومه کرښه $f(x)$ په $N (3 \mid 0)$ ټکي کې عمود غوځوي؟

دویم: — $f(x) = \frac{x^4}{4} - \frac{3}{4}x^2 - 1;\ x \in \mathbb{R}$ تابع ورکړ شوې

الف – کرکتریستیکي یا خوبیز ټکي و ټاکئ او اړونده تانجنت یې ورکړئ.

ب- په $f(x)$ باندې تانجنت په ئ $x = 1$ او $x = -1$ د y - محوذ غوځوي یا قطع کوي د دې پوښتنې دلیل راوړئ؟

دریم _ ו $f(x) = -x^4 + 2x^3;\ x \in \mathbb{R}$ تابع ورکړ شوې

الف - $f(x)$ د x محور سره او د ټکو په هکله چې هلته افقي تانجنت لري مطالعه کړئ.

ب- $t(x)$ په $f(x)$ د $P (1 \mid f(1))$ په ټکي تانجنت دی.

د تانجنت مساوات وټاکئ. د $t(x)$ غوځتکئ د $f(x)$ سره وټاکئ.

پ – په کومو ټکو کې $f(x)$ د $1/8$ جګیدنې سره عمود لري؟ د عمود مساوات ورکړئ.

څلور _ ו $f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x;\ x \in \mathbb{R}$ تابع ورکړ شږې ده.

الف- $f(x)$ په کرښیزو ضریبونو تجزیه کړئ او ګراف یې وکاږئ.

ب – په $f(x)$ باندې تانجنتونو مساوات په $x = 2$ کې وټاکئ او دا تانجنت د الف په وضعیه قیمتسیستم کې رسم کړئ..

پ – ټکئ $P (u \mid f(u))$ داسې وټاکئ، چې په P د $f(x)$ په تانجنت د $f(x)$ په سرجینې تانجنت سره غبرګ یعنې موازي وي.

ت – په کوم ځاي کې f(x) خورا کوچنی تانجنت لرئ؟

پنځم- یوه تیګه د v0 = 7 m/s پیل جکتیا یا سرعت سره عمود پورته غورځول کیږي.

د لار-وخت دیاګرام دی: $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $g = 10 \frac{m}{s^2}$ سره.

الف- په کوم وختt کې د تیګې جګوالی صفر دی؟

ب- د جګېدني ماکسیمال جګوالی وشمېری.

حلونه

مشتقشمرنه VII

نتیجې او مفصل حلونه

مفصل حلونه:

لومړی:

الف – $f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x\,;\ f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$

جګوالی پهx0 کې ارزښت 2 لرئ

$$\Rightarrow f'(x_0) = 2 \Leftrightarrow \frac{1}{3}x_0^2 - 1 = 2 \Rightarrow \underline{x_{01/2} = \pm 3}$$

تابع دF(x) $x_{1/2} = \pm 3$ په ځایونو کې جګیدنه 2 لري.

ب - $f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$ یو پارابول او له دې امله محور سیومتري دی.

له $f'(1,5)=0,25$ څخه $f'(-0,25)=-0,25$ لاس ته راځي.

دf(x) $x_{1/2} = \pm 1,5$ په ځای کې0,25- جګیدنه لري.

پ–په f(x) یو پروت یا افقي تانجنت په ټکو کې پروت دی، چې هلته جګوالی صفر وي.

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{3}x^2 - 1 = 0 \Rightarrow x_{1/2} = \pm\sqrt{3}$$
$$f\left(\sqrt{3}\right) = -\frac{2}{3}\sqrt{3}\,;\, f\left(-\sqrt{3}\right) = \frac{2}{3}\sqrt{3} \Rightarrow P\left(\sqrt{3} \mid -\frac{2}{3}\sqrt{3}\right);\, Q\left(-\sqrt{3} \mid \frac{2}{3}\sqrt{3}\right)$$

تانجنتونه کرښې دي، د x - محور سره غبرګې ځغلي.

$$t_1(x) = -\frac{2}{3}\sqrt{3}\,;\, t_2(x) = \frac{2}{3}\sqrt{3}$$

ت –

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x\,;\, f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$$

په سرچینه کې د تانجنت مساوات: x0 = 0

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$
$$f'(x_0) = f'(0) = -1;\, f(x_0) = f(0) = 0$$
$$\Rightarrow t(x) = -1(x - 0) + 0 = \underline{\underline{-x}}$$

ټ –

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x\,;\, f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$$

د تانجنت مساوات د P(u;f(u)) په ټکي کې.

$$t(x) = f'(u)(x-u) + f(u)$$

$$f'(u) = \frac{1}{3}u^2 - 1;\ f(u) = \frac{1}{9}u^3 - u$$

$$t(x) = \left(\frac{1}{3}u^2 - 1\right)(x-u) + \frac{1}{9}u^3 - u = \underline{\underline{\left(\frac{1}{3}u^2 - 1\right)x - \frac{2}{9}u^3}}$$

ث – کربنه، چې f(x) په (0 | 3) N کې غوڅوي، په دې ټکي کې عمود ده.

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x;\ f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1;\ N(3\,|\,0) \Rightarrow x_0 = 3$$

$$n(x) = -\frac{1}{f'(x_0)}(x - x_0) + f(x_0)$$

$$-\frac{1}{f'(x_0)} = -\frac{1}{f'(3)} = -\frac{1}{2};\ f(x_0) = f(3) = 0$$

$$\Rightarrow n(x) = -\frac{1}{2}(x-3) + 0 = \underline{\underline{-\frac{1}{2}x + \frac{3}{2}}}$$

گراف : Die Graphen:



دویم: الف- کرکتریستیک یا خوي ټاکونکي ټکي صفرځایونه دي، چې په دې ټکو کې د تانجنتونو جګوالی دی ، په هغو یاکومو کې چې پروت یا افقي تانجنت شته وي.

$$f(x)=\frac{x^4}{4}-\frac{3}{4}x^2-1;\ f'(x)=x^3-\frac{3}{2}x$$

صفرځایونه: $f(x)=0 \Leftrightarrow \frac{x^4}{4}-\frac{3}{4}x^2-1=0$

بي- یا دوه مربعیز مساوات.

د په ځاي ایښوونې Substitution له لارې حل یا اوبیونه:

$$x^2=z \Rightarrow f(z)=\frac{z^2}{4}-\frac{3}{4}z-1$$

$$f(z)=0 \Leftrightarrow \frac{z^2}{4}-\frac{3}{4}z-1=0 \Rightarrow z_1=4;\ z_2=-1$$

د Z2 لپاره حل نه شته.

$$z_1=4 \Rightarrow x^2=4 \Rightarrow x_{1/2}=\pm 2 \Rightarrow \underline{\underline{P_{x1}(2\,|\,0);\ P_{x2}(-2\,|\,0)}}$$

$$f'(2)=2^3-\frac{3}{2}\cdot 2=\underline{\underline{5}};\ f'(-2)=(-2)^3-\frac{3}{2}\cdot(-2)=-8+3=\underline{\underline{-5}}$$

د پروت تانجنت سره ټکي.

$$f'(x)=0 \Leftrightarrow x^3-\frac{3}{2}x=0 \Rightarrow x_1=0;\ x_{2/3}=\pm\sqrt{\frac{3}{2}}$$

$$P_2(0\,|\,-1);\ P_2\left(\sqrt{\frac{3}{2}}\,\Big|\,-\frac{25}{16}\right);\ P_3\left(-\sqrt{\frac{3}{2}}\,\Big|\,-\frac{25}{16}\right)$$

$$f(x)=\frac{x^4}{4}-\frac{3}{4}x^2-1;\ f'(x)=x^3-\frac{3}{2}x$$

تانجنت په x = 1 او x = -1 کې.

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$t_1(x) = f'(1)(x-1) + f(1)\,;\ t_2(x) = f'(-1)(x+1) + f(-1)$$

د ټکي سیومتري له امله

$$f'(1) = -\frac{1}{2}\,;\ f'(-1) = -f'(1) = \frac{1}{2}$$

د محور سیومتري له امله

$$f(1) = -\frac{3}{2}\,;\ f(-1) = f(1) = -\frac{3}{2}$$

$$t_1(x) = -\frac{1}{2}(x-1) - \frac{3}{2} = \underline{\underline{-\frac{1}{2}x - 1}}$$

$$t_2(x) = \frac{1}{2}(x+1) - \frac{3}{2} = \underline{\underline{\frac{1}{2}x - 1}}$$



دواړه تانجنتونه د y محور په ټکي $P_y(0;-1)$ کې غوڅوي.

ګرافونه:

دريم: الف- $f(x) = -x^4 + 2x^3 \,;\, f'(x) = -4x^3 + 6x^2$

صفرځايونه : $f(x) = 0 \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 = 0 \Rightarrow x_{1/2/3} = 0 \,;\, x_4 = 2$

$\underline{\underline{P_{x1/2/3}(0|0)}}$ درېواره صفرځاي او $\underline{\underline{P_{x4}(2|0)}}$

پروت يا افقي تانجنتونه:

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -4x^3 + 6x^2 = 0 \Rightarrow x_{1/2} = 0 \,;\, x_3 = \frac{3}{2}$$

$$f(0) = 0 \,;\, f\left(\frac{3}{2}\right) = \frac{27}{16} \Rightarrow \underline{\underline{P_{1/2}(0|0) \,;\, P_3\left(\frac{3}{2} \middle| \frac{27}{16}\right)}}$$

ب –

$$f(x) = -x^4 + 2x^3 \,;\, f'(x) = -4x^3 + 6x^2 \,;\, P(1|f(1))$$

په f(x) تانجنت د x0 = 1 ټکي کې د f'(1) = 2 او f(1) = 1 سره.

له دې لاس ته راځي: t(x) = 2x -1

د t(x) غوځېکی د f(x) سره

$$f(x) = t(x) \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 = 2x - 1 \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 - 2x + 1 = 0$$

د P(1;1) سره ځاي په ځاي کونې يا اينووني سره ډبل صفرځايونه

$$x_{1/2} = 1 \Rightarrow (x-1)^2 = x^2 - 2x + 1$$

پولينوموېش:

$$\left(-x^4+2x^3 \qquad -2x+1\right):\left(x^2-2x+1\right)=-x^2+1$$
$$\underline{-\left(-x^4+2x^3-x^2\right)}$$
$$x^2-2x+1$$
$$\underline{-\left(x^2-2x+1\right)}$$

$$-x^2+1=0 \Rightarrow \underline{\underline{x_{3/4}=\pm 1}}$$

F(-1) = -3 => Q(-1;-3) د t(x) د fx) سره یو بل غوځتکی دی.

پ-

$$f(x)=-x^4+2x^3\,;\,f'(x)=-4x^3+6x^2$$
$$n(x)=-\frac{1}{f'(x_0)}(x-x_0)+f(x_0)$$

د عمود جګوالی دی:

$$\frac{1}{8}\Rightarrow -\frac{1}{f'(x_0)}=\frac{1}{8}$$

$$\Leftrightarrow f'(x_0)=-8 \Leftrightarrow -4x^3+6x^2=-8 \Leftrightarrow -4x^3+6x^2+8=0$$

X = 2 د $-4x^3+6x^2+8=0$ یو حل دی (د ازمایینت له لارې پیدا شوی)

هورنر Horner

$$x=2\quad \begin{array}{cccc} -4 & 6 & 0 & 8 \\ & \underline{-8} & \underline{-4} & \underline{-8} \\ -4 & -2 & -4 & 0 \end{array} \Rightarrow \begin{array}{l} -4x^2-2x-4=0 \\ p=\frac{1}{2};\,q=1\Rightarrow D<0 \end{array}$$

بل حل نه شته.

$$x = 2 \Rightarrow x_0 = 2 \Rightarrow n(x) = \frac{1}{8}(x-2) + \underbrace{f(2)}_{0} \Rightarrow n(x) = \underline{\underline{\frac{1}{8}x - \frac{1}{4}}}$$

گرافونه:



خلورم:

الف-

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x$$
$$= x\,\underbrace{\left(x^2 - 6x + 9\right)}$$

	دپینوم دویم فرمول $= x(x-3)^2$ $\Rightarrow P_{x1}(0\,\vert\,0);$ $P_{x2/3}(3\,\vert\,0)$ مماس یا لمستکی

ب-

	$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x$ $f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$ $x_0 = 2$ $t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$ $f'(2) = -3$ $f(2) = 2$ $\Rightarrow t(x) = -3(x-2) + 2$ $= \underline{\underline{-3x + 8}}$

پ –

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x\,;\ f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$$

تانجنت په سرچینه کې $f'(0) = 9$ جګوالی لري.

دې سره غبرګ هر تانجنت همدا یا برابر جګوالی لري پس هر په P(u;f(u)) ټکي همز

$$f'(u) = 9 \Leftrightarrow 3u^2 - 12u + 9 = 9 \Rightarrow u_1 = 0\,;\, u_2 = 4$$
$$u_1 = 0 \Rightarrow f(u_1) = f(0) = 0 \Rightarrow \underline{\underline{P_1(0\,|\,0)}}$$
$$u_2 = 4 \Rightarrow f(u_2) = f(4) = 4 \Rightarrow \underline{\underline{P_2(4\,|\,4)}}$$

ت –

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x;\ f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$$

د $f'(x)$ د $f(x)$ جګېدنه ده، دا پورته لور ته واز پارابول دی.

د هغه مینیموم د هغه غوښتکی یا د تقاطع ټکی دی، هلته $f'(x)$ یو پروت یا افقي تانجنت لري.

شرطونه: $f''(x) = 0$

$$F''(x) = 6x - 12 = 0 \Rightarrow x = 2$$

د $x = 2$ په ځای کي $f(x)$ خورا کمه جګېدنه لري.

$$f(2) = 2 \Rightarrow$$

په $P(2;2)$ ځای کي $f(x)$ خورا کمه جګېدنه لري.

هغه هلته ارزښت $f(2) = -3$ لري.

پنځم:

الف - د $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $v_0 = 7\,\frac{m}{s}$ $: g = 10\,\frac{m}{s^2}$ سره

$$v(t) = s'(t) = v_0 - gt$$
$$v(t) = 0 \Leftrightarrow v_0 - gt = 0 \Rightarrow t = 0,7\ s$$

وروسته له 0,7S تيګه v(t)=0 سرعت لري

ب – د ميلان يا جګېدني خورا لوي يا ماکسيمال جګوالی

کښته لور ته وتز پارابول دی، چې ککرتکی يا رآس يې د غورځوني ماکسيمال جګوالی ورکوي.

د ککرتکي يا رآس شرطونه: $s'(t) = v(t) = 0 \Leftrightarrow t = 0,7\ s$ د دې لپاره پرخه الف وکوری.

خورا لوي جګوالی: $s(0,7) = 2,45$

خورا لوي يا ماکسيمال جګوالی 2,45 m دی.

پوښتنې

مشتقشمېرنه VIII

اول – د يوې فابريکې ټول مصرف د10 ME ماکسيمال توليد په K(x) سره ښايو. د يوه ME د خرڅلاو نرخ 28 GE دی.

$$K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$$

الف – د نرختابع مشتق وشمېرئ. (مشتقارزښت تابع يا پوله نرخ تابع) او ګراف يې وکاږئ. ګراف يې تشريح کړئ.

ب - مينيمال يا خورا کم د مشتقلګښت وشمېرئ.

پ – وښايئ، چې د هر توليد ډېرئ يا سټ مشتقنرخ يا مشتقلګښت مثبت دی.

ت – په کومه ورشو کې ګټې فکر وشي؟

ټ - په کومه ورشو کې ګټه زياتيږي؟

دويم _ د يوه خوزنده جسم يا تن د لار - وخت- دياګرام $s(t)$ ورکړی



الف – دا حرکت تشريح کړی

پ - د اړونده چټکتيا – وخت – دياګرام رسم کړی، که باور ولري:

$v(t) = s'(t).$

دريم – تابع د يوه خوزښت يا حرکت لار د لار – وخت دياګرام کې ښايي.



الف – يو روځنی بېلګه ورکړی، چې دا لار په کوته کولاي شي.

د کږې يا منحني دا لار د $t > 3$ لپاره د فزيکي په څه مفهوم دی؟

ب – د دې خوزښت يا حرکت لپاره د لار – وخت – قانون دی:

$$s(t) = \frac{1}{2} a \cdot t^2 + v_0 \cdot t$$

a او v_0 و ټاکی.

پ – دې سره اړوند د چټکتيا – وخت – دياګرام رسم کړی او دا تشريح کړی. يو منفي سرعت يا جتکتيا په څه معنا دی؟

ځلورم:

د یوه خوزښت د چټکتیا لار ورکړې. دا دیاګرام تشریح کړی. د ممکنه ټوټه کرښو تلنلار په هکله ویناوې وکړې.	

حلونه

مشتقشمیرنه VIII

مفصل ځوابونه:

لومړی:

الف-

الف - $K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$ $K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$ د پولي لګښت ګراف پورته لور ته واز پارابول دی. په ککره یا رآس کې یې پوله لګښت خورا کم دی.	

ب – د خورا کم مشتقلګښت لپاره شرطونه : $K''(x) = 0$

$$K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$$
$$K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$$
$$K''(x) = 6x - 24$$
$$K''(x) = 0 \Leftrightarrow 6x - 24 = 0 \Rightarrow x = 4$$
$$K'(4) = 2$$

له دې لاس ته راځي: د يوه 4ME (څلور ډېرې يا سټ واحدونه)توليد مشتقلګښت د 2GE/ME سره خورا کم دی.

پ –

$K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$ د $K'(4) = 2$ لپاره مثبت دی.

که له نيونې يا فرضيې سره سم $K'(x)$ ، $x \in \mathbb{R}_+$ مثبت وي، د صفرځاي د لرلو اجازه نه شته.

موږ $K'(x)$ په صفرځايونو څېړو:

$$K'(x) = 0 \Leftrightarrow 3x^2 - 24x + 50 = 0$$
$$\Rightarrow p = -8 \,;\, q = \frac{50}{3} \,;\, D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 16 - \frac{50}{3} < 0$$

له دې لاس ته راځي جې حل يا اوبی نه شته.

مشتقلګښت د هر توليد لپاره مثبت دی.

څه چې د ښوولو وو.

ت – د لاس ته راوړنې (يعنې هر څه چې پلورل شوي وي) تابع: $E(x) = 28x$ (له پوښتنې کولو لاس ته راځي).

د ګټې تابع: $G(x) = E(x) - K(x) = -x^3 + 12x^2 - 22x - 40$

ګټه هلته کیږي، چې د ګټې تابع مثبت ارزښت لري.

ازمایو:

$G(5) = 25; G(4) = 0$ ، پس د $G(x)$ صفرځاي $x1 = 4$ دی.

هورنر:

$$\begin{array}{c|cccc} & -1 & 12 & -22 & -40 \\ x=4 & & -4 & 32 & 40 \\ \hline & -1 & 8 & 10 & 0 \end{array} \quad \begin{array}{l} \Rightarrow -x^2 + 8x + 10 = 0 \\ x_{2/3} = 4 \pm \sqrt{26} \Rightarrow \underline{\underline{x_2 \approx 9,1}} \end{array}$$

د $\underline{\underline{4 \le x \le 9,1}}$ لپاره فابریکه په ګټهکار کوي.

ټ- – د ګټې زیاتیدل ځکه، چې $G(x)$ مثبته جګېدنه لري او $G(x) > 0$ دی.

یعنې: $G(x) > 0 \wedge G'(x) > 0$

د $G'(x) = -3x^2 + 24x - 22 > 0$ $x \in \left[4 - \sqrt{\frac{26}{3}} ; 4 + \sqrt{\frac{26}{3}}\right]$ لپاره یا

$x \in [1,05 ; 6,9]$

د ګټې زیاتیدنه: $[4 ; 9,1] \cap [1,05 ; 6,9] = \underline{\underline{[4 ; 6,9]}}$

ګرافونه:



دويم:

الف – له 0 تر 1 s پورې: خوزښت د مساوي پاتې چټكتيا سره .v = 2 m/s له 1 تر 2 s پورې. ځاي په ځاي دريدنه: v = 0 m/s له 2 تر 5 s پورې. خوزښت د مساوي پاتې چټكتيا سره: v = 1/3 m/s	ب- 

دريم: الف – يو شى عمود پورته لور ته غورځول كيږي. د 3 < t لپاره0 > s دى، ادا په دي معنا چي ادا شى د غورځول ځاي څخه لاندي يا كښته دى.

ب - $s(t) = \frac{1}{2}at^2 + v_0 t$ د خوزښت مساوات.

د a او v0 د خوزښا لپاره د ګراف له دوه ټکو څخه کار اخلو.

$$P_1(1|5): s(1) = \frac{1}{2}a + v_0 = 5 \qquad a = -5;\ v_0 = 7,5$$
$$P_2(3|0): s(3) = \frac{9}{2}a + 3v_0 = 0$$

a<0 په دي معنا، چي دا یو ځنډشوی حرکت دی.

	پ - $v(t) = s'(t) = at + v_0 = -5t + 7,5$ چټکتیا په پیل کي مثبت ده، دا په دي معنا چېجسم یا بدن پورته لور ته خوزي. مګر دا کمیږي او t = 1,5 s سره صفر دی. بدن هغه خپل خورا جګ جګوالي ته ورسېده. وریسي جګوالی منفي دی، بدن لویږي، هغه ښکته کښته لور ته خوزي.

څلورم:

0 - 100 m: چټکتیا زیاتیږي.

100 - 150 m چټکتیا براپره پتیږي40 km/h.

150 - 200 m [ټکتیا کمیږي.

---

250 - 300 m چټکتیا برابره پاتیږي..15 km/h :

300 - 400 m چټکتیا زیاتیږي.

له 400 m وروسته چټکتیا ثابته پاتیږي. 40 km/h.

روښانه ونه: په کښته لوېدلي سرک په تعجیل یا په بیړه کیږي، پسي سرک هوار دی.

وریسې سرک مایل په غره پورته کیږي جتکتیا تر 15 km/h پورې کمیږي. پسي کښته لویږي، چې سرعت یا چټکتیا بیرته زیاتیږي. له دې وروسته هغه خورا جګه د 40 km/h چټکتیا یا سرعت ساتلې پاتیږي په دا پسې لر پاتې کرښه باندې.

تولګه :

د کرښې جګیدنه:



د کرښې لپاره د جګیدنې فرمول

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{\text{مخامخ اړخ}}{\text{په پروت اړخ}} = \text{جګیدنه} \qquad \text{یا} \qquad \frac{f(x1)-f(x0)}{x1-x0} = \text{جګیدنه}$$

بيلګه:

ټکی $P_0(2|3)$ او $P_1(5|7)$ په کربنه پراته دي

د $x_0 = 2$ او $f(x_0) = f(2) = 3$ سره

همداسې $x_1 = 5$ او $f(x_1) = f(5) = 7$ د کربنې جګيدنه ده:

جګيدنه= $\text{Steigung} = \dfrac{f(x_1) - f(x_0)}{x_1 - x_0} = \dfrac{f(5) - f(2)}{5-2} = \dfrac{7-3}{5-2} = \underline{\underline{\dfrac{4}{3}}}$

د يوې کربنې جګيدنه

موږ لروده: $\Delta x = x_1 - x_0$

موږ دا مساوات په x1 پسې بنه بدلوو

$$\Delta x = x_1 - x_0 \,|+x_0 \Leftrightarrow \Delta x + x_0 = x_1 \Leftrightarrow \underline{\underline{x_1 = x_0 + \Delta x}}$$

اوس د جګيدنې فرمول کې ليکو:

د $f(x_1)$ په ځای $f(x_0 + \Delta x)$ د $x_1 - x_0$ په ځای Δx

له دې سره د جګيدنې فرمول دا بنه لري:

جګيدنه= $\text{Steigung} = \dfrac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$

دا فرمول کمښت وېش دفرنسوېش بولو.

موږ د دې فرمول باوريوالی د پورته تمرين سره ازمايو.

$P_0(2|3)$ او $x_0 = 2$ $P_1(5|7)$ او $\Delta x = x_1 - x_0 = 5 - 2 = 3$

جګيدنه=

$$\text{Steigung} = \frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} = \frac{f(2+3)-f(2)}{3} = \frac{f(5)-f(2)}{3} = \frac{7-3}{3} = \underline{\underline{\frac{4}{3}}}$$

د يوې کربنې باوريوالی کيدی شي هم د کمبنتوپش سره وتاکل شي.

د سيکانت جګيدنه او د تانجنت جګيدنه

پرابلم: د يوه په خوښه تابع f(x) په ټکي P_0 کې د ګراف جګيدنه څومره لويه ده؟

د سيکانت يا ټوټهووني جګيدنه د P_0 او P_1 ترمنځ منځنی جګيدنه.



د سیکانت سره څه پېښیږي، که موږ ټکی P_1 تل پسې د ټکي P_0 په لور و خوزوو یا بوزو؟



سیکانت یا غوڅووني تل د $f(x)$ګراف ته ور نږدې کیږي.

که P_1 په P_0 ولویږي یا پریوځي، نوره نو بیا سیکانت یا غوڅووني نه شته. دا بیا تانجنت شوی دی.

تانجنت یوه کرښه ده، چې د $f(x)$ ګراف په ټکي P_0 کې لمسوي.

د تعریف یا پیژند له مخې د یوه د ګراف جګیدنه په ټکي P_0 کې د تانجنت د جګوالي سره برابره ده.

کمبنتوېش، دفرنشلوېش، مشتق او د جګیدني تابع

د دې لپاره چې د یوه ګراف $f(x)$ د x_0 په ځای کې یعني په ټکي $P_0\ (x_0 \mid f(x_0))$ کې وشمیرو، کیدی شي دسیکانتجګیدني فرمول لپاره دا ،، دلتا،، تل کوچنی شي، کوم چې

د ټکي P_1 راکښنه د P_0 په لور راکوي یا په ګوته کوي.

(کمبنتوپش) د سیکانت جګیدنه= $\text{Sekantensteigung} = \dfrac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$

د ګراف $f(x)$ جګیدنه د x_0 په ځای کې د پوله جوړوني له لارې راکوي یعني

(دفرنځیالوپش) $\lim\limits_{\Delta x \to 0} \dfrac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$

پوله ارزښت په دې معنا، چې ،، x دلتا،، د صفر په لور هڅیږي، یعني په خوښه کوچنی کیږي، بې له دې چې ټیک صفر شي. ک د ،، x دلتا ،، لپاره ارزښت صفر ایښول شوی وی، نو به و یوه نه تعریف شوي افاده ا وبینه لاس ته راوړې وی.

$$\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} = \frac{f(x_0+0)-f(x_0)}{0} = \frac{f(x_0)-f(x_0)}{0} = \frac{0}{0}$$

تعریف نه

په یاد ولره: د دفرنشلوپش

$$\lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} := f'(x_0) := \frac{dy}{dx}$$

د x_0 په ځای کې د تابع ($f(x$ مشتق یا رابیلیدنه بلل کیږي او د x_0 په ځای کې د ($f(x$ جګیدني لپاره یوه کچه ونه ده

د مشتق بیلګه:

تابع $y=f(x)=x^2$ لرو، غواړو د $x=x0$ په ځای کې مشتق پیداکړو

$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{f(x_0+\Delta x) - f(x_0)}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{(x_0+\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x}$$

$$= \lim_{\Delta x \to 0} \frac{x_0^2 + 2x_0\Delta x + (\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{2x_0\Delta x + (\Delta x)^2}{\Delta x}$$

$$= \lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta x(2x_0 + \Delta x)}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0}(2x_0 + \Delta x) = \underline{\underline{2x_0}}$$

دا چې د $f(x) = x^2$ لپاره ځای $x = x0$ په خوښه ټاکل کیدی شي، د دې تابع لپاره باور لري:　　(د مشتق- یا رابیلیدني تابع) $f(x) = x^2 \Rightarrow f'(x) = 2x$

$f(x) := x^3 + x^2 - 4x - 1$　　$f'(x) := 3x^2 + 2x - 4$



د مشتق – یا رابیلیدني تابع f'(x) په ځای سرې د جګیدني تابع هم وایي، ځکه چې دا ابع د هر تابع ارزښت x لپاره د x په ځای کې د مشتق شوي تابع جګوالی ورکوي.

دا ترځنګ د یوه تابع ګراف دی، هم داسې د مشتق تابع په یوه کواوردینات سیستم کې انځوروي.

د مشتق – یا رابیلیدني تابع f'(x) په ځای سرې د جګیدني تابع هم وایي، ځکه چې دا ابع د هر تابع ارزښت x لپاره د x په ځای کې د مشتق شوي تابع جګوالی ورکوي.

دا پورته ترځنګ د یوه تابع ګراف دی، هم داسې د مشتق تابع په یوه کواوردینات سیستم کې انځوروي

پام ولره:

په افراطي ځایونو (جګټکو، ټیټ ټکو) کې د مشتق تابع هر ځل ارزښت صفر لري.

په اوړونټکو – یا انعطاف ټکوکې (W) د مشتق تابع یو افراطي ځای لري.

یوغږیزوالي

د یوغږیزوالي خویونه:

یوغږیزې توابع(Monotony (یوناني: یوغږیز، برابرېدوله)

جګېدونکې(متزاید)، ټیټېدونکې(متناقص) توابع(جګ-ټیټېدونکې توابع)

که د ټولو $x_1 < x_2$ لپاره دf یوه تابع په یوه اینتروال کې $f(x_1) \leq f(x_2)$ $(f(x_1) \geq f(x_2))$ وي، نو تابع په دې اینتروال کې مونوتون جګېدونکې(- ټیټېدونکې) بلل کیږي، که $f(x_1) = f(x_2)$ په کې اجازه ونه لري، نو دا $f(x_1) < f(x_2)$ $(f(x_1) > f(x_2))$کره یا ټینګه مونوتون جګېدونکې (همغږیز ټیټېدونکې) بلل کیږي.

لاندې قواعد، چې له همغږیزوالي په لاس راځي، د همغږیزوالي حالت لپاره ګټور دي.

دf یوه تابع ټیک هلته د تعریف په ورشو(ساحه) D کې مونوتون جګېدونکې ده، که د خوښې x_1 او x_2 لپاره، چې په D کې پراته دي، باور ولري:

$$x_1, x_2 \in D \;\wedge\; x_1 \neq x_2 \;\Rightarrow \frac{f(x_1) - f(x_2)}{x_1 - x_2} > 0$$

د f يو تابع تيک هلته په D کې مونوتون ټيټېدونکي ده، که د خوښې x_1 او x_2 لپاره، چې په D کې پراته دي، باور ولري:

$$x_1,x_2 \in D \wedge x_1 \neq x_2 \Rightarrow \frac{f(x_1)-f(x_2)}{x_1-x_2}<0$$

يوغږيزوالی (يکنواخت) Monotony جګټيتوالی، د جګټيتوالی جملې

<table>
<tr>
<td>
دا $f(x) = a_1x + a_0$ کربښيز (خطي) تابع خورا ساده تابع ده، چې انحنانه لري. ددې لپاره مسئول يې ثابته جګېدنه يا ثابت ميل $a_1 = \tan(\alpha)$ دی، چېرته چې α د کربښي او مثبت لوريز د x -محور ترمنځ زاويه(کونج) ده.
په مخامخ شکل کې: کربښه د مثبت ميل سره
$a_1>0 \Leftrightarrow \tan\alpha>0$
</td>
<td>


</td>
</tr>
<tr>
<td>
که $0<\alpha<90^0$ يا $0<a_1<\infty$ وي، دا په دې مانا چې $\alpha>0 \vee a_1>0$ همداسي($\Leftrightarrow$)، نو کربښه جګيږي. دا دا معنی لري، چې د جګېدونکي x سره د تابع f(x) ارزښت هم جګيږي.
په مخامخ شکل کې: کربښه د منفي جګيدنې سره: $\tan\alpha<0$ همداسي($\Leftrightarrow$) $a_1<0$
</td>
<td>


داپورته داسي دی: $tan\alpha<0$ همداسي $a_1<0$
</td>
</tr>
</table>

که $90^0<\alpha<180^0$ يا $-\infty<a_1<0$ وي، دا په دې معنی، چې $\alpha<0$ همداسي $a_1<0$، نو کربښه ټيټيږي يا لويږي. دا په دې معنی، چې د جګيدونکي x سره د تابع f(x) ارزښت کوچنی کيږي.

په پورته دواړو حالتونو کې د همغږيزې تابع (يا د جګ-ټيټيدونکې تابع) غږيږو او له يوه مونوتون جګيدونکي تابع ځخه، که $a_1 > 0$ وي. له يوې همغږيز يا مونوتون ټيټيدونکي تابع ځخه ، که$a_1 < 0$ وي.

دا د مونوتوني کلمه په هغو توابعو هم کارول کيږي، چې د منحنيو تلنه راکوي، که فکر وشي، چې په ټوليزه توګه د منحنی د ګراف په هر ټکي تانجنت اينبول کيدی شي.



له دې امله د تابع $f(x) = a_2x^2$ لپاره باور لري:

په اينتروال $I_1 = \{x \mid -\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ کې تابع $f(x)$ مونوتون ټيټيږي. او په اينتروال $I_2 = \{x \mid 0 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ کې $f(x)$ مونوتون جګيږي.

لکه د کرښې په ګراف کې، چې جګيدنه ثابته وه. اوس دا حالت مخ ته نه لرو، يعنې جګيدنه ثابته نه ده، بلکې دا د منحني له يوه ټکې ځخه بل ټکي ته تغير خوري.

د تانجنت جګيدنه >0 ← منحني مونوتون جګيږي

د تانجنت جګيدنه < 0 ← منخني مونوتون ټيټيږي

د تانجنت جګيدنه، که صفر وي، ثابت پاتې کيږي.

روښانه ده چې د$f(x)$ تابع لومړی مشتق $f'(x)$ د تابع ميل (جګوالی) ورکوي. ددې سره د مونوتونی قضيه په لاندې ډول فرمولوو .

قضيه: د$f(x)$ تابع دې په اينتروال Iکې مشتقوړ وي.
۱ که د $f(x)$ تابع په اينتروال Iکې همغږيز – يا مونوتون جګيدونکي وي، نو باور لري:
$f'(x) \geq 0$ د ټولو $x \in I$لپاره

که $f(x)$ په اینټروال I کې مونوتون ټیټیدونکې وي، نو باور لري: $f'(x) \leq 0$ د ټولو $x \in I$ له پاره.

۲ . که $f'(x) \geq 0$ وي، دټولو $x \in I$ لپاره ، نو $f(x)$ په اینټروال I کې مونوتون جګیدونکې ده.

که $f'(x) \leq 0$ وي د ټولو $x \in I$ لپاره ، نو $f(x)$ په ایټروال I کې مونوتون ټیټیدونکې ده.

۳ که $f'(x) > 0$ وي ، د ټولو $x \in I$ لپاره، نو $f(x)$ په اینټروال I کې په کلکه مونوتون جګیدونکې ده

که $f'(x) < 0$ وي د ټولو $x \in I$ لپاره،نو $f(x)$ په اینټروال I کې په کلکه مونوتون ټیټیدونې ده.

د مونوتوني پیژند ورشو (تعریفساحو) ټاکنه بیلګه: د تابع ګراف څخه زیات وخت کېدی شي د مونوتوني ساحې لږ یا زیات ټیک و لوستل شي. د $I_1 = \{-\infty < x < 1\}_{\mathbb{R}}$ لپاره $f(x)$ په کلکه مونوتون جګېدونکی دی. د $I_2 = \{1 < x < 3\}_{\mathbb{R}}$ له پاره $f(x)$ مونوتون ټیټېدونکی ده. د r $I_3 = \{3 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره $f(x)$ په کلکه مونوتون جګیدونکي ده.	$f(x) := \frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x$  جګیدونکی　ټیټیدونکی　جګیدونکی

باور لري: $f'(x) > 0$ لاس ته راځي: کره مونوتون جګیدونکی

$f'(x) < 0:$ لاس ته راځي: کره مونوتون ټیټیدونکی

$$f(x) = \frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x \Rightarrow f'(x) = x^2 - 4x + 3$$

لومړی پل: نا مساوات $f'(x) > 0$ همداسي نامسات $f'(x) < 0:$ حل کوو

دویم پل: د $f'(x)$ توټه کوته په کرښیزو ضربونو یا فاکتورونو

$$f'(x) = (x-1)(x-3)$$

دریم پل : د مخنخښي جدول.

د دوه ضربیونو ضرب تیک هلته زیاتیز یا مثبت دی، که دوړه ضربیونه همغه یا برابره مخ نخشه ولري.

یو د دوه ضیبونو ضرب تیک هلته کمیز یا منفي دی، که دواړه ضربیونه مختلفي مخنښپولري.

	$x = 1$		$x = 3$
Bereich	$x < 1$	$1 < x < 3$	$x > 3$
$x - 1$	$-$	$+$	$+$
$x - 3$	$-$	$-$	$+$
$f'(x)$	$+$	$-$	$+$
$f(x)$ ist streng monoton	wachsend	fallend	wachsend

$f(x)$ جګیدونکی ټیټیدونکی جګیدونکی کره یوغږیز

بیلګه:دا لاندې ګراف لرو

له ګراف څخه لاندې مونوتوني ساحې لوستل کیږي.

د $I_1 = \{-\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتونج ګېدونکي ده.

د $I_2 = \{0 < x < 2\}_{\mathbb{R}}$ له پاره f(x)په کلکه مونوتونجګیدونکي ده.

د $I_3 = \{2 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتون ټیټیدونکي ده.

$$f(x) := \frac{-1}{4}x^4 + \frac{2}{3}x^3 + 2$$



ټیټیدونکي   جګیدونکي، جګیدونکي،

له ګراف څخه لاندې مونوتوني ساحې لوستل کیږي.

د $I_1 = \{-\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتونج ګېدونکي ده.

د $I_2 = \{0 < x < 2\}_{\mathbb{R}}$ له پاره f(x)په کلکه مونوتونجګېدونکي ده.

د $I_3 = \{2 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتون ټیټیدونکي ده.

ځای اړونده افراطي ټکي

یادونه: که په لیکنه انحرافي ټکي ګورئ،نو هغه افراطي ټکي دي.

ترمخ راوړنه او د کلمې روښانه ونه:

د یوه تابع ګراف زسمونه تر اوسه ناکافي وه، ځکه چې جګ او ټیټ ټکی نه پیژندل کیده.

د مشتق شميرنې له لارې موږ هڅيږو، چې دا ستونځې حل(اوبې کړو) کړو.

که د f(x) لپاره د x_0 په ځاي کی f' (x) = 0 ولرو نو يو نسبي ټيټ ټکی مو مخ ته پروت دی.

که دf(x) لپاره د x_0 په ځاي کی f' (x)=0اوf''(x)>0 ولرو نويو نسبي ټيټ ټکمو مخ ته پروت دی.

که ددې برعکس ولرو: f ' (x) = 0 او f '' (x) < 0 ، نو يو نسبي ماکسيموم مو مخ ته پروت دی.

د افراطي ټکي(ټيټ ټکي يا جګ ټکي) لپاره خوي ټاکونکی دی، چی f ' (x) = 0 وي، او د

f '' (x) مخ نښه (+ ، -)، په دې پريکړه کوي چی ايا يو ټيټ ټکی(اصغري ټکی)او که جګ ټکی(اعظمي ټکی) مو مخ ته پروت دی.

د پورته اړيکو لپاره لاندې يادوني اړيينې يا ضرور دي:

۱ – دا اړيکي يواځې د x_0 لپاره ارزښت لري چی د تعريف سټ په دننه کی پروت وي او هلته

د y = f (x) تابع پوره څو ځلې مشتقوړ وي، د غاړو(څنډو) او د هغوځايونو له پاره چی هلته f (x) تابع کم يا هيڅ مشتقوړ نه وي، ځانګړو څيړنو ته اړتيا ده.

۲ - شرايط چی f ' (x) = 0 وي (مشتقوړ تابع) يواځی د يوه انحرافي ارزښت لپاره ضرور دی (ضروري يا اړين شرايط) .

۳– شرايط f ' (x) = 0 او f '' (x) ≠0 د بحراني ټکي لپاره يواځی پوره کيدونکی دی او نه ضروري)

بیلګه :

د $f(x) = x^2 + 2$ تابع ګراف وکاږئ او که بحراني ارزښتونه لري، هغه د ګراف او د مشتق له لارې وټاکئ.

حل:

ګراف: ګراف دې د ګرانو لوستونکو د کور کار وي؟

د بیلګې له ګراف څخه روښانه ده، چې تابع د x=0 په ځاي کې خورا ټیټ ټکی(اصغري-) لري.

د انحراف ټکي له پاره اړیین شرطونه:

۱ – د تابع لومړي مشتق دی: $f'(x) = 2x$ په دې مساوات کې د تابع مشتق د x_0 له پاره صفرځاي لري، یعنې دلته یو بحراني ټکي پروت دی.

۲ – د تابع دویم مشتق: $f(x)'' = 2$. دا چې $f''(x) > 0$ دی، نو یو نسبي ټیټ ټکي مخ ته لرو.

بیلګه : د $y = x^4$ تابع د $x = x_0 = 0$ لپاره نسبي ټیټ ټکی لري او باوري دي

$$f'(x) = 4x^3 \Rightarrow f'(0) = 0$$

$$f''(x) = 12x^2 \Rightarrow f''(0) = 0$$

ګورو چې دوهم مشتق د صفر څخه نه کوچنی او نه لوي دی.

د پورته شنني څخه لاندې پیژند ته راځو:

پیژند : د $x = x_0$ په چاپیریال کې د $y = f(x)$ تعریف شوې تابع یونسبي جګټکی په همدې ډل نسبي ټیټ ټکی لري، که ټولو x_0 ته پوره نږدې x لپاره باور ولري: $f(x) > f(x_0)$ په همدې ډول $f(x) \leq f(x_0)$

جمله : (د یوه نسبي افراطي ټکي لپاره ضروري شرایط):

که په x_0 کی مشتقوړ تابع $y = f(x)$ انحرافي لري نو لرو: $f'(x) = 0$

دا جمله موږ ته وايي (یادونه ۲دې مقایسه شي): چیرته چی $f'(x) \neq 0$ وي نو هلته اکستریموم نه شته، د اکستریموم لپاره یواځي د x_0 ځاي په پوښتنه کی راځي، چی د هغي لپاره لرو $f'(x) = 0$ ، خو حمتي نه ده چی $y = f(x)$ دې یواکستریموم و لري.

جمله : (د یوه افراطي ټکي لپاره پوره کیدونکی شرایط):

که په $x = x_0$ کی دوه واره مشتقوړ تابع $y = f(x)$ لپاره ولرو:

$$f'(x) = 0 \quad , \quad f''(x) \neq 0$$

نو تابع $y = f(x)$ هلته یو افراطي ټکی لري. خورا ټیټ ټکی مخ ته لرو، که وي:

$$f''(x) < 0$$

خورا جګ ټکی مخ ته پروت دی ، که وي:

$$f''(x) > 0$$

له ښی لور انحنا یا کوږوالی اوله کیڼ لور انحنا یا کوږوالی (مقعر او محدب)

که په یوه اینټروال کي د مشتقوړ تابع f دویم مشتق $f''>0$ وي، نو په دې اینټروال کي ګراف کیڼ کوږ شوی یا کینه انحنا لري او که دویم مشتق $f'' < 0$ وي، نو د تابع ګراف ښی کوږ یا ښی انحنا لري.

دوه ځیرې (د لاندې بېلګې ځیره و باسی ؟-)

بیلګه:

ټول ګونګتابع (راشنل تابع) f د $f(x) = x^3 - 2x^2 + 4x - 1$ سره په کومه ورشو(ساحه)کې کینېکوږدی(کینه انحنا لري(ننوتی یا مقعر دی)) او په کومه ورشوکې ښی کوږ دی(ښی انحنا لري(محدب یا وتلی دی)؟

دویم مشتق: (لومړی مشتق(

$f'(x) = 3x^2 - 4x+4$

$f''(x)= 6x-4$

د $6x-4>0 \Rightarrow x > 2/3$ لپاره کینې ګوږوال (کینه انحنا (ننوتی یامقعر)

د $6x-4<0 \Rightarrow x < 2/3$ لپاره ښی کوږوالی(ښی انحنا(وتلی یامحدب))

بیلګه:

د مات راشنل تابع $f(x)=\dfrac{1}{x+2}$ ګراف یو های پارابول دی. د های پارابول کومه څانګه کینه کږه ده یا کینه انحنا لري(مقعر)، او کومه یوه یې ښی کوږوالی - یا ښی انحنا لري(محدب)؟

دویم مشتق : $f'(x)=\dfrac{1}{(x+2)^2}$; $f''(x)=\dfrac{2}{(x+2)^3}$

صورت تل مثبت دی.

د $x < -2$ لپاره د مخرج او همداسې د کسر ارزښت منفي دی. د های بارابول څانګه ښی کوږوالی یا انحنا لري (وتلی یا مخدب).

د لپاره $x > -2$ مخرج او همداسې ټول کسر(مات) مثبت دی.

های بارابول کینکوږ دی یا کینه انحنا لري(ننوتی یامقعر).

ببلګه :

د دواړو توابعو $f(x)=\sqrt{x}$ او $g(x)=\sqrt{x^3}$ کوږوالی(انحنا) دې یو د بل سره پرتله شي.

دواړه توابع د لپاره تعریف دي.

$$f'(x)=\frac{1}{2\sqrt{x}} \qquad g'(x)=\frac{\sqrt{x^3}}{2}$$

$$f''(x)=-\frac{1}{4\sqrt{x^3}} \qquad g''=\frac{3}{4\sqrt{x}}$$

دویم مشتقونه د $x\in R^+$ لپاره تعریف دي.

په دې ساحه کې $f''(x) < 0$ دی. اړونده ګراف ښی کوږوالی یا انحنا لري، دا یو شي لور ته واز پارابول ښایي.

په همدې ساحه کې $f''(x) < 0$ دی. اړونده ګراف کیڼ کوږ دی یا کینه انحنا لري. اړونده ګراف یو کیڼ کوږوالی یا کینه انحنا لري، دا پورته لور ته واز پارابول دی.

د انعطاف ټکي(اوړونټکي)

یادونه: ولې اوړونټکی؟

وبه ګورو، چې په دې ټکي کې ګراف خپله لور اړوي، نو ......

موږ له پورته څیرې اټکل کولی شو چی : که د x_0 ځاي کی دا لاندې ولرو

$f''(x) = 0$ او

$f'''(x) > 0$، نو یو ښی-کیڼ- انعطاف ټکی (اوړونټکی) مو مخ ته پروت دی.

برعکس(په څټ):

که وي: $f''(x) = 0$ او $f'''(x) < 0$ نو یو کیڼ - ښی- د انعطاف ټکی مو مخ ته پروت دی.

د ا نعطافټکي لپاره خوی ټاکونکی دی، چی $f''(x) = 0$ وي ، داچی دا ښی -کیڼ - او که کیڼ- ښی – انعطاف ټکی(اوړونټکي) دی، د $f''(x)$ مخ نښه یی ټاکي.

-شرایط $f''(x) = 0$ د انعطاف ټکي لپاره یواځی اړیین یاضروري دي.

د $y = x^4$ لپاره $f''(0) = 0$ دی، مګر اوړونټکی مو مخ ته نه دی پروت.

–شرایط $f''(x_0) = 0$ او $f'''(x_0) \neq 0$ د انعطافټکي لپاره پوره کیدونکي دي. ګورو چی $y = f(x) = x^5$ تابع د $x = x_0 = 0$ ځاي کی یو انعطافټکی لري او باوري دي:

$$f'(x) = 5x^4 \quad , \quad f'(0) = 0$$

$$f''(x) = 20x^3 \quad , \quad f''(0) = 0$$

$$f'''(x) = 60x^2 \quad , \quad f'''(x) = 0$$

ګورو چي دریم مشتق $f'''(x)$ نه له صفرڅخه کوچنی او نه لوي دی.

ترمخ راوړني او د کلمې روښانه وني:

د دې کلمې د لا نورې روښانه کولو لپاره په لاندې توګه مخ ته ځو:

د بایسکل ځغاستي چي له A څخه ځغلي د منحنی څخه تېرېږي او B ته رسېږي. د همغه وخت د بایسکل ځغاستي د اندل حالت د ځغاستي په وخت کې په پام کې ولری. د کیڼې منحني(د کیڼ لورې د اندل حالت) څخه وروسته د ښی لورې منحني کې ځغلي.



د کيڼې- او ښي منحني(کږې) ترمنځ باید د بایسکل اندل سیده ولاړ وي(عمود وي)، چې دا د اندل بدلون دی له کيڼې لوري و ښی لورې ته. دا د کيڼې او ښی منحني ترمنځ اوړيدنه ياد انعطاف ټکی بلل کيږي.

تاسو له بايسکل سره په يوه غونډۍ ځغلی. وروسته له هغې، چې له تالي څخه تېرېږي، نو لار په جګېدو پيل کوي. په لومړي سر کي نرم او بيا په نيغه جګيږي، بيا په دې پسې جګوالی ببرته کميږي، چې پاس د غونډۍ په څوکه صفر ارزښت غوره کړي. يو څېرته په غونډۍپورته صفرارزښت ته رسيږي. يو څېرته په لار جګېدنه خورا لويه وه. هلته د انعطاف ټکی پروت دی.	
د بایکل ځغلونکي بل حالت، چې له ښنګ دياګرام څخه يې رانيسو: په غره د بايسکل ځغاستميل ياجګېدنه لومړی کميږي، چې له سره ببرته جګه شي. ددې ترمنځ يوه ساحه شته، د کم جګوالي سره (يوه نسبتاًهواره).ً دې نسبتاً هوار ځای کې د ټوټه کرښې جګېدنه نسبت بل ځای ته کمه ده. هلته اوړونټکی(د انعطاف ټکی) پروت دی.	 له کيڼ و ښي لور ته: جګيدنه کميږي، هواره ، جګيدنه زياتيږي

پوهيږو، چې د يوې تابع لومړی مشتق د تابع د جګوالی تابع دی، چې له ګراف څخه يې جګوالی لوستل کيږي.دا چې د انعطاف ټکی خورا لوي يا خورا کوچنی ټکی کېدی شي، داسې پيدا کيږي، چې د مشتق تابع انخرافي ارزښتونه پيدا کړو.

دا تلنلار همهغسې ده، لکه د پيل تابع **f(x)** لپاره مو ټاکلې. اوس د مشتق تابع **f'(x)** باندې دا کار يا عمل اجرا کيږي.

مخکی له دې چې يو لړ جملی د بحراني(جګ – ټيټ -) ارزښتونو او د انعطاف ټکو په هکله څیړو، غواړو چې دا کليمی تعريف کړو .

دواړه کلمي به د نسبي بحراني ټکي په بڼه کی سره را غونډې شي.

پيژند ۲۰ . ۶ : په يوه چاپيريال x = x0 کی مشتقوړ تابع y = f (x) يو کيڼ- ښی- انعطافتکی په همدې ډول ښی- کيڼ- انعطافتکی لري، که د هغه مشتق هلته يو نسبي جګټکی(عظمي نقطه) په همدې توګه يو نسبي ټيټ ټکی ولري.

جمله ۲۰ . ۱۱ : (د يوه نسبي افراطي ټکي لپاره ضروري شرايط):

که په x0 کی مشتقوړ تابع y = f (x) اکستريموم لرې نو لرو: f ' (x) = 0

دا جمله موږ ته وايي (يادونه ۲دې پرتله شي): چيرته چې $f'(x) \neq 0$ وي نو هلته بحراني ټکی نه شته، د بحراني ټکولپاره يوائې د x0 ځاي په پوښتنه کی راځي، چې د هغي لپاره$f'(x) = 0$ وي ، خو حمتي نه ده چې y = f (x)دې يوبحراني ټکی ولري.

د پورته جملی استعمال په $y' = f'(x)$ څخه لاندې جمله لاس ته راځي:

جمله ۲ . ۱۲ : (د اوړونټکي(انعطاف ټکي) لپاره اړيين شرايط):

که په x = x0 کی دوه واره مشتق وړ تابع y = f (x) هلته يو انعطاف ټکی ولري، نو لاس ته ترې راځي:

دلته هم باور لري (يادونه ۴ دې پرتله شي): چيرته چې $f''(x) \neq 0$ وي ، نو هلته نه شي کيدی چي اوړونټکي موجود وي. مګرچيرته چې $f''(x) = 0$ وي ، اوړونټکی شته کېدلی شي، خو اړيين يا ضرور نه ده چې هلته انعطاف ټکی شته وي.

له پورته څخه لاندې جمله لاس ته راځي.

جمله ۲۰ ، ۱۳:

(د اوړونټکي يا انعطافټکي لپاره پوره کیدونکی شرطونه)که په x = x0 کی درپوار مشتقوړ تابع y = f (x) لپاره وي:

$f'''(x) \neq 0$ او f '' (x) = 0 ,

نو هلته يو انعطاف ټکی مخ ته لرو. که f ''' (x) < 0 وي، نو يو کيڼ- ښي – انعطاف ټکي مخ ته پروت دی او د f ''' (x) > 0 لپاره يو ښی-کيڼ-انعطاف ټکی مخ ته لرو.

شننيزه يا تحليلي بيلګه:

يادونه: موږ د x_E سره افراطي ټکی په نښه کوو او د x_W سره د انعطاف – يا اوړون ټکی په نښه کوو.

1- تابع مساوات د مشتق سره

$$f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + 4x^2 - 4x - 4$$
$$f'(x) = -2x^2 + 8x - 4$$
$$f''(x) = -4x + 8$$
$$f'''(x) = -4$$

$$f(x) = -\frac{2}{3}x^3 + 4x^2 - 4x - 4$$

$$f(2) = -\frac{4}{3}$$

$$P_W\left(2 \mid -\frac{4}{3}\right)$$



2- دويم مشتق صفر کړئ.

$$f''(x)=0 \Leftrightarrow -4x+8=0$$
$$\Rightarrow x_W = 2$$

$f'(x) = -2x^2 + 8x - 4$

Extremwert von f'(x) bei $x_W = 2$



د الماني پښتو: د(x)'f صفرځای په xw=2 کې

3- د انعطاف ټکي له مخې ښوونه، چې ایا د انعطاف ټکی شته دی؟

$$f'''(x_W) = f'''(2) = -4$$

4- په $f(x)$ د انعطاف ځایونه ځای په ځای کولو له لارې د انعطاف ټکي ټاکنه

تابع $F(x_0)$ د گراف او د x - محور ترمنځ سطحه د x_0 په واكوالي(تابعيت) كې تشريح كوي يا ښايي. موږ دا تابع د **سطحې تابع** بولو.

د سطحې پرابلم:

پخوانيو يونانيانو ته دا د منحني څخه رابندې سطحې شميرلو اصول معلوم وو.
دا دمشتق شميرنه، چې موږ ورسره اوس سر او كار لرو، ډېر وروسته (د اوه لسمې پيړۍپاي كې) د طبيعي علومو پوهانو لايبنيځ او نيوټون له خوا رامنځ ته (اختراع) شو.



هره لـه كږوكرښـو رابنـده سطحه پـه پـاى ډېـرو پلونو(قدمونو)، چې په هغې كې فقط يوه يوه كږه كرښه رامنځ ته كيږي.
نورې ټولې رابندوني سيده كرښيزې دي.
هره يوه د سطحې برخه(د بيلګې په توګه دلته $\mathbf{A_2}$) كېدى شي د وضعيه قيمتونو سيستم كې د يوې سطحې په څېر انځور شي، چې د كږې كرښې او پروت محور ترمنځ پرته وي.
كه له كږوكرښو رابند گراف د$f(x)$ متمادي تابع وي، نو پوښتنه رامنځ ته كيږي، چې ايا يو تابع شته چې د افقي(پروت) محورارزښت x_0 په سطحه $F(x_0)$ تنظيم كړي، لكه په پيلبېلګه كې؟
كه داسې يو تابعF شتون ولري، او سطحه $F(x_0)$ چې د x_0 افقي محورارزښت تنظيم وي، نو بايد د افقي(پروت) محور ارزښت $(x_0+\Delta x)$په سطحه $F(x_0+\Delta x)$ باندې تنظيم كړاى شي.



په يوه څلورضلعي(مستطيل) کې د سطحې رابندول:
يا د سطحۍ په کوتيو کې بندول:

 د منحني لاندې په نخښه شوې سطحه د ريښتونې سطحې څخه لويه ده	 $F(x_0+\Delta x)$ ريښتونې سطحه ده.	 د منحني لاندې په نخښه شوې سطحه له ريښتونې سطحې څخه کوچنۍ ده.

که د سطحې پټې (يا کوچنې مستطيلونه)هرڅومره کوچنې شي، په همغه اندازه د اصلي سطحې د مساحت څخه يې توپير کميږي.
دا اړودوالی د رياضياتو له مخې په لاندې توګه فرمول بندي کيدی شي:

$F(x_0)+f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x$	$F(x_0+\Delta x)$	$F(x_0)+f(x_0)\cdot\Delta x$

دا مو دې لاندې نابرابرونونويا نامساواتو ته راهڅوي

$$F(x_0)+f(x_0)\cdot\Delta x \le F(x_0+\Delta x) \le F(x_0)+f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x \quad |\, F(x_0)$$

$$\Leftrightarrow f(x_0)\cdot\Delta x \le F(x_0+\Delta x)-F(x_0) \le f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x \quad |:\Delta x$$

$$\Leftrightarrow f(x_0) \le \frac{F(x_0+\Delta x)-F(x_0)}{\Delta x} \le f(x_0+\Delta x)$$

ليميټ يې نيسو(پوله يې پيدا کوو):

$$\lim_{\Delta x\to 0} f(x_0) \le \lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} \le \lim_{\Delta x\to 0} f(x_0+\Delta x)$$

$$f(x_0) \le F'(x_0) \le f(x_0)$$

$$f(x_0) \le F'(x_0) = f(x_0)$$

نو لرو: $\underline{\underline{F'(x_0)=f(x_0)}}$

دا په دې معنا، چې د سطحې F(x) مشتق د کږې کرښې د تابع ارزښت $f(x_0)$ سره په x_0 ځای کې برابر دی.

....

موږ ليکو:

$$\boxed{F'(x)=\frac{dF(x)}{dx}=f(x)} \quad \text{يا} \quad F'(x_0)=\frac{dF(x_0)}{dx}=f(x_0)$$

که موږ بريالي شو، داسي يو تـابع F(x) پيداکړو چې مشتق يـې د رابندې کړې f(x)تـابع وي، نو F(x) د سطحي تابع دی.
که موږ يو تابع د لومړني تابع څخه رابيل کړويعني مشتق يـې ونيسو، نـو دا مشتق کـول بولو. د يوې سطحي تابع پيدا کول په روښانه توګه ددې کړنلارې برعکس دی.

سرې کړی شي فورمال ووايي:
د يوې سطحې مساحت تابع، چې پيداکړو، دا معنا لري چې انتيګرالول يې شميرو.
د يوه ساده توان تـابع پـه بيلګه د احساس لـه مخـې يـوه لار پيداکيدی شـي، چې دا څنګه ايتيګرالوي.

توانتابع :

$$f(x)=x^3 \quad \Rightarrow f'(x)=3\cdot x^{3-1}=3x^2$$

مشتق په دې معنا چې: اکسپوننت په يو کميږي او پوتنځتابع د زاړه پوتنځ سره ضربيږي.
انتيګرالونه (زياتونه ياورګډونه) په دې معنا چې: اکسپوننت په يو جګيږي اوپوتنځتابع په نوي اګسپوننت وېشل کيږي.

دا همدا اوس ازمايو:

پوتنځتابع:

$$f(x)=3x^2 \quad \Rightarrow F(x)=\frac{3}{2+1}x^{2+1}=\underline{\underline{x^3}}$$

تابع F(x) د f(x) بنسټتابع (لومړنی تابع يا ساده تابع) بلل کيږي، ځکه چې f(x) له F(x) څخه لاس ته ارځي يا را پيداکيږي يا راځيږي.

ناټاکلی انتيګرال

....
و به ګورو، چې نا ټاکلی انتیګرال د لومړنی تابع لپاره بل نوم دی.

که دیوې ورکړ شوې f(x) تابع F(x) لومړنی تابع، یعنې F(x) وپېژنو، نو د یوې ثابتې c د ور جمع کولوسره د f(x) د ټولو لومړنیو توابعو سټ G لاسته راوړو(c په خوښه یو حقیقي عدد دی).
مونږ د f(x) تابع د F(x) لومړنی تابع ټاکنه یا اینتګرلونه هم بولو او ددې له پاره لیکو:

$$\frac{dF}{dx} = f\,(x) \quad \Leftrightarrow \quad dF\,(x) = f\,(x)dx \quad \Leftrightarrow \quad F\,(x) = \int dF\,(x) = \int f\,(x)dx$$

نو لرو : $F(x) = \int f(x)\,d\,x$

دا تراوسه فورمال لیکندود وو. اوس دا ژوند ته رابولو.
مونږ لومړنی توابع پلټو

بیلګه:
لومړنی تابع F(x) دې پیدا شي، چې مشتق یې f(x) = 2x دی.
قاعده داسي ده $F(x) = \int f(x)dx = \int 2x\,dx$

مونږ ازمایو:
$F(x) = x^2$ ځکه چې $F'(x) = 2x = f(x)$
$F(x) = x^2 + 2$ ځکه چې $F'(x) = 2x = f(x)$. په ټولیزه توګه باور لري:
$F(x) = x^2 + C$ ځکه چې په هرحالت کې لرو: $F'(x) = 2x = f(x)$
دواړه توابع په ثابت غړي کې یو له بل توپیر لري. دوی همغه مشتق لري، ځکه چې د مشتق سره
هغه ثابت عدد له منځه ځي. له دې امله باید دې خپلې لار ته تغیر ورکړو.
قاعده(لار): باور لري: $\boxed{\int f(x)d\,x = F(x) + C}$
د لومړنیو توابعو سټ(ډېری)

د بنسټ توابعو لومړني توابع

بیلګه ښایي، چې د تابع f(x) لپاره نه یواځې یو لومړنی تابع بلکې ناپای ډېر توابع شته، چې یواځې ثابت عدد کې یو له بل سره توپیر لري، چې دا د f(x) د لومړنییو توابعو سټ بولو.

....

بیلګه

یو لومړنیتابع $F(x)$ دې پیدا شي، چې د هغه مشتق $f(x) = 3x^2 + 2$ وي.

$F(x) = x^3 + 2x + C$ ، ځکه چې $F'(x) = 3x^2 + 2 = f(x)$

د ټولو لومړنیو توابعو ډېرۍ دې د منحنیو ډلې په څېر انځور شي، چې فقط ثابتو عددونو کې یو له بل توپیر لري.

ددې لپاره دې د ګرافونو لاندې دوه بیلګې وکتل شي.

$F(x) = x^3 + 2x + C$ $\qquad$ $F(x) = x^2 + C$





تمرینونه

لومړنی تابع پیداکړی

لاندی$f(x)$ توابعو ته لومړنی توابع$F(x)$ پیداکړی

اول - $f(x) = x^2$ $\qquad$ دویم - $f(x) = 2x^2$ $\qquad$ دریم - $f(x) = x$

څلورم - $f(x) = -2x$ $\qquad$ پمځم - $f(x) = \frac{1}{2}x^2$ $\qquad$ شپږم - $f(x) = -\frac{1}{4}x$

اوم - $f(x) = x^3$ $\qquad$ اتم - $f(x) = 4x^3$ $\qquad$ نهم - $f(x) = 2$

لسم - $f(x) = x + 1$ $\qquad$ یولسم - $f(x) = x^2 + x - 3$ $\qquad$ دولسم - $f(x) = x^n ; n \in \mathbb{N}$

حلونه

تمرينونه انتيګرال ششميرنه

مفصل حلونه

اول - $f(x)=x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{3}x^3+C$ ازماييښت

$$F'(x)=\frac{1}{3}\cdot 3x^2+0=x^2=f(x)$$

دوري $f(x)=2x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{2}{3}x^3+C$ ازمايښت

$$:F'(x)=\frac{2}{3}\cdot 3x^2+0=2x^2=f(x)$$

دريم - $f(x)=x \Rightarrow F(x)=\frac{1}{2}x^2+C$ ازمايښت

$$F'(x)=\frac{1}{2}\cdot 2x^1+0=x=f(x)$$

څلورم - $f(x)=-2x \Rightarrow F(x)=-x^2+C$ ازمايښت

$$:F'(x)=-2x^1+0=-2x=f(x)$$

پنځم - $f(x)=\frac{1}{2}x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{6}x^3+C$ ازمايښت

$$F'(x)=\frac{1}{6}\cdot 3x^2+0=\frac{1}{2}x^2=f(x)$$

شپږم - $f(x)=-\frac{1}{4}x \Rightarrow F(x)=-\frac{1}{8}x^2+C$ ازمايښت

$$F'(x)=-\frac{1}{8}\cdot 2x^1+0=-\frac{1}{4}x=f(x)$$

اوم - $f(x)=x^3 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{4}x^4+C$ ازمايينت

$$F'(x)=\frac{1}{4}\cdot 4x^3+0=x^3=f(x)$$

اتم - $f(x)=4x^3 \Rightarrow F(x)=x^4+C$ ازمايينت

$$F'(x)=4x^3+0=4x^3=f(x)$$

نهم - $f(x)=2 \Rightarrow F(x)=2x+C$ ازمايينت $: F'(x)=2\cdot 1x^0+0=2=f(x)$

لسم - $f(x)=x+1 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{2}x^2+x+C$ ازمايينت

$$F'(x)=\frac{1}{2}\cdot 2x^1+1x^0+0=x+1=f(x)$$

يولسم - $f(x)=x^2+x-3 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{3}x^3+\frac{1}{2}x^2-3x+C$ ازمايينت

$$: F'(x)=\frac{1}{3}\cdot 3x^2+\frac{1}{2}\cdot 2x^1-3\cdot 1x^0+0=x^2+x-3 \Rightarrow f(x)$$

دولسم - $f(x)=x^n;\ n\in\mathbb{N} \Rightarrow F(x)=\frac{1}{n+1}x^{n+1}+C$ ازمايينت

$$F'(x)=\frac{1}{n+1}\cdot(n+1)x^n+0=x^n=f(x)$$

د ناټاکلي انتيګرال ځخه و ټاکلي انتيګرال ته

ترمخ راوړنه يا وړاندراوړنه

موږ وليدل، چې څنګه يو تابع f(x) ته لومړنۍ تابع F(x) منځ ته راوړی شو، نو ناپای ډېر لومړني توابع شته دی، چې فقط د يوې ورجمع کوونکې ثابتې له امله يو له بل توپير لري.

لرو: تابع $f(x)=3x^2+2$ او د دې د لومړنيو توابعو سټ $f(x)=x^3+2x+C$

پيژند : د ټولو لومړنيو توابعو سټ و يوې تابع f(x) ته ،،ناټاکلی انتيګرال ،، بلل کيږي او ددې له پاره ليکو: $\boxed{\int f(x)dx=F(x)+C}$

د مشتق- او انتيګرالشميرنې ترمنځ اړيکې کيدی شي د لاندې جملې له لارې لاس ته راشي.

جمله(قضيه) : د ناټاکلی انتيګرالشمېرنه د مشتقشمېرنې برعکس انځوروي

$$\frac{d[f(x)]+C}{dx}=[F(x)+C]'=f(x)$$

د تابع د ګراف لاندې او د انتروال [a ; b] تر منځ سطحه دې و ټاکل شي. زموږ په دې پرابلم موږ تر اوسه لاس ته راوړې زده کړې کاروو.





د يوې سطحې تابع شتون مو فکر دي لاندې پوهنې (زده کړې) ته لاربنوده وي:
د يوې سطحې، چې د يوې په پام کې نيولې f(x) تابع ګراف لاندې ده تر x_0 ځای پورې او يوې F'(x) تابع، چې دF(x) تابع مشتق د x_0 ځاي د f تابع د تابع ارزښت سره د x_0 په ځاي کې برابر وي، ترمنځ اړيکي شته دی، يعني $F'(x)=f(x)$



د انتروال [a,b] حدونو ترمنځ سطحې پيداکول د تابع د ګراف سطحو د کمښت ځخه په ځاي (A(b)) b او سطحې په (A(a)) a ځاي کې ،. يعني A= A(b) – A(a)په همدې توګه F= F(b) – F(a) لاس ته راځي.	

په انتروال [a,b] کې د تابعګراف لاندې سطحه د لومړنيو توابعو تفريق دی:

$$\boxed{A = F(b) - F(a) := \int_a^b F(x)dx}$$

دا انتيګرال ټاکلی انتيګرال هم بلل کيږي.
جمله :
دا تر اوسه لاس ته راوړو معلوماتو په بنسټ کړی شو، چې په پيل بيلګه کې راوړې د چمن سطحه وشميرو.
ثابته له تفريق سره لرې کيږي. په عمل کې د دې مسآلې د حل لپاره يوه بله لار ګتوره راوستلې يا ګټوره بنوولې:



$$A=\int_0^{400}\left(\frac{1}{400}x^2+200\right)dx=\frac{1}{1200}x^3+200\cdot x\Big|_0^{400}$$

$$=\frac{1}{1200}\cdot 400^3+200\cdot 400\left[\frac{1}{1200}0^3+200\cdot 0\right]$$

$$=\frac{1}{1200}\cdot 400^3+200\cdot 400=\underline{\underline{133333.\bar{3}}}$$

دريم: د ساده سطحو شميرنه

بيلګه ١ :



په انتروال $0 \le x \le 2$ کې د $f(x)$ او د x -محورترمنځ سطحه غواړو پيداکړو

$$f(x)=x$$

$$\int_0^2 f(x)\,dx=\int_0^2 x\,dx=\frac{x^2}{2}\Big|_0^2$$

$$=\frac{2^2}{2}-\frac{0^2}{2}=\frac{4}{2}-0=\underline{\underline{2\,FE}}$$

FE د سطحې يوون يا واحد دی.



بيلګه ٢ :

په انترو $-2 \le x \le 0$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پيداکړو

$$f(x)=x$$

$$\int_{-2}^0 f(x)\,dx=\int_{-2}^0 x\,dx=\frac{x^2}{2}\Big|_{-2}^0$$

$$=\frac{0^2}{2}-\frac{(-2)^2}{2}=0-\frac{4}{2}=\underline{\underline{-2\,FE}}$$

بيلګه ۳ :

په انټروال : $\le 2-$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پيدا کړو

$$f(x) = x$$

$$\int_{-2}^{2} f(x)\,dx = \int_{-2}^{2} x\,dx = \left.\frac{x^2}{2}\right|_{-2}^{2}$$

$$= \frac{2^2}{2} - \frac{(-2)^2}{2} = \frac{4}{2} - \frac{4}{2} = \underline{\underline{0\ FE}}$$



شميرنه ښايي، چې د x -محور پورته لور ته سطحه زياتيزه يا مثبت ده او د x – محور کښته لور ته سطحه کميزه يا منفي ګڼل کيږي.

په بيلګه ۳ کې سطحې يو بل مخامخ سره له منځه وړي يا پورته کوي.

که فزيکي سطحه غيږو، نو انټيګرال بايد ووېشل شي او ارزښتونه وشميرل شي.

$$\int_{-2}^{2} x\,dx = \left|\int_{-2}^{0} x\,dx\right| + \left|\int_{0}^{2} x\,dx\right| = \left|\left.\frac{x^2}{2}\right|_{-2}^{0}\right| + \left|\left.\frac{x^2}{2}\right|_{0}^{2}\right| = \left|\frac{0^2}{2} - \frac{(-2)^2}{2}\right| + \left|\frac{2^2}{2} - \frac{0^2}{2}\right| = 2 + 2 = \underline{\underline{4\ FE}}$$

بيلګه ۴ :

په انټروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ اود x -محور ترمنځ سطحه غواړو پيدا کړو

$$f(x) = -x^2 + 6x - 5$$



$$A = \int_{1}^{5} f(x)\,dx = \int_{1}^{5} \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$$

$$= \left[-\frac{x^3}{3} + \frac{6x^2}{2} - 5x\right]_{1}^{5}$$

$$= \left(-\frac{5^3}{3} + \frac{6\cdot 5^2}{2} - 5\cdot 5\right) - \left(-\frac{1^3}{3} + \frac{6\cdot 1^2}{2} - 5\cdot 1\right)$$

$$= \left(-\frac{125}{3} + 75 - 25\right) - \left(-\frac{1}{3} + 3 - 5\right)$$

$$= -\frac{125}{3} + \frac{225}{3} - \frac{75}{3} + \frac{1}{3} - \frac{9}{3} + \frac{15}{3} = \frac{32}{3}$$

$$\Rightarrow A \approx \underline{\underline{10,67\ FE}}$$

بېلګه ۵:

په انټروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ اود x -محور ترمنځ سطحه غواړو پيدا کړو $f(x) = x^2 - 6x + 5$  	$A = \int_1^5 f(x)\,dx = \int_1^5 \left(x^2 - 6x + 5\right) dx$ $= \left[\frac{x^3}{3} - \frac{6x^2}{2} + 5x\right]_1^5$ $= \left(\frac{5^3}{3} - \frac{6\cdot 5^2}{2} + 5\cdot 5\right) - \left(\frac{1^3}{3} - \frac{6\cdot 1^2}{2} + 5\cdot 1\right)$ $= \left(\frac{125}{3} - 75 + 25\right) - \left(\frac{1}{3} - 3 + 5\right)$ $= \frac{125}{3} - \frac{225}{3} + \frac{75}{3} - \frac{1}{3} + \frac{9}{3} - \frac{15}{3} = -\frac{32}{3}$ $\Rightarrow A \approx \underline{\underline{-10,67\ FE}}$

جمله: سطحه پروتځای او مخنخښه

$$\int_{x_1}^{x_2} f(x)\,dx > 0 \Leftrightarrow x_1 < x_2$$
او سطحه د x -محور پورته لور ته پرته ده

$$\int_{x_1}^{x_2} f(x)\,dx < 0 \Leftrightarrow x_1 < x_2$$
او سطحه د x -محور کښته لور ته پرته ده.

د انټيګرېشن پولو بدلول:

څه پېښيږي، که د انټيګرېشن پولې سره بدلې شي؟

بېلګه ۶ :

$$f(x) = x$$

$$\int_0^2 f(x)\,dx = \int_0^2 x\,dx = \frac{x^2}{2}\Bigg|_0^2$$

$$= \frac{2^2}{2} - \frac{0^2}{2} = \frac{4}{2} - 0 = \underline{\underline{2\,FE}}$$

FE د سطحې یوون یا واحد دی.

د انتیګرېشن پولې سره بدلوو:

$$= \frac{0^2}{2} - \frac{2^2}{2} = 0 - \frac{4}{2} = \underline{\underline{-2\,FE}}$$

د دې لپاره چې سطحه مثبت یا زیاتیزه شي باید له (-1) سره ضرب شي.

په انټروال $0 \le x \le 2$ کې د $f(x)$ او د x - محورترمنځ سطحه غواړو پیداکړو



بیلګه ۷ :

د انتیګرېشن پولې سره بدلیږي

$$A = \int_5^1 f(x)\,dx = \int_5^1 \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$$

$$= \left[-\frac{x^3}{3} + \frac{6x^2}{2} - 5x\right]_5^1$$

$$= \left(-\frac{1^3}{3} + \frac{6\cdot 1^2}{2} - 5\cdot 1\right) - \left(-\frac{5^3}{3} + \frac{6\cdot 5^2}{2} - 5\cdot 5\right)$$

$$= \left(-\frac{1}{3} + 3 - 5\right) - \left(-\frac{125}{3} + 75 - 25\right)$$

$$= -\frac{1}{3} + \frac{9}{3} - \frac{15}{3} + \frac{125}{3} - \frac{225}{3} + \frac{75}{3} = -\frac{32}{3}$$

$$\Rightarrow A \approx \underline{\underline{-10{,}67\,FE}}$$

په انټروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ اود x -محور ترمنځ سطحه غواړو پیدا کړو

$$f(x) = -x^2 + 6x - 5$$



$$A = \int_1^5 f(x)\,dx = \int_1^5 \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$$

$$\approx \underline{\underline{10{,}67\,FE}}$$

جمله: د پولې بدلولو سره د انتیګرېشن مخنخښه بدلیږي.

$$\boxed{\int_a^b f(x)\,dx = -\int_b^a f(x)\,dx \quad \text{oder} \quad -\int_a^b f(x)\,dx = \int_b^a f(x)\,dx}$$

بیلګه ٨ :

په انټروو $-2 \le x \le 0$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$$\int_{-2}^{0} f(x)\,dx = \int_{-2}^{0} -x\,dx = -\int_{-2}^{0} x\,dx$$

پولې بدلوو

$$= \int_{0}^{-2} x\,dx = \left.\frac{x^2}{2}\right|_{0}^{-2}$$

$$= \frac{(-2)^2}{2} - \frac{0^2}{2} = \frac{4}{2} - 0 = \underline{\underline{2\ FE}}$$

بیلګه ٢ :

په انټروو $-2 \le x \le 0$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$f(x) = -x$



تمرینونه:

انتيګرال شمیرنه II:

لاندې تاکلي انتيګرالونه وشمیرئ.

یو - $\int_{1}^{3} x\,dx$ دوه - $\int_{0}^{3} (x^2 - 1)\,dx$ درې - $\int_{-2}^{2} 4\,dx$ څلور - $\int_{3}^{4} dx$

پنځه - $\int_{0}^{4} (2x - 5)\,dx$ شپږ - $\int_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}} \left(\frac{1}{2}x^2 - 4\right) dx$

اوه- $\int_{-3}^{3} (x^3 + 2x)\,dx$ اته - $\int_{-1}^{2} \left(x^3 - \frac{1}{2}x^2 + 3x - 4\right) dx$

نهه - $\int_{-4}^{4} \left(2x^2 - \frac{1}{8}x^4\right) dx$ لس - $\int_{2}^{3} (3x - 6)^3\,dx$

حلونه

انتيګرال شميرنه II

نتيجې

لومړی- $\int_{1}^{3} x\,dx = \left[\frac{1}{2}x^2\right]_1^3 = \underline{\underline{4}}$

دويم:- $\int_{0}^{3} \left(x^2 - 1\right) dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - x\right]_0^3 = \underline{\underline{6}}$

دريم- $\int_{-2}^{2} 4\,dx = \left[4x\right]_{-2}^{2} = \underline{\underline{16}}$

څلورم- $\int_{3}^{4} dx = \left[x\right]_3^4 = \underline{\underline{1}}$

پنځم- $\int_{0}^{4} (2x - 5)\,dx = \left[x^2 - 5x\right]_0^4 = \underline{\underline{-4}}$

شپږم: $\int_{-\sqrt{6}}^{\sqrt{6}} \left(\frac{1}{2}x^2 - 4\right) dx = \left[\frac{1}{6}x^3 - 4x\right]_{-\sqrt{6}}^{\sqrt{6}} \approx \underline{\underline{-15,085}}$

اووم- $\int_{-3}^{3} \left(x^3 + 2x\right) dx = \left[\frac{1}{4}x^4 + x^2\right]_{-3}^{3} = \underline{\underline{0}}$

اتم- $\int_{-1}^{2} \left(x^3 - \frac{1}{2}x^2 + 3x - 4\right) dx = \left[\frac{1}{4}x^4 - \frac{1}{6}x^3 + \frac{3}{2}x^2 - 4x\right]_{-1}^{2} = \underline{\underline{-\frac{21}{4}}}$

نهم- $\int_{-4}^{4}\left(2x^2-\frac{1}{8}x^4\right)dx=\left[\frac{2}{3}x^3-\frac{1}{40}x^5\right]_{-4}^{4}=\underline{\underline{\frac{512}{15}}}$

لسم- $\int_{2}^{3}(3x-6)^3\,dx=\left[\frac{27}{4}x^4-\frac{162}{3}x^3+\frac{324}{2}x^2-216x\right]_{2}^{3}=\underline{\underline{\frac{27}{4}}}$

مفصل حلونه:

لومړی- $\int_{1}^{3}x\,dx=\left[\frac{1}{2}x^2\right]_{1}^{3}=\frac{1}{2}\cdot 3^2-\frac{1}{2}\cdot 1^2=\frac{1}{2}\cdot 9-\frac{1}{2}\cdot 1=\frac{9}{2}-\frac{1}{2}=\frac{8}{2}=\underline{\underline{4}}$

د ویم-

$$\int_{0}^{3}\left(x^2-1\right)dx=\left[\frac{1}{3}x^3-x\right]_{0}^{3}=\frac{1}{3}\cdot 3^3-3-\left(\frac{1}{3}\cdot 0^3-0\right)=3^2-3-(0)=9-3=\underline{\underline{6}}$$

دریم- $\int_{-2}^{2}4\,dx=[4x]_{-2}^{2}=4\cdot 2-4\cdot(-2)=8+8=\underline{\underline{16}}$

څلورم- $\int_{3}^{4}dx=[x]_{3}^{4}=4-3=\underline{\underline{1}}$

پنځم-

$$\int_{0}^{4}(2x-5)\,dx=\left[x^2-5x\right]_{0}^{4}=4^2-5\cdot 4-\left(0^2-5\cdot 0\right)=16-20-0=\underline{\underline{-4}}$$

شپږم-

$$\int_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}}\left(\frac{1}{2}x^2-4\right)dx=\left[\frac{1}{6}x^3-4x\right]_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}}=\frac{1}{6}\cdot\left(\sqrt{8}\right)^3-4\cdot\sqrt{8}-\left(\frac{1}{6}\cdot\left(-\sqrt{8}\right)^3-4\cdot\left(-\sqrt{8}\right)\right)$$

$$=\frac{1}{6}\cdot 8\cdot\sqrt{8}-4\cdot\sqrt{8}-\left(-\frac{1}{6}\cdot 8\cdot\sqrt{8}+4\cdot\sqrt{8}\right)=\frac{8}{6}\cdot\sqrt{8}-\frac{24}{6}\cdot\sqrt{8}+\frac{8}{6}\cdot\sqrt{8}-\frac{24}{6}\cdot\sqrt{8}$$

$$=-\frac{32}{6}\cdot\sqrt{8}=\underline{\underline{-\frac{16}{3}\cdot\sqrt{8}\approx-15{,}085}}$$

اووم –

$$\int_{-3}^{3}\left(x^3+2x\right)dx=\left[\frac{1}{4}x^4+x^2\right]_{-3}^{3}=\frac{1}{4}\cdot 3^4+3^2-\left(\frac{1}{4}\cdot(-3)^4+(-3)^2\right)$$

$$=\frac{81}{4}+9-\left(\frac{81}{4}+9\right)=\underline{\underline{0}}$$

اتم -

$$\int_{-1}^{2}\left(x^3-\frac{1}{2}x^2+3x-4\right)dx=\left[\frac{1}{4}x^4-\frac{1}{6}x^3+\frac{3}{2}x^2-4x\right]_{-1}^{2}$$

$$=\frac{1}{4}\cdot 2^4-\frac{1}{6}\cdot 2^3+\frac{3}{2}\cdot 2^2-4\cdot 2-\left[\frac{1}{4}\cdot(-1)^4-\frac{1}{6}\cdot(-1)^3+\frac{3}{2}\cdot(-1)^2-4\cdot(-1)\right]$$

$$=\frac{16}{4}-\frac{8}{6}+\frac{12}{2}-8-\left[\frac{1}{4}\cdot 1-\frac{1}{6}\cdot(-1)+\frac{3}{2}\cdot 1+4\right]$$

$$=4-\frac{4}{3}+6-8-\left[\frac{1}{4}+\frac{1}{6}+\frac{3}{2}+4\right]$$

$$=2-\frac{4}{3}-\frac{1}{4}-\frac{1}{6}-\frac{3}{2}-4=-\frac{24}{12}-\frac{16}{12}-\frac{3}{12}-\frac{2}{12}-\frac{18}{12}=-\frac{63}{12}=\underline{\underline{-\frac{21}{4}}}$$

نهم: مفصل حل(اوبيونه):

$$\int_{-4}^{4}\left(2x^2-\frac{1}{8}x^4\right)dx=\left[\frac{2}{3}x^3-\frac{1}{40}x^5\right]_{-4}^{4}=$$

$$=\frac{2}{3}\cdot 4^3-\frac{1}{40}\cdot 4^5-\left[\frac{2}{3}\cdot(-4)^3-\frac{1}{40}\cdot(-4)^5\right]$$

$$=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}-\left[\frac{2}{3}\cdot(-64)-\frac{1}{40}\cdot(-1024)\right]$$

$$=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}-\left[-\frac{128}{3}+\frac{1024}{40}\right]=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}+\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}$$

$$=\frac{256}{3}-\frac{2048}{40}=\frac{256}{3}-\frac{256}{5}=\frac{1280}{15}-\frac{768}{15}=\underline{\underline{\frac{512}{15}}}$$

لسم:

$$\int_{2}^{3}(3x-6)^3\,dx=\int_{2}^{3}(3x-6)^2\cdot(3x-6)\,dx=\int_{2}^{3}\left(9x^2-36x+36\right)\cdot(3x-6)\,dx$$

$$=\int_{2}^{3}\left(27x^3-162x^2+324x-216\right)dx$$

$$=\left[\frac{27}{4}x^4-\frac{162}{3}x^3+\frac{324}{2}x^2-216x\right]_{2}^{3}$$

$$=\frac{27}{4}\cdot 3^4-\frac{162}{3}\cdot 3^3+\frac{324}{2}\cdot 3^2-216\cdot 3-\left[\frac{27}{4}\cdot 2^4-\frac{162}{3}\cdot 2^3+\frac{324}{2}\cdot 2^2-216\cdot 2\right]$$

$$=\frac{2187}{4}-1458+\frac{2916}{2}-648-108+\frac{1296}{3}-648+432$$

$$=\frac{2187}{4}-1458+1458-648-108+432-648+432$$

$$=\frac{2187}{4}-540=\frac{2187}{4}-\frac{2160}{4}=\underline{\underline{\frac{27}{4}}}$$

د توابعو ترمنځ سطحه

له دوه ګرافونو څخه رابندې سطحې د مساحت شميرنه:

ننوتنه: د يوه ډنډ يا يوه بند څېره دې دلته راوړل شي يا ديوه پټي چې له ګړو پولو را بند وي.

فعاليت:

- که داسې يو ډنډ ولرو، نو فکر وکړئ، چې د دې ډنډ مساحت څنګه وشمېرو؟

په څنو پوښتنو کې د سطحې مساحت شمېرل کيږي، چې د دوه توابعو ګرافونو ترمنځ پرته ده. دا ډول د سطحې مساحت کېدى شي د تاکلو اينتګرالونو د کمښت له لارې و شمېرل شي. که دواړه ګرافونه د x-محور پورته لور ته پراته وي،نو د لاندې شيما څخه مخ ته ځو :



$$A = A_1 - A_2$$

د اينتګرال جوړونه:

$$\int_0^3 f(x)dx = \int_0^3 (x^2 - 2x + 2)dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - x^2 + 2x\right]_0^3 = \frac{1}{3}\cdot 27 - 9 + 2\cdot 3 = 9 - 9 + 6 = \underline{\underline{6}}$$

$$\int_0^3 g(x)dx = \int_0^3 (-x^2 + 4x + 2)dx = \left[-\frac{1}{3}x^3 + 2x^2 + 2x\right]_0^3 = -\frac{1}{3}\cdot 27 + 2\cdot 9 + 2\cdot 3 =$$
$$= -9 + 18 + 6 = \underline{\underline{15}}$$

دا چې د دوه ګرافونو ترمنځ سطحه بايد تل مثبت وي،نو له لوي ارزښت څخه کووچنی ارزښت بايد کم شي.

$$A = \int_0^3 g(x)dx - \int_0^3 f(x)dx = 15 - 6 = \underline{\underline{9}}$$

لکه چې پوهيږو، د يوې سطحې مخنښنه ددې په واک کې ده، چې ايا سطحه د **x** - محور پورته لور ته پرته ده او که کښته لور ته. موږ ځېږو، چې ايا دا تاثيرات په پورتنی بيلګه کې پراته دي او که نه. موږ سطحه د **y** -محور په درې واحدونو(يوونونو) کښته لورته بيايو او سطحې نوې شمېرو.



که د ليد له مخې قضاوت وکړو،نو د ټولو لاس ته راوړنه به برابره وي.

د x–ارزښت غوځتکي هم او له دې سره د انتيګرال حدونه بې تغيره پاتيږي.

$$g(x) = -x^2 + 4x - 1 \quad \text{و} \quad f(x) = x^2 - 2x - 1$$

ځای په ځای کونه:

$$A=\int_0^3 f(x)dx-\int_0^3 g(x)dx=\int_0^3 (f(x)-g(x))\,dx$$

د $f(x)-g(x)=2x^2-6x$ سره کيږي:

$$A=\int_0^3 (2x^2-3x^2)\,dx=\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3=\frac{2}{3}\cdot 27-3\cdot 9=18-27=\underline{\underline{-9}}$$

دا چې د دوه منحنيو ترمنځ سطحه فزيکي سطحه ښايي، بايد لاس ته راوړنه يو مثبت عدد وي.

دا د مطلق ارزښت له لارې ترلاسه کوو.

$$A=\left|\int_0^3 (2x^2-6x)\,dx=\left|\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3\right|=\left|\frac{2}{3}\cdot 27-3\cdot 9\right|=|18-27|=|-9|=\underline{\underline{9}}\right|$$

د دې متود تولیزه ونه(عموميت) :

<table>
<tr>
<td>د دوه ګرافونو ترمنځ سطحه:

که يوه سطحه د يوې پورته او يوې کښته منحني څخه رابنده وي، چې تابع f(x) او تابع g(x) پورې اړه و لري، نو دا له دې رابنده سطحه په لاندې ډول شمېرل کيږي.

$A=\left|\int_a^b [f(x)-g(x)]dx\right|$</td>
<td></td>
</tr>
</table>

د انتیګرالوني حدونه a او b د x – محور د دواړو ګرافونو د وضعیه قېیمتونو غوڅېټکي دي.

تمرینونه:

د توابعو ګرافونو تر منځ سطحه.

د لاندې فنکشنونو(توابعو) ترمنځ سطحه وټاکئ او دواړه ګرافونه په یوه پروتولاړ سیستم کې وکاږئ. شمیرل شوې سطحې کرښه کرښه کړئ.

لومړی- $f(x) = x^2 - x - 6\,;\; g(x) = 4x - 10$

دویم- $f(x) = -\frac{1}{2}x^2 + \frac{5}{2}x + 3\,;\; g(x) = 3x$

دریم - $f(x) = 0{,}75\left(x^2 - 5x + 4\right);\; g(x) = 0{,}75x + 3$

څلورم- $f(x) = x^2 + 5x + \frac{9}{4}\,;\; g(x) = -\frac{3}{2}x - \frac{21}{4}$

پنځم - $f(x) = (x-2)^2 - 4\,;\; g(x) = x - 1$

شپږم- $f(x) = x^2 - 4x + 1;\; g(x) = -x^2 + 2x + 1$

اووم- $f(x) = \frac{3}{2}x^2 - 6x + 3\,;\; g(x) = \frac{1}{2}x^2 - 2x$

اتم - $f(x) = x^2 + 3x\,;\; g(x) = 0{,}5x^2$

نهم- $f(x) = 0{,}5x^2 - 2x - 1;\; g(x) = 2x^2 + 2x + 1$

لسم- $f(x) = -0,5x^2 + 2\,;\ g(x) = -\frac{1}{9}(x-1)^2 + 1$

مفصل جلونه يا اوبيوني

$$f(x) = x^2 - x - 6\,;\ g(x) = 4x - 10$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 5x + 4 = 0 \Leftrightarrow x_1 = 1 \text{ und } x_2 = 4$$

لومړی –
$$A = \left|\int_1^4 [f(x) - g(x)]\,dx\right| = \left|\left[\frac{1}{3}x^3 - \frac{5}{2}x^2 + 4x\right]_1^4\right|$$
$$= \left|\frac{1}{3}\cdot 4^3 - \frac{5}{2}\cdot 4^2 + 4\cdot 4 - \left[\frac{1}{3}\cdot 1^3 - \frac{5}{2}\cdot 1^2 + 4\cdot 1\right]\right| = \underline{\underline{4,5}}$$

د دواړ ګرافونو ترمنځ سطحه 4,5 FE (FE به له دې وروسته او د مخه د سطحي واحد يا يوون وي)ده.



دويم -

$$f(x) = -\frac{1}{2}x^2 + \frac{5}{2}x + 3;\ g(x) = 3x$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}x^2 - \frac{1}{2}x + 3 = 0 \Leftrightarrow x_1 = -3 \text{ und } x_2 = 2$$

$$\int_{-3}^{2}\left[f(x) - g(x)\right]dx = \left[-\frac{1}{6}x^3 - \frac{1}{4}x^2 + 3x\right]_{-3}^{2}$$

$$= -\frac{1}{6}\cdot 2^3 - \frac{1}{4}\cdot 2^2 + 3\cdot 2 - \left[-\frac{1}{6}\cdot(-3)^3 - \frac{1}{4}\cdot(-3)^2 + 3\cdot(-3)\right] = \frac{125}{12} \approx \underline{\underline{10{,}417}}$$

د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 10,417 FE ده.

يادونه: سرى کرى شي چې شميرنه بې له مطلق ارزښت مخ ته بوزي، که سرى له نتايجو يا لاس ته راوړنو، که منفي ارزښت ولري، مطلق ارزښت جوړ کړي.



درېم –

$$f(x) = 0,75\left(x^2 - 5x + 4\right) = 0,75x^2 - 3,75x + 3\,;\; g(x) = 0,75x + 3$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow 0,75x^2 - 4,5x = 0 \Leftrightarrow x_1 = 0 \text{ und } x_2 = 6$$

$$\int_0^6 [f(x) - g(x)]\,dx = \left[\frac{0,75}{3}x^3 - \frac{4,5}{2}x^2\right]_0^6 = \frac{0,75}{3}\cdot 6^3 - \frac{4,5}{2}\cdot 6^2 = -27$$
$$A = \left|\int_0^6 [f(x) - g(x)]\,dx\right| = |-27| = \underline{\underline{27}}$$

د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 27 FE ده.



ځلورم –

$$f(x) = x^2 + 5x + \frac{9}{4}\,;\; g(x) = -\frac{3}{2}x - \frac{21}{4}$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 + \frac{13}{2}x + \frac{15}{2} = 0 \Leftrightarrow x_1 = -5 \text{ und } x_2 = -\frac{3}{2}$$

او $x_2 = -\frac{3}{2}$

$$\int_{-5}^{-\frac{3}{2}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3 + \frac{13}{4}x^2 + \frac{15}{2}x\right]_{-5}^{-\frac{3}{2}}$$

$$= \frac{1}{3}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)^3 + \frac{13}{4}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)^2 + \frac{15}{2}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right) - \left[\frac{1}{3}\cdot(-5)^3 + \frac{13}{4}\cdot(-5)^2 + \frac{15}{2}\cdot(-5)\right] = -\frac{343}{48}$$

$$A = \left|\int_{-5}^{-\frac{3}{2}} [f(x)-g(x)]\,dx\right| = \left|-\frac{343}{48}\right| \approx \underline{\underline{7{,}146}}$$



د دواړ ګرافون ترمنځ سطحه نږدې 7,146 FE ده.

پنځم -

$$f(x) = (x-2)^2 - 4 = x^2 - 4x\ ;\ g(x) = x - 1$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 5x + 1 = 0 \Leftrightarrow x_1 = \frac{5}{2} - \sqrt{\frac{21}{4}} \text{ und } x_2 = \frac{5}{2} + \sqrt{\frac{21}{4}}$$

$$\int_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - \frac{5}{2}x^2 + x\right]_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}}$$

$$= \frac{1}{3}\cdot\left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^3 - \frac{5}{2}\cdot\left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^2 + \left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)$$

$$-\left[\frac{1}{3}\cdot\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^3-\frac{5}{2}\cdot\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^2+\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)\right]=-\frac{7}{2}\cdot\sqrt{21}\approx-16{,}039$$

$$A=\left|\int_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}}\left[f(x)-g(x)\right]dx\right|=\left|-\frac{7}{2}\cdot\sqrt{21}\right|\approx\underline{\underline{16{,}039}}$$



د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه نږدې يا څه ناڅه 16,039 FE ده.

شيړم –

$$f(x)=x^2-4x+1;\ g(x)=-x^2+2x+1$$

$$f(x)-g(x)=0\Leftrightarrow 2x^2-6x=0\Leftrightarrow x_1=0 \text{ und } x_2=3$$

$$\int_0^3\left[f(x)-g(x)\right]dx=\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3=\frac{2}{3}\cdot3^3-3\cdot3^2=-9$$

$$A=\left|\int_0^3\left[f(x)-g(x)\right]dx\right|=|-9|=\underline{\underline{9}}$$

	د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 9 FE ده.

اووم –

$$f(x) = \frac{3}{2}x^2 - 6x + 3\,;\; g(x) = \frac{1}{2}x^2 - 2x$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 4x + 3 = 0 \Leftrightarrow x_1 = 1 \text{ und } x_2 = 3$$

$$\int_1^3 [f(x) - g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x\right]_1^3$$

$$= \frac{1}{3}\cdot 3^3 - 2\cdot 3^2 + 3\cdot 3 - \left[\frac{1}{3}\cdot 1^3 - 2\cdot 1^2 + 3\cdot 1\right] = -\frac{4}{3}$$

$$A = \left|\int_1^3 [f(x) - g(x)]\,dx\right| = \left|-\frac{4}{3}\right| = \underline{\underline{\frac{4}{3}}} \approx 1{,}333$$

	د دواړو ګرافونو ترمنځسطحه څه ناڅه يا نږدې 1,333 FE ده.

اتم -

$$f(x) = x^2 + 3x \; ; \; g(x) = 0,5x^2$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow 0,5x^2 + 3x = 0 \Leftrightarrow x_1 = -6 \text{ und } x_2 = 0$$

$$\int_{-6}^{0} [f(x) - g(x)]\, dx = \left[\frac{0,5}{3}x^3 + \frac{2}{3}x^2\right]_{-6}^{0} = -\left[\frac{0,5}{3}\cdot(-6)^3 + \frac{3}{2}\cdot(-6)^2\right] = -18$$
$$A = \left|\int_{-6}^{0} [f(x) - g(x)]\, dx\right| = |-18| = \underline{\underline{18}}$$



د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 18 FE ده.

نهم -

$$f(x) = 0,5x^2 - 2x - 1; \; g(x) = 2x^2 + 2x + 1$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -1,5x^2 - 4x - 2 = 0 \Leftrightarrow x_1 = -2 \text{ und } x_2 = -\frac{2}{3}$$

$$\int_{-2}^{-\frac{2}{3}} \left[f(x)-g(x)\right] dx = \left[-\frac{1,5}{3}x^3 - 2x^2 - 2x\right]_{-2}^{-\frac{2}{3}}$$

$$= -\frac{1,5}{3}\cdot\left(-\frac{2}{3}\right)^3 - 2\cdot\left(-\frac{2}{3}\right)^2 - 2\cdot\left(-\frac{2}{3}\right) - \left[-\frac{1,5}{3}\cdot(-2)^3 - 2\cdot(-2)^2 - 2\cdot(-2)\right]$$

$$= \frac{16}{27} \approx 0,593$$

ددواړو ګرفاون ترمنځ سطحه نږدې 0,593 FE ده.



لسم-

$$f(x) = -0,5x^2 + 2;\ g(x) = -\frac{1}{9}(x-1)^2 + 1 = -\frac{1}{9}x^2 + \frac{2}{9}x + \frac{8}{9}$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{7}{18}x^2 - \frac{2}{9}x + \frac{10}{9} = 0 \Leftrightarrow x_1 = -2 \text{ und } x_2 = \frac{10}{7}$$

$$\int_{-2}^{\frac{10}{7}} \left[f(x)-g(x)\right] dx = \left[-\frac{7}{54}x^3 - \frac{1}{9}x^2 + \frac{10}{9}x\right]_{-2}^{\frac{10}{7}}$$

$$= -\frac{7}{54}\cdot\left(\frac{10}{7}\right)^3 - \frac{1}{9}\cdot\left(\frac{10}{7}\right)^2 + \frac{10}{9}\cdot\frac{10}{7} - \left[-\frac{7}{54}\cdot(-2)^3 - \frac{1}{9}\cdot(-2)^2 + \frac{10}{9}\cdot(-2)\right]$$

$$= \frac{128}{49} \approx 2,612$$

	ددواړو ګرافونو ترمنځ سطحه نږدې 2,612 FE ده.

انتيګرال د منځ- ارزښت په حيث يا توګه

f(x)د [a ; b] په انتروا کې انتيګرال د منځ ارزښت په تګه(حيث)

د يوه ازاد غونډوسکې وهلو فکشن f(x)ګراف په فوټبال لوبه کې په نږدې توګه د غونډوسکې (کرې) الوتنو کرړه يا منحنې ده.

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$



د غونډوسکې(کرې) وهلو يا شوټ ځخه وروسته د7 m او ترمنځ 16 m دغونډوسکې کرړه کوم د الوتنې منخنې جګوالى لرې؟

لومړى د دې ورشو لپاره ا رزښت جدول جوړوو.

x_i	7	8	9	10	11	12	13	14	15	16
$f(x_i)$	1,872	2,222	2,531	2,778	2,941	3	2,934	2,722	2,344	1,778

د شمیرل شووفنکشن ارزښتونو f(x) منځ- ارزښت فرمول $\overline{f(x)}=\frac{1}{n}\sum_{i=1}^{n}f(x_i)$ جوړېږي.
زموږ د بیلګې لپاره $n = 10$ دی،، نو باور لري:

$$\overline{f(x)}=\frac{1}{10}\sum_{i=1}^{10}f(x_i)$$
$$=\frac{1}{10}\cdot(1{,}872+2{,}222+2{,}531+2{,}778+2{,}941+3+2{,}934+2{,}722+2{,}344+1{,}778)$$
$$=\frac{25{,}122}{10}=2{,}512$$

له دې سره غونډوسکه په انتروال [7 ; 16]کې منځني د 2,512 m الوتنجګوالی لري. که سرې دا تلنه په شډلو یا نریو پلونو(قمونو) واخلي، نو د منځي ارزښت بله لاس ته راوړنه به ترې را ووځي یا لاس ته راشي.

د x -ارزښتونو 7; 10; 13; 16 سره د منځني ارزښت لپاره به 2,34 m لاس ته راغلي وای.

د x -ارزښتونو ..... ;7; 7,5; 8; 8,5 سره د منځنی ارزښت لپاره به 2,555 m لاس ته راغلي وای.

په روښانه تګه لیدل کیږي، چې هرڅومره x -پلونه نري واخستل شي په همغه اندازه منځنی ارزښت ټیک لاس ته راوړل کیږي.

دا تلنلار د ټاکلي انتیګرال له لارې غواړو غوره کړو:
للومړی نیسو، چې فنکشن f(x) په انتروال [a;b] کې تعریف دی یا پیژند لري او زیاتیز یا مثبت. فنکشن د انتروال[a;b] په منځکي کوم ارزښت غوره کوي؟

ټاکلی اتيګرال $\int_a^b f(x)dx$

په انتروال [a;b] کې د فنکشن د ګراف لاندې سطحه انځوروي.

مونږ اوس د دې په مخ د ولاړکوډيز يا مستطيل ډوله، له دې سطحې سره برابره کرښيزه سطحه ، په لاندې ډول ږدو:



د ولاړکوډيز يا مستطيل پرت ولاړډوله(-عمودي) اړخ د انتروال[a;b] د اوږدوالي سره يعنې b-a د سره برابر دی.

داروښانه کيږي، که چيرې د فنکشن f(x) منځ- ارزښت په انتروال [a;b] کې په پورته کرښونه کې د ولاړ کوډيز د جګوالي په څير تعريف شي.

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{b-a}\int_a^b f(x)\,dx$$

د فنکشن f(x) منځ- ارزښت

$$\bar{x} = \frac{1}{n}\sum_{i=1}^{n} x_i$$

د يوه دا تا لړۍ سره په پرتله کونه

دا زمونږ په بيلګه باندې په دې معنا دی:

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{b-a}\int_a^b f(x)\,dx \text{ mit } a = 7 \text{ und } b = 16 \text{ folgt:}$$

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{16-7}\int_7^{16}\left(-\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2\right)dx = \frac{1}{9}\left[-\frac{1}{4\cdot 288}x^4 + \frac{1}{3\cdot 16}x^3\right]_7^{16}$$

$$= \frac{1}{9}\left(\left[-\frac{1}{1152}\cdot 16^4 + \frac{1}{48}\cdot 16^3\right] - \left[-\frac{1}{1152}\cdot 7^4 + \frac{1}{48}\cdot 7^3\right]\right) = \underline{\underline{2,598}}$$

بال به له دې سره په انتروال [7 ; 16] کې د 2,598 m منځنی جګوالی لرودي.

ټاکلې انتیګرال له دې سره د جمعې یا زیاتون د کلمې تل پاتې ټولنیزوالی کیږي. دا پهدې معنا، چې سړی هرڅومره کوچني x - پلونه واخلي، همغومره سړی د فنکشن منځ ارزښت ته نږدې راځي. د زاتونو یا د جمعې د اجزاوو کا اعضاوو ګڼون یا تعداد زیاتیږي یا لوییږي.

انالیزی

--اکسپوننشل توابع او e - توابع

پیل

تراوسه راته معلومو توابعو کې توابع رامنځ ته کيده، چې اکسپوننتونه یا جګعددونه يې عددونه وو:

توانتوابع: $f(x) = a \cdot x^q$ د $q \in \mathbb{R}$: سره .

بیلګه: $f(x) = 2x^3$

توابع د مثبت بنسټ سره، د هغه سره چې خپلواکه متحوله x د اکسپوننت یا جګعدد سره رامنځ ته کيږي، اکسپوننشل تابع بلل کيږي.

د اکپوننشل تابع لپاره بیلګه:

$f_1(x) = 1{,}5^x \quad f_2(x) = 2^x \quad f_3(x) = 2{,}5^x \quad f_4(x) = e^x \quad f_5(x) = 3^x$

اعداد **e** ; **2,5** ; **2** ; **1,5** او **3** بنسټ جوړوي او x اکسپو ننت یا جګعدد(جګګې).

بنسټ **e** د اويلر عدد باندې مشهور دی او فقريبي ارزښت يې 2,71828 دی.

دا به وروسته هم به نورو راوړونو کې غوره رول ولوبوي.



د اکپوننشل تابع ګراف د مختلفو بنسټونو سره.

دا سور رنګه انځور د اړونده اکسپوننشل تابع دe بنسټ پورې اړه لري، چې e تابع هم بلل کيږي.

پام ته راتلنه يا برېښيدنه:

- ټول په وضعيه قيمتسيستم کې ګرافونه د y - محور د (1 | 0) Py په ټکي کې غوڅوي (قطع کوي)

- د منفي x - ارزښت لپاره ټول ګرافونه د x - محور ته نزدې کيږي. د منفي x - محور په داسي حالتونو کې اسيمپتوت بلل کيږي. داسي هم ويلای شو، چې په داسي حالاتو کې د منفي x - رازښت ځان اسيمپتوتيکي د x - محور ته ورنزدې کوي.

په رياضيکي يا شمېرپوهنيز ډول داسي ليکو : $\lim_{x\to-\infty} a^x = 0$

د مثبت - ارزښت لپاره د تابع ارزښت له ټول پولو اوړي يعني د ناپای په لور ځي.

شميرپوهنيز ليکدود يي داسي دی: $\lim_{x\to\infty} a^x = \infty$

- په وضعيه قيمتسيستم کې انځورشويو ګرافونو ټول تابع ارزښتونه مثبت دي، ځکه چې د اکسپوننشل توابعو لپاره مثبت اجازه لري.

دا په دې معنا چې په داسې حالت کې صفرځايونه نه شته.

پېژند(هعريف)

د $f(x) = a^x$ r تابع د $a \in \mathbb{R}^+ \setminus \{1\}$ او $x \in \mathbb{R}$ سره اکسپوننشل تابع د a په بنسټ بلل کيږي.

دا د **e** عدد له کومه منځ ته راځي؟

د ربحې شمېرنې څخه دې عدد e منځ ته راشي يا وده وکړي.

دلته په هر د فرمولونو ټولګه کې خوندي د ربحې فرمول استعماليږي.

n: د ربحې د برخې ګنون يا تعداد : K0 پيلپانګهKn دn : کاله ورسته د ربحې برخه p : د ربحې بنسټ يا بنه په %	$n:$ K_0 K_n $p:$ $K_n = K_0\left(1+\frac{p}{100}\right)^n$

په کلنۍ ګټهٔ دې ګټه ونه دوه برابره شي. پس د ګټې بنه له p = 100% ټاکل کيږي داسې چې p/100 = 1 وي.

په يو کال د ډېرو د ګټې برخو سره، پانګه د ګټې-ګټې سره ډېر ځله په ګټه اچول کيږي.. دلته د ګټې پينه يا ببخ د ګټېبرخو باندې و وېشل شي.

د انګې په ګټه اچول د کال روسته د $p = 100\% \Rightarrow \frac{p}{100} = 1$ سره

$$K_1 = K_0 + K_0 \cdot \frac{p}{100} = K_0\left(1+\frac{p}{100}\right)^1 = K_0(1+1)^1 = \underline{\underline{K_0 \cdot 2}}$$

د پانګې ګټونه د یو کال وروسته په نیمکلنه ګټونه د $t\ \frac{p}{2\cdot 100}=\frac{1}{2}$ سره.

$$K_2=K_0\left(1+\frac{1}{2}\right)^2=\underline{\underline{K_0\cdot 2,25}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په میاشتنۍ ګټونه د $t\ \frac{p}{12\cdot 100}=\frac{1}{12}$ سره

$$K_{12}=K_0\left(1+\frac{1}{12}\right)^{12}=\underline{\underline{K_0\cdot 2,61\ldots}}$$

د پانګې په ګټې اچونه له یو کال ورسته په روځنۍ ګټونه د $\frac{p}{360\cdot 100}=\frac{1}{360}$ سره

$$K_{360}=K_0\left(1+\frac{1}{360}\right)^{360}=\underline{\underline{K_0\cdot 2,7145\ldots}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په ساعته ګټونه د $\frac{p}{8640\cdot 100}=\frac{1}{8640}$ سره.

$$K_{8640}=K_0\left(1+\frac{1}{8640}\right)^{8640}=\underline{\underline{K_0\cdot\underbrace{2,7181\ldots}_{\approx e}}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په nګټونه د $\frac{p}{n\cdot 100}=\frac{1}{n}$ سره.

$$K_n=K_0\left(1+\frac{1}{n}\right)^n$$

که په هره لحظه میاشتکي په کته واچول شي (یعني په ناپای ډېرو کټونو ناپای $n \to$) نو د یو کال وروسته لاندې پانګه لاس ته راوړو:

$$\lim_{n\to\infty} K_n = \lim_{n\to\infty} K_0 \left(1+\frac{1}{n}\right)^n = K_0 \cdot \lim_{n\to\infty} \left(1+\frac{1}{n}\right)^n = K_0 \cdot e$$

دا په دې معنا چې پانګه د e ضریب سره ډېرځله شوه،

د e- تابع $f(x) = e^x$ بنستیز خویونه



تابع ارزښت

$$f(0) = 1$$
$$f(1) = e \approx 2,72$$
$$f(2) = e^2 \approx 7,39$$
$$f(-1) = \frac{1}{e} \approx 0,37$$
$$f(-2) = \frac{1}{e^2} \approx 0,14$$

پوله ارزښت

$$\lim_{x\to-\infty} e^x = 0 \qquad \lim_{x\to\infty} e^x = \infty$$

$f(x) = e^x > 0$ د $\forall x \in \mathbb{R}$

لپاره

د e - تابع صفرځای نه لري، د انحراف ټکي نه لري او هم د انعطاف ټکي نه لري

د e - تابع هندارونه یا معکوسونه، راکښنه او غزونه

په ورته توګه، لکه نورمال پارابولونه د مطلوبه عملیو سره نور پارابولونه منځ ته راځي، کیدی شي د e - توابعو د ګراف د راکښني، غزوني او هندارونې سره نور اکسپوننشل توابع وګټل یا لاس ته راوړل شي.

هندارونه یا معکوسونه:

<table>
<tr>
<td>
</td>
<td>د y -محور باندې منعکس شوې
$f_2(x) = e^{-x}$
دy - محور سره غوڅټکی
$f_2(0) = e^{-0} = e^0 = 1 \Rightarrow P_y(0|1)$
ژی پوله ارزښت
$\lim\limits_{x\to -\infty} e^{-x} = \infty$ $\lim\limits_{x\to \infty} e^{-x} = 0$
کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافټکي نه شته</td>
</tr>
</table>

د x په محور هندارونه



$f_2(x) = -e^x$

د y– محور سره غوځتکی

$f_2(0) = -e^0 = -1 \Rightarrow P_y(0|-1)$

ژی یا د غاړي پوله ارزښت

$\lim_{x \to -\infty}(-e^x) = 0$

$\lim_{x \to \infty}(-e^x) = -\infty$ ،

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او د انعطافټکي نه شته

د **y** په لور راکښنه



په یوه واحد پورته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x + 1$

د y - محور سره غوځتکی

$f_2(0) = e^0 + 1 = 1 + 1 = 2 \Rightarrow P_y(0|2)$

د ژی پوله ارزښت

$\lim_{x \to \infty}(e^x + 1) = \infty \qquad \lim_{x \to -\infty}(e^x + 1) = 1$

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافټکي نه شته

په یوه واحد پورته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x + 1$

د y - محور سره غوخښتکی

$f_2(0) = e^0 + 1 = 1 + 1 = 2 \Rightarrow P_y(0|2)$

د ژی پوله ارزښت

$\lim_{x \to -\infty}(e^x + 1) = 1 \qquad \lim_{x \to \infty}(e^x + 1) = \infty$

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافتکي نه شته



په دوه واحده کښته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x - 2$

د y – محور سره غوخښتکی

$f_2(0) = e^0 - 2 = 1 - 2 = -1 \Rightarrow P_y(0|-1)$

ژی یا د غاړې ارزښت

$\lim_{x \to -\infty}(e^x - 2) = -2 \qquad \lim_{x \to \infty}(e^x - 2) = \infty$

انحرافي او د انعطاف ټکي نه شته

صفرځا په انتروال [0 ; 1] کي.



د **x** محور باندې راکښنه



په یوه واحد کيڼ لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^{x+1}$

د - محور سره غوڅېکی

$f_2(0) = e^1 \approx 2,72 \Rightarrow P_y(0 | e \approx 2,72)$

ژی یا غاړې پوله ارزښت

$\lim_{x\to-\infty}\left(e^{x+1}\right) = 0 \qquad \lim_{x\to\infty}\left(e^{x+1}\right) = \infty$

صفرځایونه، انحرافي -او د انعطاف ټيش نه شته

په یوه واحد ښي لور ته راکښنه



$f_2(x) = e^{x-1}$

د y - محور سره غوڅېکی

$f_2(0) = e^{-1} \approx 0,37 \Rightarrow P_y\left(0 | e^{-1} \approx 0,37\right)$

ژی پوله ارزښت

$\lim_{x\to-\infty}\left(e^{x-1}\right) = 0 \qquad \lim_{x\to\infty}\left(e^{x-1}\right) = \infty$

صفرځایونه، د انحراف ټکي او انعطافټکي نه شته

غزونه (کېښکودنه) د **y** په لور

د ضریب k = 2 سره غزونه

$$f_2(x) = 2 \cdot e^x$$

د **y** - محور سره غوڅونه

$$f_2(0) = 2 \cdot e^0 = 2 \Rightarrow P_y(0|2)$$

ژی پوله ارزښت

$$\lim_{x \to -\infty}\left(2 \cdot e^x\right) = 0 \qquad \lim_{x \to \infty}\left(2 \cdot e^x\right) = \infty$$

د ضریب $k = \frac{1}{2}$ سره کیښکودنه

$$f_3(x) = \frac{1}{2} e^x$$

د **y** - محور سره غوڅتکی

$$f_3(0) = \frac{1}{2} \cdot e^0 = \frac{1}{2} \Rightarrow P_y\left(0 \left| \frac{1}{2}\right.\right)$$

ژی پوله ارزښت

$$\lim_{x \to -\infty}\left(\frac{1}{2} \cdot e^x\right) = 0 \qquad \lim_{x \to \infty}\left(\frac{1}{2} \cdot e^x\right) = \infty$$

صفرځایونه، انحرافتکي او انعطافتکي نه شته.



غزونه (کيښکودنه) د **x** په لور

د ضريب $k=\frac{1}{2}$ سره غزونه

$$f_2(x)=e^{2\cdot x}$$

د **y** - محور سره غوڅونه

$$f_2(0)=e^0=1 \Rightarrow P_y(0|1)$$

ژی پوله ارزښت

$$\lim_{x\to-\infty}\left(e^{2\cdot x}\right)=0 \qquad \lim_{x\to\infty}\left(e^{2\cdot x}\right)=\infty$$

د ضريب 2 سره راکښنه

$$f_3(x)=e^{\frac{1}{2}x}$$

د **y** - محور سره غوڅتکی

$$f_3(0)=e^0=1 \Rightarrow P_y(0|1)$$

ژی پوله ارزښت

$$\lim_{x\to-\infty}\left(e^{\frac{1}{2}x}\right)=0 \qquad \lim_{x\to\infty}\left(e^{\frac{1}{2}x}\right)=\infty$$

صفرځايونه، انحراف ارزښتونه او انعطافتکي نه شته.



د e تابعو هندارونه، راکښنه او غزونه په خوښه یو له بل سره کمبینیر یا نښلول کېدي یعني شمېرنئزې عملیې په اجرا کېدی شي .

د **x** - او **y** – محورونو راکښنه:

$f_1(x) := e^x \qquad f_2(x) := e^{x+2} - 1$



f_1 (x) منحٔ ته راغلی د x په محور د راکښنې له لارې په دوه واحدونو کین لور ته.

د y -محور باندې په یوه واحد د کښته لور ته .

$f_1(x) := e^x \qquad f_2(x) := e^{x-1} + 2$



تمرینونه:

د e - تابع ګرآف

د بنستیزې تابع e^x راکښنه، هندارونه یاانعکاس ، او بنه بدلون وښایاست.

هر تابع ګراف او د بنستیز تابع ګراف په یوه مناسب وضعیه قیمتسیستمکي و کاږی او د محور سره یې غوڅټکی(د تقاطع نقطه) .

د ګراف په مرسته ولولی:

پوله ارزښت یا حد (لیمیت) ، صفرځایونه که شته وي او د انعطاف ټکي.

یادونه: فقط په آنتروآل [10 ; 10-] کې تآبع آرزښتونه په پآم کې ونیسۍ.

Für= د لپاره

اول - $f(x) = e^x ; g(x) = e^{-x}$ für $[-4;4]$ دویم - $f(x) = -e^x$ für $[-5;3]$

دریم - $f(x) = e^{\frac{1}{3}x}$ für $[-4;4]$ څلورم - $f(x) = 2e^{\frac{1}{2}x}$ für $[-4;4]$

پنځم - $f(x) = \frac{1}{2}e^{x+3}$ für $[-5;3]$ شپږم - $f(x) = e^{x-2} - 3$ für $[-4;4]$

اوم - $f(x) = e^{-(x+2)} - 1$ für $[-5;3]$

اتم - $f(x) = 2 \cdot e^{-\frac{1}{2}(x-1)} - 2$ für $[-2;6]$

نهم - $f(x) = -10e^{-\frac{1}{2}(x+4)} + 3$ für $[-4;4]$

لسم - $f(x) = (x-2)e^{\frac{1}{4}x}$ für $[-10;5]$

نتیجي:

د اکسپوننشل تابع تمرینونه

مفصل حل

لومړی - مفصل حل

بنسټیزه تابع $f(x)=e^{x}$

$$f(0)=e^{0}=1\Rightarrow P_y(0|1)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=0;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$$

$f(x)=e^{-x}$ په y په هنداره شوی

$$f(0)=e^{-0}=1\Rightarrow P_y(0|1)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=\infty;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=0$$



دویم - مفصل حل

$f(x)=-e^{x}$ له د -محور سره غوځتکي لاس ته راځي که په x - محور هنداره شي.

$$f(0)=-e^{0}=-1\Rightarrow P_y(0|-1)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=0;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=-\infty$$

صفرځایونه: نه شته

انحرافي ارزښتونه: نه شته

انعطافتکي : نه شته



دريم – مفصل حل

$f(x)=e^{\frac{1}{3}x}$ له e^x دغزوني له لاري د x په لور د ضريب 3 سره لاس ته راځي

$$f(0)=e^0=1 \Rightarrow P_y(0|1)$$
$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=0;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$$

صفرځايونه نه شته

د انحرافي ارزښتونه: شته

انعطافتکي : نه شته



څلورم – مفصل حل

$f(x)=2\cdot e^{\frac{1}{2}x}$ له e^x منځ ته راځي د x په لور د ضريب 2 سره د غزوني له لاري د y په محور د غزوني له لاري د ضريب 2 سره.

$$f(0)=2\cdot e^0=2 \Rightarrow P_y(0|2)$$
$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=0;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$$

صفرځايونه نه شته ه

انحرافي ارزښتونه: نه شته

انعطافتکي: شته



پنځم – $f(x)=\frac{1}{2}\cdot e^{x+3}$ له e^x لاس ته راځي د x په منفي لور د راکښني له لارې په 3 کچواحده، د کيښکودلو له لارې د y په لور ر باندې د ضريب 1/2 سره

$$f(0)=\frac{1}{2}\cdot e^{3}\approx 10$$

$$\Rightarrow P_y\left(0\,|\,\frac{1}{2}\cdot e^{3}\approx 10\right)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=0;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$$

صفرځايونه: نه شته

افراطي ارزښتونه: شته

انعطافټکي: شته

$f(x) := \frac{1}{2}\cdot e^{x+3}$



شپږم – $f(x)=e^{x-2}-3$ له e^x منځ ته راځي د منفي y لور باندې په 3 دسطحي واحده، د x په مثبته لور د راکښني له لارې په 2 سطحي واحده.

$$f(0)=e^{-2}-3\approx -2,86$$

$$\Rightarrow P_y\left(0\,|\,e^{-2}-3\approx -2,86\right)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=-3;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$$

صفرځايونه: په x~3,2

انحرافي ارزښتونه : نه شته

انعطافټکي: نه شته

$f(x) := e^{x-2}-3$



اوم – مفصل حل

$f(x)=e^{-(x+2)}-1$ له e^x منځ ته راځي د y په محور د هنداروني له لارې، د y په منفي لور په یو سطحي واخد. دx په منفي لور په 2 سطحي واحده غزول.

$$f(0)=e^{-2}-1\approx-0,86$$

$$\Rightarrow P_y\left(0\,|\,e^{-2}-1\approx-0,86\right)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=\infty;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=-1$$

صفرځایونه : په x ~-1,8 کې

انحرافي ارزښتونه: نه شته

انعطافټکي: نه شته

$f(x) := e^{-(x+2)} - 1$



اتم — $f(x)=2\cdot e^{-\frac{1}{2}(x-1)}-2$

له e^x منځ ته راځي د y په محور د هنداروني له لارې د y په منفي لور راکښل په 2 واحده. دx په مثبت لور په 1 سطحي واحد راکښل. د y په مثبته لور په 2 واحده غزوني. د x په لور د2 واحده سره

$$f(0)=2\cdot e^{\frac{1}{2}}-2\approx1,3$$

$$\Rightarrow P_y\left(0\,|\,2\cdot e^{\frac{1}{2}}-2\approx1,3\right)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x)=\infty;\ \lim_{x\to\infty} f(x)=-2$$

صفرځایونه : په x~1,2 کې

انحرافي ارزښتونه : شته

انعطافټکي: نه شته

$f(x) := 2\cdot e^{\frac{-1}{2}\cdot(x-1)} - 2$



نهم – $f(x) = -10e^{-\frac{1}{2}(x+4)} + 3$ له e^x منځ ته راځي دy په ممحور هنداروني له اړی د x په محور هنداروني ، د y په مثبته لور په 3 سطحي واحده را کښنه د x په منفي لور په 4 سطحي واحده راکښنه د y په لور غزونه د 10 ضریب سره. د x په لور غزوني د 2 ضریب سره.

$$f(0) = -10e^{-2} + 3 \approx 1{,}65$$

$$\Rightarrow P_y\left(0 \mid -10e^{-2} + 3 \approx 1{,}65\right)$$

$$\lim_{x\to-\infty} f(x) = -\infty;\ \lim_{x\to\infty} f(x) = 3$$

صفرځايونه: په x~-1,6 کې.

انحرافي ارزښتونه: نه شته

انعطافټکي: نه شته

$$f(x) := -10 \cdot e^{\frac{-1}{2}\cdot(x+4)} +$$



لسم – مفصل حل

$$f(x) := (x-2)\cdot e^{\frac{1}{4}\cdot x}$$



کربښیز مساوات u(x) = x - 2 د e- تابع $v(x) = e^{\frac{1}{4}x}$ سره نښلول کیږي. له دې دا

تابع لاس ته راځي: $f(x) = u(x) \cdot v(x) = (x-2)\,e^{\frac{1}{4}x}$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = \infty \qquad \lim_{x\to-\infty} f(x) = 0$$

په x = 2 کې صفرځای په x~-2 کې د انحراف ارزښت په x ~ -6 کې د انعطاف ټکی.

د اکسپوننشل توابعو کارونه یا استعمال

د تآبع مسآوآتو جوړونه

په طبیعت کې يې څیرنه:

د اکپوننشل توابعو مشتق

د تابع مساواتو جوړښت

کولي باکتریا Coli - Bakterien د انسان په کلمو کې کاره سرته رسوي. دوي د کوټې ویش (حجره ویش) له لارې زیاتیږي. و مساعدو شرایطو لاندې دوي په هرو ۲۰ دقیقو کې ځان تجزیه کوي. د غه عملیې لپاره یو ارزښت جدول : او ګراف يې کاږو. دلته د x اووښتوني (متغیره) په دقیقو د وخت لپاره ده.

د y متحوله د باکتریا ګانو د تعداد لپاره ده.

x = Minuten	0	20	40	60	80	100
y = Bakterienzahl	1	2	4	8	16	32

پورته جدول کې : x = دقیقې y = د بکتریاو تعداد



اوس مو دنده داده تابعیزې (د تابعو-) اړیکې د f(x) د یوه مساوات په بڼه وټاکو.

هرې ۲۰ دقیقې د بکتریاو تعداد یا ګڼون دوه برابره کیږي، دا په دې معنا چې دا د ۲۰ دقیقو وروسته نتیجه د دوه سره ضرب شي

لاندې ږدو یا لیکو: $f(x) = 2^{x}$

دلته f(x) د بکتریاو تعداد دی او x د دقیقو تعداد.

د دې تابع مساوات سره د بکتریاو تعداد هره دقیقه دوه برابره کوي.

د بام اوفکر وروسته موږ د تابع مساوات لاندې نتیجې ته رسیږو، چې دا شي حالت ټیک روښانه کوي یا تشریح کوي:

$$f(x) = 2^{\frac{1}{20}x}$$

Probe: $x = 0 \Rightarrow f(0) = 2^0 = 1$; $x = 20 \Rightarrow f(20) = 2^1 = 2$; $x = 40 \Rightarrow f(40) = 2^2 = 4$

ډیروالی، لکه چې دلته مو راووړ ، د اکسپوننشل ودې یا - زیاتوالي په نامه نوموو. یوه تابع چې داسې یوه تلنه تشریح کوي، اکسپوننشل تابع بولو.

تمرینیزې پوښتنې

د اکسپوننشل تابع د تابع مساوات د لاندې شرایطو سره باید څنګه وبرېښي:

الف – د باکتریو تعداد (ګڼون) هر پڅلس دقیقې دوه براپره کیږي.

ب – هر دېرش دقیقې د پاکتریو تعداد درې برابره کېږي.

پ - موږ په مطالعه یا کتلو پیل کوو، چې $n_0 = 1000\,000\,000$ د باکتریو تعداد شته یا موجود وي او تعداد یې هر پنځه څلوېښت دقیقې پنځه برابره کیږي.

ت - د کتلو پیل سره $n_0 = 1000\,000\,000$ باکتریې شته دي او هرې 45 min دقیقې د باکتریو تعداد د $e = 2,718$ په ضریب یا څلووني زیاتیږي.

هر لس دقیقې د n_0 تعداد نیمیږي.

حل :

الف $f(x) = 2^{\frac{1}{15}x}$ ب - $f(x) = 3^{\frac{1}{30}x}$

پ_ $f(x) = 1000\,000\,000 \cdot 5^{\frac{1}{45}x} = 1 \cdot 10^9 \cdot 5^{\frac{1}{45}x}$ ت -

$$f(x) = 100\,000 \cdot e^{\frac{1}{45}x} = 1 \cdot 10^5 \cdot e^{\frac{1}{45}x} \text{ mit } e = 2,718$$

ټ – تعداد یې = منفي دېرېدنه $\text{ا} f(x) = n_0 \cdot 2^{-\frac{1}{10}x}$

پام : توابع چې د زیاتیدو پروسې ښیې، اکسپوننشل توابع بلل کیږي. تولیز تابع مساوات یې دي:

$f(x) = n_0 \cdot a^{k \cdot x}$ د

$n_0 =$ Anzahl zur Zeit $t = 0$; $a \in \mathbb{R}^+$; $k, x \in \mathbb{R}$ ، $0 =$ پ‍ه وخت t تعداد د $= n0$

سره د وخت

اکسپوننشل ډیریدنه یا اکسپوننشل کیدنه د ژوند په زیاتو ورشو ګانو کې کتل کیدای شي:

په بیالوژي کې (د باکتریو ډیریدنه او کمیدنه)

په اوکولوګي کې (د حیواناتو ډیریدنه یا زیږګنده)

په اقتصاد کې (د ربح له لارې د پانګې زیاتیدنه)

په فزیکي او تخنیکي مسائلو کې (د رادیو اکتیو موادو تجزیه)

په روغتیا کې (د دوا اغیزه)

د **e** - تابع ته ځانګړې بیلګې

اکسپوننشل وده کونه

د باکتریا شتون د یوه **e** -تابع وروسته زیاتیږي.

د $n_0 = 2000$ باکتریاګانې شتون په ۴ ساعتونو کې په کوم ارزښت زیاتیږي.

له څومره ساعته وروسته دا باکرتیاوې $f(x) = n_0 \cdot e^{\frac{17\,221}{262\,551} \cdot t}$ د پیل ارزښت= n_0 ،
وخت په ساعت= t سره 10 000 ته ځګیږي؟

د تابع ګراف څنګه بریښي؟

د باکتریاو تعداد له څلور ساعته وروسته:

$$f(x) = n_0 \cdot e^{k \cdot x} \Rightarrow f(4) = 2000 \cdot e^{\frac{17\,221}{262\,551} \cdot 4} = \underline{\underline{2600}}$$

له څو ساعته وروسته دا باکتریا وې 10 000 دي؟

ا ېښونه: $f(x) = 2\,000 \cdot e^{\frac{17\,221}{262\,551} t} = 10\,000$

د دې لپاره چې جګ عدد یا ګڼt وتاکلی شو، نو باید اکسپوننشل مساوات
